# امریکایي چوڼۍ



# او

# استعماري نخښې

Ketabton.com

لیکنه او څېړنه :

محمد هارون خپل شعشعي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# امريکايي چوڼۍ

# او

# استعماري نخښې

د

محمد هارون خپل شعشعي

ليکنه او څېړنه

لندن، ۲۰۱۱ع کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# The Imperialistic Aims of US Military Bases In Afghanistan

By: M. H. Khpal

London, 2011

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چاپ ټول حقوق خوندي دي.

# د کتاب پېژندنه


د کتاب نوم: امریکایي چوڼۍ او استعماري نخشې

لیکنه او څېړنه: محمد هارون خپل

کمپوز: په خپله لیکوال

د پښتنې طرحه او انلاین چاري: مختار احمد احسان –لراوبر کتابتون

www.Larawbar.com


LARAWBAR

این کتاب به لسان دری در سایت لراوبر دات کام قابل دریافت است .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اهداء

دا کتابګوتې هغو زړورو، خپلواکو او سرلوړو هيوادوالو ته اهداء کوم، چې د هر ډول پردو اشغالګرو په وړاندې د ګران افغانستان د خپلواکۍ، پت او ناموس دفاع کيي.

محمد هارون خپل شعشعي

لندن، ۲۰۱۱ع کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست

په افغانستان کې د امریکايي ځواکونو د حضور او دوام اساسي سببونه
امریکایي ځواکونه او د افغانستان د تجزیې کرغېړنه نخشه
په افغانستان کې د امریکا د دایمي ځواکونو مخالفين او پلویان
د امریکايي ځواکونو ننني پلویان: د امریکايي یرغل پروني مخکښان او ستايونکي
امریکایي ځواکونه او د سولې بې ځایه هیله
امریکایي ځواکونه او په افغانستان کې د تنظیمي جګړو د تکرار اندېښنه
د امریکايي ځواکونو نن او سبا
امریکایي ځواکونه او د سیمې د اټومي ځواکو زیاتېدونکی خطر
زموږ په ملي تاریخ کې د خاورې او ناموس ساتنې ویاړلې دودونه
امریکایي ځواکونه او په هیواد کې د سیاسي - اقتصادي ثبات مسأله
د امریکايي ځواکونو د اقتصادي ګټو افسانه
امریکایي ځواکونه او نمایشي لویه جرګه
په افغانستان کې د جرګو تاریخي دود ته یوه کتنه
قانوني لویه جرګه، که عنعنه یي لویه جرګه، که یوه هم نه؟
له امریکايي ځواکونو او نورو استعماري فتنو څخه د ژغورنې لار
انګرېزي «بېس» ته په پښتو او دري کې څه وایو؟
ماخذونه او سرچینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## امريکايي چونۍ او استعماري نخشې

امريکايي پوځ د ۲۰۰۱ عيسوي کال د اکتوبر پر اوومه، زموږ پر ویاړلي هیواد ( افغانستان ) وسله وال يرغل وکړ. د دې يرغل پلمه ظاهراً د القاعدې او طالب واکمنۍ نسکورول وه، خو ويښو او دراکو افغانانو له همغې لومړۍ ورځې څخه د دې ظالمانه برید تر شا د داسي تورو او کرغېړنو لوبو نخشې ليدلې، چي خدای مکړه يوه ورځ به زموږ د پلرو او نيکو دا تاريخي مېنه له لويو خطرو سره مخامخ کړي. دا پوښتنه چي آيا امريکايي استعمارګران او د هغو نور سياسي - پوځي متحدين به په افغانستان او شاوخوا سيمه کي د خپلو ناروا هدفو په عملي کولو بريالي کيږي که يا، دمګړۍ څه روښانه جواب نه لري؛ ځکه تر اوسه لا ډېري لوبي صحنې ته نه دي راغلي؛ مګر په دې ځلانده حقيقت د هر چا سد رسيږي، چي زموږ په سرلوړي او خپلواک هیواد کي د امريکا د دايمي چونيو يا لښکرکوټو جوړول، د دغه راز استعماري نخشو د تحقق په لار کي، تر ټولو لومړی او اساسي ګام دئ.

څو مياشتي مخکي مي په افغاني او بهرنيو مطبوعاتو کي، د امريکايي چونيو د خواشينوونکي خبر له اروېدو سره جوخت، په هغه لنډه مقاله کي خپله ژوره اندېښنه څرګنده کړه، چي د« پايگاه های نظامی امريکا: عامل تشنج و بی ثباتی» تر سرليک لاندي د «لر او بر»، « افغانستان آزاد - آزاد افغانستان» او ځينو نورو معتبرو افغاني ويبپاڼو له لاري خپره سوه.

او سنۍ ليکنه، له نسبتاً پراخو جزيياتو او مدارکو سره په څو برخو کي وړاندي کيږي. په پيل کي د امريکايي چونيو د جوړېدو پر اساسي علتو او عواملو رڼا اچوو؛ بيا د امريکايي لښکرکوټو تر منحوس سيوري لاندي د هغو نتيجو او عواقبو پر ځينو اړخو خبري کوو، چي زموږ تاريخي ټاټوبی به يوه ورځ د ډېورنډ د لعنتي کرښي په شان د تجزيې او حتا نابودۍ له خطر سره مخامخ کړي؛ په يوه بله برخه کي د امريکايي عسکرو د دايمي حضور د مخالفينو او پلويانو بېلابېلي ډلي درپېژنو؛ او د امريکايي عسکري اډو د پلويانو پر مختلفو دلايلو او اندېښنو جلا جلا بحثونه کوو؛ ور پسې زموږ په لرغوني هیواد کي د جرګو تاريخي دود او دستور ته په لنډې اشارې سره، پر دې مهمه او اساسي مسأله غوَر کوو، چي ايا د حامد کرزي د تپل سوي حکومت په لاس جوړه سوې « لويه جرګه» په افغانستان کي د امريکايي عسکرو دايمي اډو ته « رسميت» او « مشروعيت» ورکولای سي که څنګه؟ دې پوښتني ته تر جواب ويلو وروسته، د پردو لښکرو د همېشني حضور پر ځای، د يوه معقول سوله ييز بديل په توګه د حل ملي او افغاني لار بيانوو؛ او په پای کي د ايتيمولوژۍ او ليکسيکالوژۍ په رڼا کي د ځينو لښکري يا عسکري ټکو( اډه، پوځي اډه، پايګاه، لشکرګاه/ لښکرګاه، لښکرکوټ، چونی/ چونۍ، چهاونی/ چهاونۍ) په اړه لنډه شرحه کاږو. هېره دي نه يي ( وي)، چي د هري لانجمني او جنجالي مسألې د روښانولو يا زبادولو دپاره مو پر خپلو دلايلو سربېره، پراخ ماخذونه او سندونه هم وړاندي کړي دي، چي کولای سي د موضوعاتو په لا زياته څېړنه او سپړنه کي له حقيقت موندونکو لوستونکو سره هر اړخيزه مرسته وکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په افغانستان کي د امریکايي چوڼییود جوړېدو او تداوم اساسي سببونه

په افغانستان کي د امریکايي چوڼییو د جوړېدو او تداوم د اساسي علت د شنني او سپړني د پاره باید تر هر څه مخکي، د جیمي کارټر د جمهوري ریاست په زمانه کي د سپیني ماڼۍ د امنیتي سلاکار او د پینټاګان او سي. آی .اې. د لوی لارښود - پروفیسر ډاکتر ز. برېژینسکي هغه نظر ته مراجعه وکو، چي په خپل نامتو اثر ( د سطرنج لو تخته )کي یې بیان کړی دئ. دی د خپل کتاب په د برشم او یود برشم مخ کي کاږي، چي د نړۍ په او سنیبیو شرایطو کي د یوریشا د سیمي کنټرول د امریکا د متحدو ایالاتو له خورا مهمو ستراتیژیکو لومړیتوبو څخه ګڼل کیږي. ډاکټر برېژینسکي ټینګار کیي، چي په سیمه کي د پخواني شوروي اتحاد د نفوذ تر ختمېدو وروسته، اوس د امریکا د متحدو ایالاتو د پاره تر ټولو لوی او مهم کار دا دئ، چي په یوریشا کي د لوی مخالف ځواک د را ټوکېدو مخه ونیسي. چین، روسیه او ایران په دې ارزښتناکه سیمه کي درې احتمالي مخالف ځواکونه بلل کیږي. د برېژینسکي د څېړني له مخي په دې سیمه کي د نړۍ په سلو کي پینځه اویا وګړي ژوند کیي؛ او د ګرده نړۍ د انرژۍ او نورو طبیعي شتمنییو درې پر څلور برخي هم د دې سیمي ترخاورو لاندي پرتې دي.

د پروفیسر برېژینسکي له ستراتیژیکي سپړني څخه په څرګنده دا نتیجه اخیستله کیږي، چي د یوریشا د پراخي او شتمني سیمي د ټولو امکاناتو او ظرفیتو په لاس کي نیول، د امریکایي لښکرو د رواني لس کلني جګړې او عسکري اډو له اصلي او اساسي مقصدو څخه شمېرل کیږي.

که څوک د استعمار تاریخ ته یوه ځغلنده کتنه وکي، له ورایه ګوري، چي د هر یرغلګر جنګ او هر استعماري تیري تر شا اصلاً اقتصادي ګټې پرتې دي. په حقیقت کي همدا اقتصادي ګټې دي، چي د لاس ته راوړلو یا ساتني د پاره یې تل د سیالو اړخو تر منځ رنګارنګ شخړې او جنګونه کیږي. زموږ خلګ بې ځایه نه وایي: جنګ پر غله دئ. دا خبره له ورایه روښانه ده، چي د ګټې خبره نه یي، هیڅ هیواد لښکرکښۍ، جګړې او بربادۍ ته لاس نه اچیي. ښکاره خبره ده، چي افغانستان د یوریشا د ټولي سیمي د انرژۍ او نورو طبیعي زېرمو د لېږدولو په چارو کي د خورا مهم ارتباطي رول په لرلو سره امریکایي ستراتیژیستانو ته ډېر لوی ارزښت لري؛ خود پروفیسر برېژینسکي د غولوونکي استدلال پر خلاف، په افغانستان کي یوازي اقتصادي ګټو د امریکا د سیاسي او لښکري ستراتیژیستانو سترګي نه دي وړي. دلته د پوځي حضور او دایمي چوڼییو تر پردې شاته پر پراخو اقتصادي ګټو سربېره، ډېر نور خطرناک سیاسي او عسکري پلانونه هم پراته دي، چي د سي. آی. اې او پینټاګان مکار استاد یې په ډاګه یادونه نه کیي (کوي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يوريشا د جغرافيايي - سياسي، جغرافيايي - اقتصادي او جغرافيايي - ستراتېژيکي سيمې د واکمنۍ تر لاسه کول د انرژۍ د پراخو زېرمو، بې سارو طبيعي شتمنييو او لويو انساني ظرفيتو تر څنګ، متحدو ايالاتو او د هغو نورو سياسي - عسکري متحدينو ته د دغو نخشو او هدفو د تحقق واک ورکيي:

- د بېلابېلو ستونزو او کړکېچونو په را منځ ته کولو سره د نړۍ د راتلونکي سترځواک (چين) د اريانوونکو اقتصادي او نظامي پرمختګو مخنيوی؛ څکه پوهېږو، چې د ۲۰۱۰ع کال په وروستيیو درو مياشتو کې د متحدو ايالاتو اقتصادي وده په سلو کې ګرسره درې اعشاريه يو (۳،۱) تاکل سوې وه؛ په داسي حال کې چې د چين اقتصاد له اوږدو کلو راهيسي، په منځني ډول، په سلو کې لس (۱۰) وده لرل. د امريکا سياسي، عسکري او اقتصادي طراحان دا وضعه تر ډېره نسي زغملائ.

- په سيمه کې د روسي فدراسيون د بيا واکمنۍ او نفوذ لار تړل.

- د سيمې ملي، اسلامي او ازدای بخښوونکو غورځنګوته د نابودې تر پولې د کړاوونو او پېچومو جوړول.

- پر سياسي لاسوهنو او اقتصادي بنديزو سربېره، داتومي وسلو په ترلاسه کولو کې د ايران اخوندي رژيم ته بېلابېل خنډونه پيدا کول.

- د پاکستان بې ثباته سياسي او امنيتي حالاتو ته په پام سره له يوې خوا د خپلو وفادارو ملګرو او متحدينو په لاس کې د هغه هيواد د اتومي وسلو خوندي ساتل؛ او له بلې خوا د دغه هيواد په سياسي، عسکري او اقتصادي نظام کې دچين د زياتېدونکي نفوذ مخنيوی.

- د پخواني شوروي اتحاد د مرکزي آسيا په نوو خپلواکو هيوادو کې د ډيموکراسۍ، بشري حقوقو، آزادو مطبوعاتو او تخنيکي - اقتصادي پرمختګو تر پردې لاندې سياسي اقتدار ته د خپلو مزدورو سياسي ګوندو او سازمانو رسول.

- د افغانستان د شمالي سيمو د بشپړ يا نيمه خپلواک کولو له لارې، په سيمه کې د استعماري لومو خپرول.

- په سيمه کې د خپلې فرهنګي او مذهبي اغېزې پراخول او پياوړي کول...

دا ټول سياسي، اقتصادي او ستراتيژيک هدفونه په ګډه، زموږ په پراخه او غني سيمه کې د متحدو ايالاتو د هر اړخيز برلاسي په مقصد لوی او حياتي ارزښت لري. له همدې کبله دا خبره ناڅاپي نه ده، چې د سيمې هر هيواد د دغه راز خطرو په ليدو سره د امريکايي پوځو له موقتي او دايمي حضور سره کلک مخالفت لري. په سيمه کې د امريکايانو دې استعمارګر ضربتي ځواک ته د هر ممکن زيان رسولو په خاطر له تېرو لسو کالو راهيسي زموږ په وران او ويرژلي هيواد کې د افغان وژني بې رحمانه جګړه روانه ده. د پردو دولتو دا ناروا او ظالمانه جګړه يا پروکسي وار ( proxy war ) په ببله شکه تر هغه مهاله ادامه لري، چې ايتلافي پوځونه په خپل موقتي يا دايمي حضور سره د سيمې د هيوادو سياسي، اقتصادي او ستراتيژيکو ګټو ته ګوابښ پېښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني امريکا مشربه افغان ليکوال او شننونکي، چې بې ګومانه له امريکايي استعمارګرانو سره په يوه کاشين کې ډوډۍ خوري ، د دې خبرې له حقانيت څخه سترګې نه پټيي، چې امريکايي پوځونه په افغانستان او مرکزي آسيا کې اصلاً د انرژۍ او نورو طبيعي زېرمو د لوټولو د پاره زموږ په هيواد کې د خپلو استعماري چوڼيو زيندی کوونکی جال خپريږي؛ مګر سره له هغه هم په بې شرمۍ سره استدلال کيږي، چې د نورو اولسو د ملي شتمنييو چور او چپاو افغانانو ته هيڅ تاوان نه لري. د دوی د ادعا له مخې کېدای سي، په دغه راز لوټمارکي پر افغانانو هم څه وڅڅيږي. د دې خبرې مانا دا ده، چې افغانان بايد د جوال په نيولو سره د امريکايانو د غلا او غارت په کار کې، له هغو سره مرسته وکړي.

شرموونکې خولا دا ده، چې دا راز خاينانه بيانونه، د هغو کسانو تر خولې هم راوزي، چې پرون يې د روسانو په نوکرۍ کې د امريکايي امپرياليزم د مرګ او نابودۍ شعارونه ورکول. ايا دا د انسانيت، شرافت او افغانيت خبره ده، چې څوک د نورو ملتو د ملي شتمنييو په چور او غارت کې کومک او همکاري، خپله ملي ګټه وبولي؟ که د استعمارګرانو په دغه راز چور او چپاوکې برخې اخيستني ته دخپلو ملي ګټو نوم ورکوو، بيا نو د پنجابي جنرالانو او ايراني اخوندانو سياستونه ولې په خپلو کورنييو چاروکې، د هغو د ناروا او ظالمانه لاسوهنو په توګه يادوو؟ !

لکه څنګه چې د پاکستاني او ايراني حکمرانانو مداخلو ته د کرکې او نفرت په سترګه ګورو، همداسې بايد د نورو ملتو په کورنييو چاروکې لاسوهنو ته هم د ناروا او انساني ضد عمل په سترګه وګورو. په دې خبره کې هيڅ ستونزه او پېچلتيا نسته. هغه څه چې ځان ته نه خوښوو، بايد نورو ته يې هم خوښ نه کو. که امريکايان د خپل وحشيانه ښکار يوه برخه موږ ته هم د محصول، تاجايي يا اقتصادي کومک په نامه را کيي، دا خو څه حلاله او مشروع ګټه نه ده.

مالوميږي چې دا بېچاره ليکوال، څېړونکي او شننونکي د افغانستان د ملي ګټو په پېژندنه کې جدي مشکلات لري. هغه ګټې هيڅکله ملي ګټې او مصلحتونه نسي ګڼل کېدای، چې د نړۍ د نورو ملتو د ملي ثروتو د لوټولو له لاري تر لاسه کيږي. د خپلو په اصطلاح ملي ګټو د پاره د نورو ملتو مځکنۍ بشپړتيا ، سياسي استقلال، ملي واکمنۍ او ملي شتمنييو ته زيان اړول، په څرګنده فاشيستي او استعماري سياست دئ. دا بشري ضد سياست نه يوازي له افغاني او اسلامي دودو سره هيڅ ډول سمون نه لري؛ بلکې طرحه کول يې لا د روښانفکرۍ او انسان دوستۍ د اصولو له مخې، لويه بې ننګي او نامردي بلل کيږي. زه نه پوهېږم ځيني کسان څنګه له يوې خوا د روښانفکرۍ، ملي وينبنتوب او بشري سوکالۍ باټې ولې؛خو له بلې خوا د نورو اولسو د ملي زېرمو په چور او تاراج کې، له امريکايي غاصبانو سره جوال نيول، ځانو ته شرم او پېغور نه ګڼي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو ! په دې کې هيڅ شک او شبهه نسته، چې موږ ته د ګاونډيو او نورو سيمه ييزو قدرتو تر اندېښنو خپلې ملي ګټې او ملي مصلحتونه ډېر ارزښت لري. له همدې سَوَبه (سببه) بايد زموږ ملي سياستونه تل د دې هيواد له ملي ګټو او ملي مصلحتو سره نه شلېدونکې اړيکې ولري. په بله وينا، موږ به د خپلو ملي ګټو د ډاډمني ساتنې د پاره له هري انساني او مشروع لاري کار اخلو. که څه هم ناپېيلتوب يا په سياسي- عسکري تړونو کې برخه نه اخيستنه د يوه کُلي او عمومي اصل په توګه د افغانستان د مځکنۍ بشپړتيا، سياسي خپلواکۍ او ملي واکمنۍ د ساتنې تر ټولو ښه او ډاډمنه لار ده؛ خو سره له هغه هم په ځينو اضطراري او استثنايي حالاتو کې کېداى سي د هيواد د ملي ګټو د ښه تضمين د پاره د ځينو سياسي او پوځي سازمانو غړيتوب هم له پامه و نه غورځول سي. په پېيلتوب (انسلاک) او ناپېيلتوب (عدم انسلاک) دواړو حالاتو کې بايد د افغانستان لوړي ملي ګټې او ټولو افغانانو خوښې، لومړنى ځاى ولري. تاريخ شاهد دئ، چې حکومتونه زياتره د خپلو ګروهي، ګوندي او سياسي ګټو د دوام او تضمين په خاطر په سياسي - پوځي تړونو کې د خپلو ملتود ښکېلولو هڅې کيي. له دې جهته بايد په دغه راز سترو او ارزښتناکو ملي مسألو کې د خلګو له نظر پوښتني يا د هغو د واقعاً رېښتينو استازو له خوا کړي پرته، هيڅ پرېکړه و نسي.

يو پلا بيا بايد په ټينګار سره و وايو، چې زموږ ملي ګټې او مصلحتونه هيڅکله د ګاونډيانو په ګواښلو او لمسولو کې نه تأمينيږي. که غواړو، چې خوک زموږ په کورنيو چاروکې لاسوهنونه ونه کړي، تر هر څه مخکې بايد د هغو په کورنيو چاروکې له لاسوهني او لمسوني لاس واخلو. البته، افغان دولتو يا افغان ملت هيڅکله په خپله خوښه يا خپله اراده د چا په کورنيو چاروکې لاسوهنه نه ده کړې؛ خو د پردو لښکرو په دايمي حضورکې هيڅوک د داسي لاسوهنو، ګواښو او لمسوونو مخه نسي نيولاى. موږ افغانان بايد دا واقعيت د سر پر سترګو ومنو، چې نه د سره پوځ په واکمنۍ، نه د امريکايانو په مشرۍ د نړۍ د ستر ايتلافي ځواک په فرعوني واکدارۍ او نه د دې دوو يرغلګرو پوځو د واکمنۍ تر منځ کلونو کې د دې خاوري واک او اختيار د افغانانو په لاس کې ؤ. له تېرو دوو دېرشو کالو راهيسې ډېره زموږ، خو واک يې د نورو په لاس کې دئ.

بيرته را ګرځو د امريکايي چوڼيو د جوړېدو او تداوم اساسي سببو ته. زموږ وينس او بيدار هيوادوال خبر دي، چې د امريکا متحده ايالات او سياسي - نظامي متحدين يې په تېرو څه کم لسو کالو کې د خپلو اوږد مهاله سياسي، اقتصادي او ستراتيژيکو هدفو د تحقق د پاره له يونيم لک رسمي او لسګونو زره غير رسمي پوځ (په ملکي کالو کې استخباراتي، امنيتي او اکمالاتي کارکوونکو) څخه کار اخلي. د ۲۰۰۱ ع کال د اکتوبر پر اوومه د امريکايي يرغل له پيل څخه د دې مقالې تر ليکلو پوري د ايتلافي دولتو دوه زره څلور سوه نه څلوېښت (۲،۴۴۹) پوځيان وژل سوي دي، چې له هغو څخه يو زر و پينځه سوه يو اويا (۱،۵۷۱) کسه امريکايان دي. د ټپي سوو پوځيانو شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دې هم څو واره زيات دئ. بېله شکه، دا د رواني ظالمانه جګړې ګرده انساني تلفات نه دي. ټولو ته مالومه ده، چې د جګړې د انساني تلفاتو ګچه د هري ورځې په تېرېدو سره مخ پر ډېرېدو روانه ده. د بېلابېلو ايتلافي قواوو د وژل سوو کسانو د شمېر او نورو ځانګړتياوو دپاره دا لينک وګورئ:

http://icasualties.org/oef/

په خواشينۍ سره زموږ زرګونو بې ګونا وژل سوو، معيوبو او معلولو افغانانو خو نه دقيق شمېر چا ته مالوم دئ؛ او نه هم څوک د يوې خاشې په اندازه، چورت په خرابيې...

د دغه ناروا تېري پر زياتېدونکو انساني تلفاتو سربېره، ټولو ايتلافي هيوادو، په تېره بيا امريکا او انګلستان ته، خورا درانه او ملا ماتونکي مالي زيانونه هم رسېدلي دي. د يوه رپوټ له مخې، يوازې متحدو ايالاتو ته تر اوسه څه کم څلورسوه ميليارډه (۴۰۰،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰) ډالره تاوان رسېدلئ دئ. د امريکا د جنګي لګښتو د دقيقو شمېرو دپاره دا ويبپاڼې وګورئ:

http://costofwar.com/en/
http://www.fas.org/sgp/crs/natsec/RL33110.pdf

په بلومبرګ خبرو کې د پياوړي خبريال - ډېويډ ج. لينچ د شمېرو له مخې، امريکا په تېرو څه کم لسو کالو کې له القاعدې او بن لادن سره په څو اړخيزو جګړو کې ټوله دوه ټريليونه يا دوه زره ميليارډ (۲،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰) ډالره لګولي دي، چې دا پيسې د هغه هيواد د نه اعشاريه اته شپېته (۹،۶۸) ټريليونه د ولتې پور، په سلو کې شلمه برخه ده. د نور مالومات دپاره د بلومبرګ ډاټ کام په لاندې لينک کې د ډ. ج. لينچ د علمي مقالې بشپړ تفصيل ولولئ:

http://www.bloomberg.com/news/2011-05-12/bin-laden-s-death-won-t-end-toll-on-taxpayers.html

پخوا د امريکايي پوځ د يوې مياشتې خرڅ درې اعشاريه شپږ (۳،۶) ميليارډ ډالره او د يوه امريکايي عسکر کلنی لګښت يو ميليون ډالره ګڼل کېده؛ خو په يو. ايس. ټو ډې (US TODAY) کې د ريچرډ وولف د رپوټ له مخې، په ۲۰۱۱ع کال کې د امريکا عسکري خرڅونه يو سل و اوولس (۱۱۷) ميليارډ ډالره اټکل سوي دي، چې د مياشتې نيژدې لس (۱۰) ميليارډ ډالره ښيي. نور تفصيل د دوی په ويبپاڼه کې کتلای سئ:

http://thehill.com/blogs/blog-briefing-room/news/63121-crs-calculates-cost-of-us-troop-presen
http://www.digitaljournal.com/article/282238
http://www.usatoday.com/news/military/2010-05-12-afghan_N.htm

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عراق او افغانستان کې هره ورځ زیاتېدونکو پوځي خرڅونو دایتلافي هیوادو ، په تېره بیا امریکا او انګلستان اقتصاد له داسې لوی او بې ساري بحران سره مخامخ کړی دئ، چې اوس د خپلو بودجو د کسر (کمښت) پوره کولو د پاره، لکونه دولتي مأمورین او کارکوونکي په بې رحمۍ سره له دولتي کارو شړي؛ د ښوونځییو ، روغتونو ، کتابتونو او نورو عام المنفعه مؤسسو دروازې تړي؛ د پوهنتونو د محصلانو فیسونه لوړیږي ( په انګلستان کې یې له پراخو او خونړییو احتجاجو سره سره، د بېوزلو محصلینو کلني فیسونه ترنهو زرو پونډو یانې تقریباً درې چنده پورې لوړ کړه )؛ د خلګو انساني او مدني حقوق محدودیږي؛ او په لسګونو داسې ناوړه او استبدادي سیاستونه پرمخ بیایي، چې تر ټولو لوی او اساسي علت یې همدا تیري کوونکي جنګونه دي. دا لوی اقتصادي بحران په ډاګه ښیي، چې لوېدیځه نړۍ، په تېره بیا د امریکا متحده ایالات د ډېوالیتوب خوا ته رهي دي.

د دې ستر اقتصادي کړکیچ ناوړه اغېزې نه یوازې د جنګ ځپلو هیوادو د بېوزلو اولسو، بلکې د پانګه والو هیوادو په ګډون د نړۍ د نورو ملتو او خلګو په ژوندانه کې هم په اسانۍ سره لیدلای سو. په بله وینا، د نړۍ ګرده بېوزلي اولسونه په دې دردونکي او ویرجن مُقدرکې یو د بل ملګري دي.

لکه څنګه چې ګورو، د نړۍ جګړه ماري او لوټماري کړۍ د یرغلګرو جګړو او نورو انساني ضد سیاستو په پیل کولو سره، د اولسو په اقتصادي زېرمو او ظرفیتو لیونۍ لوبې کیي؛ خو د هغو ملاماتوونکي او ربړوونکي پېټي د ډول ډول مالیو او محصولو په بڼه، د بېلابېلو هیوادو د مظلومو او بېوزلو خلګو پر اوږو باریږي.

خیر، د افغانستان او عراق د تیري کوونکو جګړو انساني تلفاتو او د نړۍ ژور اقتصادي بحران، چې لوی سَوَب او عامل یې بیا هم د همدغو جنګو اسمان ته ختونکي اقتصادي لګښتونه دي، په پانګه واله نړۍ کې ډېره ناوړه حالت منځ ته را وړئ دئ. له همدې امله، په ټولو ایتلافي هیوادو ، په تېره بیا متحدو ایالاتو او انګلستان کې د جنګ غوښتونکو سیاستو او د هغو د ناوړو نتیجو پر خلاف د عامو خلګو مخالفتونه، ورځ په ورځ پراخیږي.

د استعماري جګړو پر انساني تلفاتو او لوی اقتصادي بحران سربېره، په ټولو ایتلافي دولتو، په تېره بیا امریکا او انګلستان کې د هري ورځي په تېرېدو له جنګ او وژنو سره د عامو خلګو مخالفتونه مخ پر ډېرېدو دي. په امریکا او انګلستان کې واکمنه طبقه د عامو خلګو دې زیاتېدونکو مخالفتو ته لاس تر زني نسي کښېنستلای. د امریکا د جمهوري ریاست راتلونکي انتخابات تر سترګو نیهام دي. له دې کبله د اوباما اداره تر هر بل هیواد د خلګو د نظر اړولو د پاره په خپلې پوځي او سیاسي ستراتیژۍ کې تغییر او بدلون ته اړتیا لري. د بن لادن د وژنې اریانوونکې ډرامه هم د همدې ستراتیژۍ یوه مهمه برخه ګڼل کېدای سي. د پاکستان د ایبټ آباد د عسکري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښارګوټي په يوه لويه او مزبوته دريپوړيزه ودانۍ کي د بن لادن د استوګني ادعا ، له ورايه دا ښيي، چي هغه د امريکايانو او پاکستاني جنرالانو په سلا مشوره همدې ورځو ته ساتل سوی ؤ .

د بن لادن د وژلو خبر به موقتاً تولي لوېديځي نړۍ، په تېره بيا امريکا په عامه افکاروکي د اوباما د ادارې د جنګي، سياسي او اقتصادي ناکاميو پر مخ پرده وغوړيي؛ او هغه ته به د جمهوري رياست په راتلونکو انتخاباتوکي د يوه بل بري امکانات برابر کړي؛ ځکه اوباما او له ده سره ملګري پوځي - استخباراتي کړۍ به په وياړ او غرور سره ادعا وکړي، چي تر زياتو کوښښو وروسته بالاخره د امريکايانو د هغه لوی او پياوړي دوښمن په وژلو بريالي سوه، چي د بيل کلينټن او جورج ډبليو بوش حکومتونه يې په نيولو يا وژلو کي پاته راغلي وه. د بن لادن د وژني خبر به دغه راز په تېر لس کلن استعماري جنګ کي، د امريکايي پوځيانو ډول ډول قربانۍ او ملاماتوونکي جنګي لګښتونه هم پر ځای وښيي. دا خبره هم بې ځايه نه ده، چي د بن لادن د وژني خبر به په افغانستان او عراق کي د امريکايي لښکرو د بايللي او کمزوري روحيې له څه نا څه ژوندۍ کولو سره هم مرسته وکي.

تر ټولو مهم دا چي د بن لادن وژنه به په پای کي د امريکا سياسي او پوځي ستراتيژيستانو ته د دې فرصت ورکړي، چي د اوږو پزه کښېږدي؛ او د خپلو بې سر و پايه پوځو ډېره برخه لومړی خپلو اصلي چوڼيو او بيا له هغه ځايه د حملې او غوټې دپاره کومي بلې خوا ته سوق کړي.

اوباما او په امريکا کي د هغه پوځي، سياسي او اقتصادي متحدين د هغه هيواد د عامه افکارو د قانع کولو له لاري د جمهوري رياست په راتلونکو انتخاباتو کي د بري دپاره دغه راز بدلونو او برياوو ته ټينګ ضرورت لري؛ اما دا خبره بايد هېره نه کو، چي د بن لادن د وژني خبر به هيڅکله په افغانستان او شاوخوا سيمه کي، د ترورېزم تر پلمې لاندي، د امريکا او نورو متحدينو استعماري جګړه ختمه نه کړي؛ ځکه زموږ سترګه ور او ژوراندېښه لوستونکي په دې خبره ښه پوهيږي، چي په دې استعماري جګړه کي مقصود بل څه، بن لادن صرف بهانه ده.

همدې مهمو دلايلو او عواملو ته په پام سره امريکايي ستراتيژيستان غواړي د افغانستان په حساسو ستراتيژيکو سيمو کي د دېرشو - څلوېښتو زرو پوځيانو په ځای پر ځای کولو سره، همېشنۍ چوڼۍ جوړي کړي. البته، د امريکا سياسي او پوځي مشران په اسانۍ سره کولای سي د اړتيا پر مهال دا شمېر، په چټکۍ سره، نور هم زيات کړي. په داسي حال کي، چي ګرده نړۍ د امريکا په پوځي اډو لړلې ده، د پوځي وسايلو يا عسکرو لېږد را لېږد امريکايي پوځي واکمنانو ته هيڅ ګران کار نه دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په افغانستان کې به د دې دايمي چوڼيو په جوړولو سره له يوې خوا د اوسني حالت په پرتله د اشغالګرو لښکرو ځاني تلفات او مالي خرڅونه لږ سي؛ او له بلې خوا به په پوره ډاډ او تياري سره زموږ پر هيواد سربېره په ټوله سيمه کې د هغو اوږد مهاله استعماري پلانو د تحقق د پاره خپلو پرله پسې تلاښو ته دوام ورکړي، چې مخکې مو لنډه يادونه وکړه. زموږ په هيواد کې د امريکايي چوڼيو سته والی او دوام په واقعيت کې په يوه غشي دوه ښکانه ويشتل دي. يوې خوا ته د خپلې مزدوري اداري بقاء او بلې خوا ته په سيمه کې د لويو استعماري نخشو پر مخ بيول ؛ ځکه پر عراق او لېبيا د امريکايي لښکرو يرغل په ډاګه وښوول، چې امريکايان له القاعدې او طالبانو سره د حساب کتاب د پاره نه، بلکې د خپلو اوږدمهاله ستراتيژيکو موخو د تحقق د پاره دغو هيوادو ته تللي دي. د عراق پخواني ديکتاتور، صدام حسين، او د لېبيا اوسنی ديکتاتور، معمر القذافي، چې دا دئ له څو مياشتو راهيسي په مړاني د خپل حکومت دفاع کيي، دواړه د القاعدې او نورو سخت دريځه اسلامي سازمانو سرسخت مخالفين وه؛ خو سره له هغه هم د امريکا او متحدينو له استعماري يرغله خوندي پاته نه سوه.

د همدې استدلال له مخې القاعده، طالبان، تروريزم، مخدره مواد، د ډله ييزي وژني وسلې او داسي نوري خبري، ګرده هغه پلمې او افسانې دي، چې د استعماري جنګو د پيل کولو او غزولو د پاره په لوېديځو هيوادو کې د ملاتړ موندلو، د استبدادي قوانينو د تصويبولو، د بشري حقوقو او آزاديو د لا محدودولو او کاملاً پوليسي فضا د را منځ ته کولو په مقصد کاريږي. حقيقت دا دئ، چې امريکايي امپرياليزم د خپلو اوروپايي او سيمه ييزو انډيوالانو په ملګرتيا د دې ټولو وحشتناکو جريانو او پديدو په را منځ ته کولو کې پخوا هم مستقيم لاس درلود؛ او تر اوسه يې هم لري. پر افغانستان پوځي يرغل، د زرګونو پوځيانو او ميلياردو ډالرو ضايع کول؛ او په پای کې د همېشنييو پوځي اډو جوړول هم ټول په سيمه کې د امريکا د لويو استعماري لوبو د بريالي کولو يوازنی او اساسي شرط دئ.

## امريکايي چوڼۍ او د افغانستان د تجزيې کرغېړنه نخشه

زموږ وينښ او دراک هيوادوال ټول پوهيږي، چې د امريکايي لښکرکوټو تر شا خورا کرغېړني او خطرناکي نخشې د عملي کېدو په حال کې دي. ښه به دا يي، چې د دې تورو نخشو جزييات او نتيجې زموږ د تاريخي هيواد (ګران افغانستان) د تجزيې دامريکايي نوښتګر - په هند کې د امريکا د پخواني سفير، د عراق د پاره د امريکا د متحدو ايالاتو د امنيت شورا د مرستيال او د هند، پاکستان او افغانستان په چاروکـــې د متحدو ايالاتو د بهرني سياست د اوسني لـوی او باوري سلاکار- رابرټ ډيين بلکويل په دوهمه شيطـاني نخـــشه (Plan B) کي وګورو؛ مګر د بلکويل د دوهمي نخشې د جزيياتو او نتيجو په اړه تر بحث دمخه بده نه ده، چې د هغه د لومړۍ نخشي (Plan A) په باره کې هم، څو ټکي بيان کو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکویل د سپیني ماڼۍ، پینټاګان او سي. آی. اې. واکمنانو ته مشوره ورکیي، چي په افغانستان کي د امریکا اوله نخشه (Plan A) یاني د هوایي بمبارییو، مځکنییو بریدو، شبانه تلاښییو، بنـدي کولو، ځـورونو، ګواښونو، د کلو او کورو نړولو او ډول ډول نورو جزاوو له لاري د افغـانستان اشغال هیڅ نتیجه نه ده ورکـړې. بالعکس، د امریکایي پوځیانو زیاتېدونکو تلفاتو، د جګړې ملا ماتوونکو اقتصادي تاوانو او په امریکا او بهرنۍ نړۍ کي راز راز مخالفتو د امریکایانو روانه جګړه د ناکامۍ له جدي خطر سره مخامخ کړې ده. لــه دې امله، بلکویل له امریکایي مقاماتو څخه غوښتنه کیي، چي د جګړې د ګټـلو دپاره پر دوهمـه نخشه (Plan B) غورَ وکړي.

د رابرټ بلکویل د دوهمې نخشې مقصد دا دئ، چي امریکایان باید په افغانستان کي د خپلو پوځي ناکامییو، انساني تلفاتو او اقتصادي زیانو د تلافي او په سیمه کي د خپلو اوږد مهاله ګټو د تحقق دپاره د افغانستان د پخواني شمالي اتحاد د مشرانو په مرسته، د تاریخي افغانستان وتجزیې ته لار هواره کړي. تر رابرټ بلکویل دمخه د بالکان د تجزیې « قهرمان» او د افغانستان او پاکستان دپاره د جمهور رییس اوباما خاص استازي - ریچرډ هولبروک هم په دې لار کي ځیني لمسوونکي ګامونه اخیستي وه؛ خو له نېکه مرغه چي په خپلې مړیني سره یې دا منحوس او ناولي خوبونه له ځان سره ګور ته یووړه. د ریچرډ هولبروک تر نابېره مړیني وروسته اوس د امریکا د متحدو ایالاتو د سنا د بهرنییو اړیکو د جرګه ګۍ مشر او د افغانستان او پاکستان په چارو کي د اوباما د اداري ډېر لوړ او ځواکمن استازی - سناتور جان کېري هم په دې لار کي پرله پسې هڅي کیي. مزار شریف ته د هغه مستقیم سفرونه او له قومندان عطاء او نورو جنګي ډلو ټپلو سره د هغه پټي او ښکاره کتني او بانډارونه، ګرده د همدې استعماري نخشې د تحقق دپاره د یوه پاخه او پیاوړي تاداو داېښوولو په مقصد کیږي.

البته، د عسکري اډو سته والی، د دې شوم او لعنتي هدف د تر لاسه کولو لومړنی او اساسي شرط دئ. دا چي امریکایي چونۍ او د امریکایانو ببلتون غوښتونکي مزدوران به د دې توري او ظالمانه نخشې په عملي کولو کي څنګه ونډه اخلي، هر خپلواک او هیوادپال افغان ته د ډېر دقت او تعمق وړ خبره ده. په لاندي کرښو کي د دې خاینانه پلان پر ځینو برخو رڼا اچوو.

په دې حقیقت هر افغان ښه پوهېږي، چي امریکایانو له تېرو لسو کالو راهیسي د افغانستان په ګوټ ګوټ کي لویي او کوچنۍ چونۍ جوړي کړي دي. د رابرټ بلکویل د دوهمي نخشې پر بنسټ ماته دا انتباه پیدا کیږي، چي د هیواد په سوهیلي او ختیځو سیمو کي ځای پر ځای سوي چونۍ به د مځکنۍ توطیې له مخي سوکه سوکه طالبانو او نورو وسله والو مخالفینو ته ور پرېښوول سي؛ او په دې توګه به طالبان او نوري وسله والي ډلي، د خپل عسکري زور او ځواک په تناسُب، د هیواد د جنوبي او شرقي سیمو بشپړه واکمني په لاس کي واخلي. امریکایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوځونه به له مخکني پلان او نخښې سره سم د هیواد مرکزي او شمالي سیمو ته پر شا سي؛ او هورې به خپل پخواني جوړ کړي لښکرکوټونه لا پسي پیاوړي کړي.

په پخواني شمالي اتحاد کې د بېلابېلو بېلتون غوښتونکو خاینو ډلو مشرانو او استازو خو د ۲۰۱۰ع کال په اګسټ کې لا د امریکا د استازو د جرګې له څلورو غړو (درو جمهوري غوښتونکو او یوه ډیموکراټ) سره د برلین په مرموزه غونډه کې د داسې بېلتون غوښتونکو پلانو پر مقدماتو خبري کړي دي. پر دغو وطن پلورونکو سربېره، د هیواد په شمال کې نوري ستمي ډلې ټپلې (افغانستانیان، خراسانیان او نور) هم له خدایه داسې باد او باران غواړي.

د بلکویل د دې شیطاني طرحې له مخې به امریکا او نورو استعماري قوتونه په پیل کې د پراخو پوځي، تخنیکي او اقتصادي کومکو په برابرولو سره، په شمال کې د تجزیه غوښتونکو خاینانو ګوډاګی حکومت، په ضمني ډول، په رسمیت و پېژني. د وخت په تېرېدو سره به دا ډیفکټو (de facto) بېلتون ورو ورو ډیژوري (de jure) بڼه واخلي؛ او په دې توګه به زموږ د خپلواکۍ مینو پلرو او نیکو تاریخي میراث د ۱۸۹۳ع کال په څېر یو پلا بیا پر دوو یا څو برخو و ویشل سي.

د شمال له مزدور حکومت څخه به تل تر تله په مرکزي آسیا، چین، کسپین سیمه، شمالي ایران او نورو شاوخوا هیوادو کې د امریکايي استعمارګرانو د پخې سیاسي او عسکري اډې په توګه کار اخیستل کیږي. کرار کرار به امریکايي استعمارګران د اژدهاوو په شان پر ټوله سیمه خپل کرغېړن سیوری واچیي؛ او د هري ورځي په تېرېدو سره به د شاوخوا سیمې ټول هیوادونه د بلاوو په یوه خطرناکه ځاله واوړي. باید دا خبره هم هېره نه کو، چې که یو وار د دې ستر استعماري ښامار منګولي زموږ په خاوره او سیمه کې ښخي سوې، بیا یې نست کول یا پر شا تګ ته اړ ایستل بې خدایي معجزې په بله لار ممکن نه برېښي؛ ځکه نو بې ځایه نده، چې نامتو فلسفي او عرفاني شاعر - علامه اقبال لاهوری (۱۸۷۷- ۱۹۳۸ع) د غربیانو دې استعماري رول ته د اشارې په ترڅ کې د ختیځ ځینو ببدو اولسو ته داسې خبرداری ورکیي:

غـــربیان را شیـــــوه های ســـاحری است
تکیه جز بر خویشتن کردن کافری است
(لاهوری، کلیات: آنسوی افلاک ۱۸۰).

البته، دامریکا سیاسي او پوځي ستراتیژیستان به د خپلو وفادارو پاکستاني متحدینو په مرسته د طالبانو او نورو وسله والو ډلو تر واک لاندې سیمو کې هم د خپل سیاسي نفوذ د پراخولو دپاره له هیڅ راز کوښښو ډډه ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. پاکستاني جنرالان به د افغانستان په پښتني سيمو کې د امريکايي اجندا د عملي کولو دپاره د خپل صادقانه چوپړ په بدل کې دا فرصت تر لاسه کړي، چې زموږ په تاريخي او سرلوړي هيواد کې هم د اسلام او اسلاميت تر نامه لاندې د پاکستاني کشمير د سردار عبدالقيوم خان او سردار سکندر حيات خان په څېر مزدورانو په ګومارلو سره، ګران افغانستان عملاً په دوهم پاکستاني کشمير واړوي، چې ټولې پوځي، سياسي او اقتصادي چارې به يې د اسلام آباد له خوا اداره کيږي. په دې ترتيب به نه يوازې د افغانستان شمالي برخې، بلکې په جنوب او ختيځ کې ټولې پښتني سيمې هم د پاکستاني او امريکايي استعمار په خطرناکه لومه کې ښکېلې پاته سي.

زموږ ګډ تاريخي کور (ګران افغانستان) نن د امريکايانو د پوځي اډو تر کرغېړن سيوري لاندې د تجزيې له خطر سره مخامخ دئ. موږ بايد دې ستري لوبې ته د ټوکو او مسخرو په سترګه و نه ګورو. د دې سپېڅلي وطن خاوره، اوبه او هوا پر موږ ټولو افغانانو حق لري، چې د استعمار د دې خاينانه نخشې د شنډولو دپاره ګرده په يوه وجود او يوه آواز د مبارزې په ليکو کې ودرېږو. خداى دې دا اند ښښني هيڅکله نه ريشتيا کيږي؛ خو د پرنګي استعمار ظالمانه تجربو ته په کتني سره بايد د نننيو امريکايي چوڼيو استعماري رول ته هم په بې غَورۍ و نه ګورو. د رابرټ ډ. بلکويل د شوم پلان جزييات، په دې ويبپاڼو کې وګورئ:

http://www.foreignaffairs.com/articles/67026/robert-d-blackwill/plan-b-in-afghanistan
http://www.blogfrommiddleeast.com/?new=69848

په برلين کې د امريکا د استازو د جرګې له غړو سره د پخواني شمالي اتحاد د ځينو بېلتون غوښتونکو ډلو ټپلو د پټې کتنې د تفصيل دپاره د افغان نوميالي ليکوال او سياسي شننونکي - ډاکټر مير عبدالرحيم عزيز علمي مقاله په دغه لينک کې، تر نظر تېره کړئ:

http://afgazad.com/Siasi/081810-Dr-Aziz-Formal-Support-and-Infomral-Subversion[1].pdf

## په افغانستان کې د امريکا د دايمي چوڼيو مخالفين او پلويان

د امريکايي اډو د جوړېدو ځيني پلويان په درواغو او بې انصافۍ سره ادعا کيږي، چې زياتره افغانان د امريکايي چوڼيو له جوړېدو او تداوم سره هيڅ ستونزه او مخالفت نه لري. له طالبانو او نورو وسله والو مخالفينو پرته دا يوازې د دوى په اصطلاح پخواني کمونيستان (خلقيان او پرچميان) دي، چې په هيواد کې د امريکايانو له پوځي حضور سره مخالفت کيږي. راسئ په لاندې کرښو کې د دې ښاغلو پر دې پوچه او بې اساسه ادعا يو څه غور او تأمل وکو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د یرغلګرو پوځو له واکمنۍ او حضور سره مخالفت ریشتیا هم د دوی په اصطلاح یوازې د کمونیستانو خوی او خصلت وي، نو په دې حساب خو زموږ پلرونه او نیکونه د کمونیستي ایډیالوژۍ د بنسټ ایښوونکو (مارکس، انګلز، لنین او ځینو نورو) تر زوکېدو پېړۍ پېړۍ مخکې لا کمونیستان وه؛ ځکه د دې خاوري تاریخ له ورایه ښیي، چې زموږ پلرونو او نیکونو تل سرونه ښندلي؛ وینې یې توی کړي؛ سختۍ او کړوانه یې ګاللي، خو هیڅکله یې په خپله مقدسه او سرلوړې مېنه کې، پردو مهاجمانو او غاصبانو ته د پښې ایښوولو ځای نه دی ورکړئ. له هخامنشي کوروش او مقدوني سکندر څخه نیولې بیا تر چنګېزي او ګورګاني مغولو، پرنګیانو، روسانو او ننیو ایتلافي فرعونانو پورې یې هر یرغلګر ځواک ته د سر په کاسه کې اوبه ورکړې دي؛ او په دې توګه یې ګرده نړۍ ته دا زباد کړې ده، چې افغانستان د تاړاکګرو فاتحانو او یرغلګرو پوځو نېستځای او هدیره ده.

زما په نظر، د نړۍ په اوسنیو سیاستو کې د کینې، ښې یا منځ اصطلاحاتو نور خپل پخوانی ارزښت له لاسه ورکړئ دئ. که په هیواد کې له امریکايي چوپړیو سره مخالفت د مثال په توګه یاد کو، په اسانۍ سره ګورو، چې پر خپلواکو سیاسی او اجتماعي شخصیتو سربېره له بېلابېلو سیاسي او مذهبی ګوندو او ډلو سره تړلي ډېر مړني او باغروره افغانان هم له دغه راز استعماري تأسیساتو سره د مخالفت په لیکو کې ولاړ دي. په بهرنیو هیوادو کې هم د کینې، ښی او منځ د ګډون داسي مثالونه ډېر لیدل کیږي. ماته د تعجب او اریانۍ ځای نه ؤ، چې د انګلستان مخکني صدراعظم - ټوني بلېر د کینې اړخی «لیبر» یا کارګرګوند د مشر په توګه د امریکا د ښی اړخه ګوند له مشر - جورج ډبلیو بوش سره یو ځای د افغانستان او عراق پر ضد تیری کوونکی جنګ پیل کړ؛ او په میلیونو انسانان یې د خپلو خاینانه او وحشیانه ماجرا غوښتنو قرباني کړه. د اوسنۍ نړۍ په سیاستو کې داسي مثالونه خورا ډېر دي، چې کینې اړخه کسان، ښی اړخه عملونه کیږي یا بالعکس ښی اړخه سیاستوال د خلګو د غوښتنو او فشارونو له وجې، کینې اړخه پرېکړې کیږي.

د امریکايي چوپړیو د پلویانو دا ادعا ګرسره سمه نه ده، چې خلقیان او پرچمیان په افغانستان کې له پردو لښکرو او امریکايي چوپړیو سره مخالفت لري؛ ځکه د پردو سلاکارانو او عسکرو په زور د هغوی ځورلس کلنه خونړۍ واکمني په خپله پر دې بې اساسه ادعا د بطلان کرښه کاږي. چا چې، پرون د غلامۍ او بندګۍ طوق په غاړه کې اچولئ ؤ، نن نسي کولای په لګه غاړه له پردو عسکرو او پردي واک سره د مخالفت باتې و ولي. د دې پلورل سوو مزدورانو توري ښېرې هر چا ته مالومي دي. د پارسي ژبي لسان الغیب شاعر - حافظ شیرازي (د ۷۲۷-۷۹۲ هـ ق په شاوخوا کې) په دې اړه څه ښه وایي:

به هـــر رنگی که خـــواهی جامه میپوش
مـــن از طـــرز خـــرامت میشـــناســـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو هر خلقی، پرچمی، مجاهد یا نور کسان هرومرو په دې ډله کې نه راځي. ښېله شکه، په خلقیانو، پرچمیانو او نورو سیاسي سازمانو کې هم د داسي کسانو څرک لږ نه دئ، چې په خپل پلرني ټاټوبي (ګران افغانستان) کې د امریکایي استعمارګرانو وهمپښتنیو ځالو ته زړونه نه ښه کیږي. ښایي له ازله یې په وینه کې د خپلواکۍ او افغانیت تومنه ګډه یې؛ یا ښایي د روسي بادارانو تر اوږدې مزدورۍ وروسته اوس د ازادۍ، استقلال او سرلوړي ژوند په خوند پوه سوي یې...

ریشتیا خو داده، چې د هیواد د مځکنۍ بشپړتیا، سیاسي خپلواکۍ، ملي واکمنۍ، ملي نوامیسو، دیني اعتقاداتو او کولتوري ارزښتو ساتنه زمونږ د غیرتمنو او مړنیبو پلرو داسي ویاړلئ میراث دئ، چې په کمونیستانو یا نورو سیاسي ډلو ټپلو هیڅ اړه او مانده نه لري. د پردو عسکرو او امریکایي چوڼیو مخالفین په حقیقت کې هغه خپلواک، مړني او سرلوړي افغانان دي، چې نه یې پرون د سره پوځ موجودیت او باداري ته غاړه ایښوده؛ او نه نن د امریکایي پوځ له حضور او دایمي اډو سره، په هیڅ بڼه او هیڅ شکل، موافقه او مصالحه کولای سي. طالبان، اسلامي حزب، حقاني ډله او نور وسله وال جنګیالي هم باید د دې لاري یوازني ټېکه داران ونه ګڼو. په بله ژبه، افغاني غرور، له خپلواکۍ سره مینه، ناموس ساتنه، ، غیرت، پر شانه تلنه، سرلوړي، ستم او ستمګرو ته نه تسلیمېدل، مېلمه پالنه او داسي نوري لوړي ښېګڼې او ارزښتونه یوازي او یوازي په طالبانو او نورو وسله والو جنګیالو پوري اړه نه لري. له امو تر اباسینه، له چترال تر هراته ټول خپلواک، غیرتمن او شمله ور افغانان، په تېره بیا سرلوړي او خپلواکۍ بخښوونکي پښتانه، په دې ستر ملي او وطني رسالت کې لو(لویه) او مُهمه ونډه لري. د امریکایي تېري له پیل څخه تر اوسه د هیواد په ګوټ ګوټ کې پر یرغلګرو پوځو د افغان اوردو او پولیسو ځینو منسوبینو وژونکي ګوزارونه د دې روښانه واقعیت ځیني ژوندي مثالونه دي.

زمونږ د غرب مآبه لیکوالو او شننونکو د ناسمي ادعا پر خلاف، په تېرو نیژدې لسوکالو کې د نړۍ له تر ټولو پیاوړي ایتلاف (ائتلاف) سره دونه پراخ او غښتلی مقاومت په خپله ښیي، چې زړور افغانان پردي مهاجمان او د هغوی موقتی یا دایمي چوڼۍ په هیڅ ډول نسي منلائ.

د لیکني په دې برخه کې بې ګټي نه ده، چې د امریکایي چوڼیو د مخالفینو تر پېژندني وروسته د هغو د سرسپارلو مینانو، پلویانو او خواخوږو په اړه هم څو لنډې خبري وکو.

په افغانستان کې د امریکایي چوڼیو په جادو سوو مینانو، پلویانو او خواخوږو کې بېلابېلي جنګي، مافیایي او سیاسي ډلي شاملي دي، چې زه یې په عمومي توګه پر څو لویو ډلو وېشم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په لومړۍ ډله کې هغه کسان راځي، چې د ۲۰۰۱ع کال د اکتوبر پر اوومه د امريکايي جنګي الوتکو او ټانکو پر وزرو افغانستان ته ننوته. ټول افغانان دابېګل سوي جنايتکاران، ورانکاران، غله او خاينان ډېر ښه پېژني: کرزي خېل، فهيم خېل، دوستم خېل، رباني خېل، سياف خېل، قانوني خېل، عبدالله خېل، خليلي خېل، محقق خېل، امرالله خېل، عطاء خېل، مجددي خېل، ګيلاني خېل، رحيم وردګ خېل، شېرزی خېل او داسي نور. ټول جهان ته مالومه ده، چي د دې تورو او کرکجنو څېرو سياسي، عسکري او اقتصادي ژوند تر کومه بريده په ايتلافي عسکرو او امريکايي چوڼيو پوري تړلئ دئ. زه باور لرم، که د امريکايي پوځو او کورنيو جنګي ډلو ټېلو خونړی سيوری نه يي، زموږ دردېدلي او کړېدلي خلګ به په يوه ورځ کي د دې مزدورو جنايتکارانو پوستونه له پرورو ډک کړي؛ ځکه دې خاينانو د خپلو شخصي، ګروهي، تنظيمي او نورو ناروا ګټو د پاره زموږ د خلګو ژوند په اور او وينو ولاړه. پښتانه وايي: مځکه هغه سوځي، چي اور پر بل يي. د پردو لښکرو د توپ او ټانک تر خونړي سيوري لاندي په جګو ارګو او پرتمنيو ماڼيو کي ناست مزدوران، زموږ د ويرجنو او غملړلو خلګو په حال څه خبر دي.

- د خراسانيانو، افغانستانيانو او نورو بېلتون غوښتونکو ستمي ډلو ټپلو مشرانو او فعالانو هم د امريکايي استعمارګرانو له توپ و ټانک، پيسو او نعمتو څخه ګټه اخيستې ده. دا خايني ډلي ټپلي به ولي د امريکايي او ايتلافي اشغالګرو د سر دوعاوي نه کيي؟ ايا امريکايي او ايتلافي لښکرو په تېرو لسو کالو کي دقيقاً هغه څه ونه کړه؛ او تر اوسه يې لا نه کيي، چي پلورل سوو ستمي ډلو ټپلو يې له اوږدو کلو راهيسي، خوبونه لېده؟ د ډيورنډ د تېل سوي کرښي دواړو غاړو ته د استعمار پرزوونکو پښتنو بې رحمانه وژني؛ او د هغو د ژبي، دودو او عقايدو د سپکاوي او کم رنګ کولو د پاره بېلابېلو هڅو ته له داسي کړنلاري پرته بل څه نوم ورکول کېدائ سي؟ خپلواک او ملي فکره افغانان، په تېره بيا استعمارځپلي پښتانه بايد په دې خبره ځانونه ښه پوه کړي، چي امريکايي چوڼۍ به په راتلونکي کي هم د ډيورنډ د لعنتي کرښي د دې خوا او هاخوا پښتنو په عامي وژني سره د دې خاينو او بې ايمانه ستمي بېلتون غوښتونکو اوږده خوبونه پوره کيي.

- په بله ډله کي هغه کسان راځي، چي د امريکايي يرغل په دوران کي د ټيکنوکراټانو، متخصصانو او ماهرانو په نامه افغاني ټولني ته ولېږل سوه؛ خو په واقعيت کي د استعمارګرو دولتو د جاسوسي سازمانو او معتبرو دولتي ادارو باوري استازي دي. دا کسان پر پردو دولتو سربېره د هيواد له بېلابېلو مزدورو جنګي او سياسي ډلو سره هم پاخه اړيکي لري. د دوی اساسي رسالت دادئ، چي د حرفه يي جنايتکارو، تبهکارو او غلو اداري ته قانوني او مشروع رنګ ورکړي. له دې ډول پاراشوټ سوو کسانو څخه ځيني تر اوسه د وزارت، معينيت، سفارت، ولايت، رياست، قومندانۍ او سالارۍ پر چوکيو ناست دي. ځيني يې تر غلاوو، ناوړو استفادو، شرمندګيو او بې کفايتيو وروسته بېرته په امريکا، کاناډا، اوروپا او استراليا کي د خوابښي کوروته ستانه سوه؛ او ځيني نور يې لا تر اوسه له رازراز فضيحتو او شرمندګيو سره خپلو حملو او غوټو ته دوام ورکيي. اشرف غني خېل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارسلاخېل، احدي خېل، جلالي خېل، رهين خېل، امين فرهنگ خېل، زلمی رسول خېل، سپنتاخېل، اتمر خېل، زاخېلوال خېل، رامين خېل او په لسګونو نور پاراشوټ سوي کسان، ګرده په دې ډله کي را ځي.

د جنايتکارو تنظيمي مشرانو او قومندانانو په څېرد دې ټولو تش په نامه ټېکنوکراټانو حيات و ممات هم په امريکايي عسکرو او جنګي ډلو ټپلو پوري تړلئ دئ. دا خبره لمر غوندي روښانه ده، چي که نن امريکايي عساکر کډه بارکړي، سبا به له دې مسخره نوابغو، پروفيسرانو، ډاکټرانو، ماسټرانو او هرکاره وو څخه يو هم څوک په دوربين کي ونه ويني. له همدې کبله زه د دې ښاغلو او نازولو دپاره د «کرايه سوو افغانانو» اصطلاح کاروم. همدا اوس هم د ځينو ماينې او بچيان په اوروپا، امريکا، کاناډا او استراليا کي په کار، سوداګرۍ، زده کړو يا نورو مزو بوخت دي. دا خبره د دې واقعيت ښکارندوی ده، چي کرايه سوي ټېکنوکراټان يوازې د حملې او غوټې په مقصد له ماينو او اولادو څخه ليري په يوازېتوب کي ژوند کيي؛ ځکه د ګردو په دې حقيقت ښه سد رسيږي، چي په افغانستان کي دا ګرم تنورونه تر ډېره ګرم نه پاتيږي، بايد له موقع څخه ګټه واخلي؛ او ژر تر ژره خپلي ټکۍ پخې کړي. هري خوا ته پيسې، جايدادونه او رنګارنګ نعمتونه په چارښاخو باديږي. تر څو چي لوبه نه يې ختمه سوې، بايد د لمسيانو او کړوسيانو دپاره هم په کابل، دبۍ، اوروپا، کاناډا، امريکا او استراليا کي درنې تاپې او ذخيرې برابري کړي.

- له امريکايي يرغل سره جوخت د استعماري خادمانو يوه بله ډله هم افغانستان ته را شَوَه سوه، چي په دې وروستيو کلو کي يې شمېر تر انده پاسه زيات سوئ دئ. دا ډله په واقعيت کي هغه لمپن او هويت بايللي افغانان دي، چي پخوا به يې په بېلابېلو لوېديځو هيوادو کي ستونزمن ژوند ګاله؛ خو اوس د درو لکو ډالرو کلنۍ تنخا (تنخواه) په اسرهَ د خپل پلرني هيواد پر ضد له پردو ايتلافي لښکرو، په تېره بيا امريکايي پوځ سره د ژباړونکي، سلاکار، مُخبر يا نورو په توګه، چوپړ کيي. زموږ ټول هيوادوال ښه پوهېږي، داسي کسان چي پخوا به يې د زړه په شوا خون، په کال کي د پينځوسو زرو ډالرو مخ هم نسوای ليدای؛ خو نن د امريکايي يرغل له برکته زموږ په ټولنه کي پر سياسي نفوذ سربېره، دري لکه ډالره تنخا يا معاش تر لاسه کيي، څنګه په افغانستان کي د امريکايي عسکرو د همېشنۍ واکمنۍ او خپلو شخصي ګټو له اوږدولو څخه مخ اړولای سي؟

- اقتصادي مافيا او د مخدره موادو سوداګران، هغه بله ډله ده، چي د امريکايي توپ و ټانک او اوسني مزدور رژيم تر کرغېړن سيوري لاندي لويي او پراخي ګټي لري. له دې جهته په مرګ کوښښ کيي، چي هيڅکله د امريکايي پوځو او د کرزي په شان فساد لړلي ګوډاګي حکومت، سيوری له سره ايسته نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په یوه بله ډله کي هغه کسان شامل دي، چي پرون د روسانو په غلامۍ کي ولاړ وه؛ د زړه له پاسه یې د سوسیالیزم او کمونیزم ناري وهلې؛ خو نن د خپل مزدور طبیعت، بې ایمانۍ او بې مسلکۍ پر اساس په ډېر ویاړ د یرغلګرو پوځو او د هغو د جنایتکارو مزدورانو په چوپړ کي ولاړ دي؛ د ډیموکراسۍ، بشري حقوقو، ازادو مطبوعاتو، عدالت، برابرۍ او داسي نورو تش په نامه استعماري پروژو ستاینې کیږي. دا خلګ د پت، غرور، ایمان، خپلواکۍ او افغانیت په نامه هیڅ شی نه پېژني. هغه څه چي پېژني پیسې، جایدادونه، شهرت، جاه و جلال او راز راز ناوړه استفادې دي، نو ځکه بې ځایه نه ده، چي تل یې د خپلو ناولو او ناروا امتیازاتو د خوندي ساتلو دپاره د بېلابېلو بادارانو پر سترخان بولې کړې دي. هو ! په دې نامردانو کي داسي کسان هم سته، چي پر ظاهرخان، داوود خان، تره کي او امین سربېره یې له خپل ګوندي او ایډیالوژیکي ملګري - ډاکټر نجیب سره هم لوی خیانت وکړ ؛ او دا هم له امکانه لیري نه ده، چي اوس هم، نه د هیواد او خلګو په خاطر، بلکي د خپل سیاسي ژوند د اوږدولو او ناوړو استفادو د تضمین په هیله، له طالبانو او نورو وسله والو ډلو سره، په پټه لاس ولري. جمشېد خېل، طنین خېل، اکرم خېل، وزیري خېل، کریمي خېل او په لسګونو نور خاین مزدوران ټول په دې ډله کي دي. شک نسته، چي د هغو کسانو حساب له دې بې وجدانو توطیه ګرو څخه بالکل بېل دئ، چي د افغاني غرور، ملي احساس او هیوادپالنې په ساتلو سره ځان او بچیانو ته د یوې ګولۍ حلالې ډوډۍ ګټلو دپاره د کرزي له مزدور دولت سره کار کیږي.

- په یوه بله ډله کي هغه کسان شامل دي، چي د سره پوځ او د هغو د مزدورانو د واکمنۍ پر مهال به یې د افغانستان د اشغال چیغي وهلې؛ په هیواد کي دننه او بهر به یې د اشغالګرانو او مزدورانو د جنایتو کیسې کولې؛ خو نن چي د روسي یرغلګرو او روسي مزدورانو تر واکمنۍ بترجنایتونهویني، چپه (چوپه) خوله ناست دي؛ نه د پخوا په شان د اشغال خبره پر خوله راوړي؛ نه د یرغلګرو لښکرو د وحشیانه جنایتو او نه هم د هغو په وړاندي د جهاد او مقاومت. له ورایه مالومیږي، چي د زیاترو خولې له اوبو ډکې دي. د غوړي ګولې او امتیازاتو له اسیته یې ځانونه ناګاره اچولي دي. ځیني ځیني خو یې لا د کابل په اداره کي د څه تر لاسه کولو په هیله د روانو خواشینونکو پېښو ټوله پړه یوازي پر طالبانو او نورو وسله والو مخالفینو ور غورځیي. لکه څنګه چي روس پلوه ډلو، په تېره بیا پرچمیانو روسي استعمار ته د انترناسیونالیزم، بین المللي دوستۍ او پیوستون نوم ورکاوه، د دې ډلي پلویان هم امریکایي استعمار ته د دوستۍ، ترقۍ او پرمختګ نوم ورکیي. دوی وایي: پرېږدئ، چي امریکایان د سړکو، لارو، پوهنتونو، روغتونو، فابریکو، د برېښنا د بندو، کانالو او نورو پرمختیایي پروژو په جوړولو سره، دې ملک ته ترقي او پرمختګ را ولي...

زما په عقیده د دې ډلي خلګ ګرده د چپې خوا ورته ناست دي. که له اوسنیو پردو لښکرو سره زموږ د پرمختګ او ترقۍ غم وای، څه کم دو اتیا کاله مخکي به یې د امان الله خان ملي او مترقي رژیم په خپلو خاینانه توطیو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړاوه. تاریخي خبري به پرېږدو. د سترګو لیدلي حال ته به راسو. کله چي د خلق او پرچم د واکمنۍ پر مهال زموږ د ښوونځي او وروسته پاته هیواد مکتبونه، کلینیکونه، فابریکې، سړکونه، پلونه او نوري دولتي ودانۍ په بمو، مینو او نورو چاودونکو موادو الوزول کېدې، ایا په نړۍ کي داسي څوک نه ؤ، چي دغو ورانکارو ډلو ټپلو ته د ترقۍ، پرمختګ او تمدن درسونه ورکړي؟! ایا هغه وخت، چي د ښوونځیو معلمان او شاګردان، د پوهنتونو استادان، ډاکټران، انجینران او نور لوستي افغانان د کفر او الحاد په پلمه وژل کېده، د بشردوستۍ او پرمختګ مدعیان د پیل په غوږ کي بیده وه؟! تاسي بې منئ که یا، زما په خیال خو د افغانستان په معاصر تاریخ کي ټولي بدمرغۍ د دې مکرجنو «بشردوستانو» په مستقیمه لارښوونه او دستور سوي؛ او لا تر اوسه هم کیږي. هیڅ هوښیار او پرسد افغان د سړک، پله، ښوونځي، پوهنتون، روغتون، فابریکې او نورو عام المنفعه پروژو مخالف نه دئ؛ خو پوښتنه دا ده، چي «متمدنو» او «بشر دوستو» امریکایانو په تېرو لسو کالو کي د زرګونو افغانانو، خاصتاً مظلومو پښتنو د وینو تویولو په بدل کي څو پوهنتونه، فابریکې، د برېښنا بندونه او داسي نوري پروژې جوړي کړي دي، چي تر دې وروسته به نوري هم جوړي کي؟

د درنو لوستونکو به په یاد يي، چي انګریزي پوځو زموږ هیواد ته ترعسکرو لېږلو مخکي په ویاړ سره ادعا کوله، چي نه د جنګ او وینو تویولو، بلکي د افغانستان په بیا جوړولو کي د برخي اخیستني دپاره، هلته عسکر لیږي؛ خو اوس موږ ګوره د سر په سترګو ګورو، چي نه یوازي بې د نوي جوړولو یا بیا جوړولو څه څرک نه ښکاري، بلکي د بې ګونا او کړېدلو افغانانو په وژنه کي هم تر امریکایانو یا نورو ایتلافي پوځو وروسته پاته نه دي. په استعماري ادبیاتو کي دا راز اوتي بوتي خورا ډېري تکرار سوي دي. انګرېزانو هم د خپلو استعماري تېریو د توجیه دپاره په اتلسمه او نونسمه پېړۍ کي ادعا کوله، چي د ترقۍ او پرمختګ له ښښو ښښانو سره بې د خلګو د اشنا کولو په مقصد، هندوستان او افغانستان ته پوځونه لېږلي دي. انسان پرېږده خرهم په دې پوچ استدلال نه قانع کیږي، چي انګرېزي استعمارګران په هندوستان او افغانستان کي زموږ د فرهنګي، اجتماعي او اقتصادي بدمرغۍ له غمه مړه وه!

واقعیت دا دئ، چي د امریکا په شان او شوکت کي ډوب افغانان یاد غربي نړۍ د دوه اړخیز (بشري او استعماري) رول د توپیر کولو وس نه لري؛ یا د څه څخېدو په سَوَب پر هر څه سترګي پټيي؛ که نه نو په دې روښانه او ساده حقیقت خو د مکتب کوچنیان هم پوهېږي، چي استعماري قوتونه همدا اوس زموږ په هیواد کي د یوه بام او دوو هواوو سیاست چلیي؛ خپلو خلګو ته بشري حقوق، د قانون برلاسی، ډیموکراټیک ارزښتونه، ترقي او پرمختګ غواړي؛ خو زموږ خلګو ته د بشري حقوقو پر ځای هوایي او مځکنۍ بمبارۍ، د ودانو کلو او شنو باغو هوارول، د شپې تلاښۍ، د لاسو او سترګو تړل، محبسونه، ځورول، د دیني عقایدو او کلتوري ارزښتو سپکاوی، د جنایتکارو، غلو او زورمندانو چپه او راسته غوبلونه، د زور او وسلې واکمني، لوږه، بې کوري او بېکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هيڅوک د لوېديځو هيوادو له ازادو او شفافو انتخاباتو، پراخو بشري حقوقو، قانونيت، برابرۍ، روښانفکرۍ، عِلم پالنې، تمدن او پرمختګ څخه سترګي نسي پټولائ؛ خو کشکې د دې هيوادو سياسي او عسکري واکمنانو دا حقوقي ارزښتونه، ازادۍ او انساني پرمختګونه د نړۍ پر نورو ښوزلو او اسکېرلو ولسو هم لوررولائ!

د امريکا په سياستو کې د يوه بام او دوو هواوو د اثبات دپاره دلته د يوه ژوندي مثال يادونه بې ګټې نه ګڼو. دګرانو لوستونکو به ښايي په ياد يي، چي د امريکا متحدو ايالاتو په ۱۹۸۸ع کال د سکاټلنډ په لاکربي کې د پانم هوايي شرکت د يو سلو دري (۱۰۳) لمبر الوتني د لوېدو پړه پر لېبيا واچوله. دا چي په دې خواشينوونکې پېښه کې ريشتيا هم د لېبيايي حکومت لاس ؤ که څنګه، زموږ د څېړني موضوع نه ده، بلکې دلته يوازې د امريکايي چارواکو د دوه مخي سياست، لنډه يادونه کوو. د خپرو سوو اسنادو له مخې، امريکايي مقاماتو تر پراخو تورو (اتهاماتو) اوګواښو وروسته د لېبيا له دولت څخه يو اعشاريه پينځه (۱،۵) ميليارډ ډالره، تاوان واخيست، چي له هغو څخه پينځه سوه څلور (۵۰۴) ميليون ډالره پر دوه سوه دروځلوېښت (۲۴۳) مسافرو او شپاړس (۱۲) کسيزي عملې وويشل سوه؛ او پاته پېسې د امريکايي مقاماتو له ادعا سره سم، د لېبيايي تروريزم د نورو قربانيانو او متضررينو د تاوان په نامه بېلې سوې. په دې اړه دا وېيپاڼې کتلای سئ:

http://www.independent.co.uk/news/world/americas/us-begins-lockerbie-compensation-transfer-
http://en.wikipedia.org/wiki/Pan_Am_Flight_103

په دې ډول ګورو، چي د امريکا دولت له لېبيا څخه د هر مسافر او عملې په بدل کې څه د پاسه نونس لکه (۱۹۰۰۰۰) ډالره تاوان واخيست؛ خو نن هم دا امريکا په خپلو وحشيانه بمبارييو سره زموږ بې ګونا افغانان په وينو لړي؛ کور او کهول يې تباه کيي؛ مګر سره له هغه هم تر يوه عالم شواخونو وروسته د شهيدانو ښوزلو کورنييو ته تر دوو نيمو زرو (۲،۵۰۰) ډالرو يوه تنګه زياته نه ورکيي. زه نه پوهېږم دا کوم انسانيت، کوم عاطفه او کوم انصاف دئ؟!

دلته بده نه ده، چي د منځني ختيځ په روانو سياسي پاڅونو کې هم د غربيانو د يوه بام او دوو هواوو سياست يو بل مثال وړاندې کړو. نړۍ وال وليده او لا ګوري، چي امريکا او ځينو نورو لوېديځو دولتو په تونس، مصر، بحرين، أردن، يمن، مراکش او سعودي عربستان کې نه يوازې د خپلو مزدورو رژيمو پر خلاف په هيڅ سياسي اونظامي اقدام لاس پوري نه کړ، بلکې پاڅون کوونکو ته يې د سوله ييزو مظاهرو، روغې جوړې او ځينو کازميټکو سياسي بدلونو د منلو سپارښتنه هم وکړه؛ خو په لېبيا کې د وړيا تېلو د تر لاسه کولو او يوه بل کرزي، فهيم يا عبدالله د کښېنولو دپاره، د هيڅ راز انسان وژونکو وسلو، له کار اخيستني ډډه نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يوه بام او دوو هواوو دې ناولې شکل ته وګورئ: په تونس، مصر، يمن او بحرين کې د امريکا د مزدورو رژيمو له خوا د خلګو پر کاملاً سوله ييزو مظاهرو او لاريونو د ماشينګڼو سرې ګولۍ و اورول سوې، اما سره له هغه هم په سپينه مانۍ او نورو اورپايي مرکزو کې د قدرت واکدارانو له اعتراض کوونکو څخه غوښتنه کوله، چې هيڅکله زور زياتي او غيرقانوني عکس العملو ته لاس وا نچوي. د دې پر خلاف په لېبيا کې د رژيم وسله وال مخالفين له همغې لومړۍ ورځې څخه پر شا و ټکول سوه، چې د زور، خشونت او خونړيو بريدو له لارې د هيواد په ښېلا ښېلو ښاروکې د قذافي واکمنې دړې وړې کړي. حتا په دې يې هم زړه سوړ نسو، څه کم دوې مياشتې مخکې يې د ملکي کسانو د ژغورنې په درواغجنه پلمه انسان وژونکي پوځي بريدونه هم پيل کړه، چې دا دئ تر اوسه ادامه لري. ټول جهان ګوري، چې امريکايان او ملګري يې د نورو مستبدو او فاسدو عربي هيوادو پر خلاف، په لېبيا کې د ولسي پاڅونو پر ځای د وسله والو ډلو او خونړييو بريدو ملاتړ کيي. نن د وسله والو ډلو په مرسته خپل مزدوران سياسي واک ته رسيي، سبا بيرته همدا وسله والې ډلې په دې يا هغه نامه په وينو لړي؛ په محبسو کې يې اچيي؛ او د خدای تعالی او ښجه پر سره کيي. د فريډم فايټر، ټروريسټ، کمونيسټ، مسلمان او داسي نورو ټاپې هيڅکله د دوی له لاسه نه وزي.

بشري حقوق، ډيموکراسي او انساني پرمختګ ټول داسي مفاهيم دي، چې هيڅوک يې په نړۍ کې له ګټې او سموالي انکار نسي کولای؛ خو د دې سترو ارزښتونو د تحقق او عملي تجسم د پاره انساني لارو چارو ته اړتيا ده. د کروز توغندييو، بي **۵۲**، مېراژ او ايف ۱۸ الوتکو په زور د داسي بدلونو راوستلو ته بې فرعوني تکبُر او سوچ پوچ لېونتوبه بل څه نوم ورکولای سو؟ راسئ وګورو، چې د بشري حقوقو، ډيموکراسۍ او پرمختګ امريکايي ستړايل د افغانستان، عراق او سوماليا تر وحشتناکو تجربو ورسته، نن سبا په لېبيا کې څه ګلان کړي؟! سربېره پر دې مثالو، ايا د بې ګونا افغانانو وژنې؛ د جنايتکارانو، جاسوسانو او فاسدو زورواکو ملاتړ؛ په هيواد کې زور زياتی، خپلسري، بې عدالتي، لوږه، بېکاري او نور مصيبتونه ټول د امريکايانو او نورو لوېديځو هيوادو د يوه بام او دوو هواوو سياست نه ثابتيي؟

ځيني کسان ظاهراً د کرزي د حکومت له فساد او خيانتو سره ملګری نه کيي، خو د امريکايي لښکرو دايمي حضور د هيواد د ژغورنې د پاره تر ټولو لو (لويه) اړتيا ګڼي. ايا دا خبره ممکنه او معقوله ده، چې د امريکايي پوځو يرغل او د هغو د همېشنييو اډو موجوديت پر ځای وبولو، مګر د کرزي له فاسد او مزدور رژيم سره مخالفت ولرو؟! د امريکايي اشغال او عسکري اډو اغفال سوي پلويان بايد د کرزي د مافيايي حکومت ګرده خيانتونه، ټګی برګۍ او بې کفايتۍ هم په ورين تندي ومني؛ ځکه دا دواړه لازم او ملزوم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چیري امریکایانو او نورو ایتلافي دولتونو په تېرو لسو کالو کي سوله او امنیت راوستئ وای؛ خلګو ته یې کار او روزګار برابر کړئ وای؛ او له جنګ ځپلو افغانانو سره یې د دې وران کور په جوړولو کي ریښتینې مرسته کړې وای، ښایي خلګو به هم د هغوی د عسکري اډو له تداوم سره چندان مخالفت نه وای کړئ؛ اما اوس خو هر څه د دې پر خلاف شاهدي ورکیي.

زما په قاصر نظر خو د امریکایي چوڼییو د ټولو سیله کوونکو لاسونه په یوه ډول د ډولو د استعمارګرانو و جېبو ته لار لري. هره ډله یا ډلګۍ په یوه یا بله بڼه د استعمارګرانو او د هغو د مزدور نظام په واکمنۍ کي ښکاره او پټې ګټې لري. ډېر مي ولیده، چي پرون یې د ملي فکر او ملي ایډیالوژۍ باټې ویشتې؛ خو نن د څه ځښېدو په تمه د پلورل سوو مزدورانو او د هغو د استعماري بادارانو بوټونه پاکیي. لعنت دي یي پر داسي بې پته ، بې غروره، بې اصولو او سراښو انسانانو !

- د امریکایي یرغل په درشل کي د خوشبینانو او ساده کسانو یوه بله ډله هم تر سترګو کېده، چي په افغانستان کي یې د سولې، امنیت او اقتصادي پرمختګ په راوستلو کي پر امریکایي لښکرو خورا لوی حساب کاوه. دې خوارانو تصور کاوه، چي امریکا او ملګري به یې د سترګو په رپ کي له کنډواله افغانستان څخه هم هانکانګ یا سینګاپور جوړ کي؛ او هغه کي به دوی ته هم یو څه ورسیږي؛ اما خبر نه وه، چي امریکایي لښکر افغانستان ته د انساني ژوند ، ترقۍ او پرمختګ د پاره نه، بلکي خپلو استعماري نخشو د عملي کولو د پاره راغلي دي. له نېکه مرغه دې خوش باورو هیوادوالو په تېرو لسو کالو کي د ایتلافي پوځو ، په تېره بیا امریکایانو د خونړي ریکارډ په لېدو سره پخوا لا پر خپلو غوولونکو هیلو د بطلان کرښه ایستلې ده.

## د امریکایي چوڼییو ننني پلویان: د امریکایي یرغل پروني مخکښان او ستایونکي

لکه څنګه چي مخکي هم اشاره وسوه، د اشغال مزدورانو د امریکایي یرغل له همغي لومړۍ ورځي څخه زموږ ساده او خوش باوره خلګو ته د جنت وعدې ورکولې؛ خو د جګړې اورونه، وینې، اوښکې، جنازې، د خوندو او مندو تور پوړنې، د کورو، دوکانو، باغو، ماجتو او نورو شتمنییو ورانې، لوږه، بېکاري، فساد، زور زیاتی، د دولتي او شخصي جایدادو برالا چور، د تریاکو او نورو مخدره موادو په کاروبار کي بې ساري ترقي او پرمختګ ټول په واقعیت کي هغه څه دي، چي د وعده سوو سرو او زرغونو باغو پر ځای زموږ مظلومو او کړېدلو خلګو ته ورکړل سوه.

هو ! د امریکایي لښکرو له برکته دې هیواد ته څه «سره او زرغونه باغونه» هم راغله؛ اما په خواشینۍ سره، چي زموږ عامو افغانانو ته یې څه حاصل او ګټه و نه رسېده؛ او باید هم نه وای رسېدلې؛ ځکه دا « سره او زرغونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



باغونه» ؛ دا ښار ګوټي او کوټياني، دا عمارتونه او بانکونه، دا شرکتونه او قراردادونه، دا ګولۍ ضد کروزينګ موټرونه او ډول ډول امتيازونه له لويه سره د کرزيانو، فهيم خيلو، رباني خېلو، خليلي خېلو، محقق خېلو، سياف خېلو، قانوني خېلو، عبدالله خېلو، دوستميانو او داسي نورو پراشوټ سوو« پريشتو» په نصيب کي ليکل سوي وه.

د اشغال همغه پروني مخکښان او مناديان د پښېمانۍ او دي غملړلي ولس څخه د بخښني غوښتلو پر ځای نن د امريکايانو د دايمي چونيو په ستاينه نه مړېږي. پرون يې د امريکايي ټانکو او الوتکو راتګ ته خوشالۍ او اتڼونه کول، نن بيا تر ګرده چيغي او نارې وهي، چي که په افغانستان کي امريکايي لښکرکوټونه نه يې، نو پاکستان او ايران به دا خاوره په يوه ايند‌ه تر ستوني تېره کړي...

د اشغالګرو دا اغفال سوي پلويان په دې ساده او روښانه حقيقت سر نه خلاصيي، چي سلګونو زرو بهرنيو پوځو له خپل ټول عسکري واک او ځواک سره سره، په تېرو نيژدې لسو کالو کي څه غزا او بهادري وکړه، چي د پوځي اډو تر جوړولو وروسته به يې بيا وکي؟
ايا دې ويرجن او غملړلي هيواد ته يې سوله او امنيت راوست؟
د مزدورو زورواکانو د ظلمو، فساد او غلاوو مخه يې ونيوله؟
خلګو ته يې کار او روزګار برابر کړ؟
د ترياکو او نورو مخدره موادو توليد او سوداګري يې ودروله، که يې څه بله معجزه ښکاره کړه؟

البته دا زما شخصي تصور او قضاوت نه دئ، چي اشغالګرو لښکرو او د هغو مزدور حکومت په تېرو لسو کالو کي له خپلو سترو عسکري او اقتصادي امکاناتو سره سره، زموږ بېوزلو خلګو ته څه خاصه بهادري او شهکاري نه ده کړې، بلکي انکار نه کېدونکي شمېرني او واقعيتونه هم د دې خبري ټينګ ملاتړ کيي.

زه فکر نه کوم، چي يرغلګرو لښکرو او د هغو مزدور حکومت دي، په تېرو لسو کالو کي سره له خپلو بې سارو عسکري او اقتصادي امکاناتو، زموږ د بېوزلو خلګو د نېکمرغۍ په هيله، څه لويه شهکاري او بهادري کړې يي؛ ځکه د هري ورځي حساب پروت دئ.

په افغانستان کي د سولي او امنيت حال هر افغان ته پوره څرګند دئ. د ملګرو ملتو د شمېرو له مخي، يوازي په ۲۰۱۰ ع کال کي د ملکي افغانانو د وژني شمېر دوه زره اووه سوه يو اويا(۲،۷۷۱) ته ورسېد. په دې اړه د بشپړ مالومات دپاره دا رپوټ وګورئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



http://www.presstv.ir/detail/168978.html

البته، د ملګرو ملتو داریوټ په هیڅ ډول بشپړ نسو ګڼلای؛ ځکه زموږ د هیواد په ګوټ ګوټ کې داسې ډېرې ویرجنې پیښې سوې دي، چې د هیڅ بشري سازمان یا ډله ییزې رسنۍ په شمېرو او رپوټو کې نه دي راغلې. سربېره پردې، که له وژل سوو کسانو سره د معلولینو، معیوبینو او ټپیانو شمېر هم یو ځای کو، او بیا یې په لسو (۱۰) کې ضرب کړو؛ وروسته په تېرو لسو کالو کې د ډیورنډ د کرغېړنې کرښې د ها خوا پښتنو درانه انساني تلفات هم ور سره ملګري کو، بیا نو په روانه استعماري جګړه کې د مظلومو افغانانو د تلفاتو او ضایعاتو ریښتینې ګچه مالومېږي، چې په بشپړ باور سره تر لکونو هم اوړي.

دا لوی بشري ناورین په ځرګنده ښیي، چې ایتلافي قواوو د ډیورنډ د کرښې په دواړو غاړو کې مېشتو افغانانو ته له وینو، اوښکو، بربادۍ، وحشت، افراطیت، بې باورۍ او نا امیندۍ پرته بل څه نه دي راوړي.

د امریکایانو تر سترګو لاندې د کابل حکومت د فساد په تور او چټل نامه اوس نه یوازې زموږ کړېدلي افغانان، بلکې د نړۍ خلک هم ګرده خبر دي. تاسې د بي بي سي دا خبر ولولئ، چې په لوستلو یې هر غیرتمن افغان د افغانیت له نامه خواتوري کیږي.

http://news.bbc.co.uk/1/hi/business/8365094.stm

که په هیواد کې دننه د کار او روزګار څه امکانات برابر وای، افغانان لېوني نه دي، چې د سلو خطرو په منلو او زغملو سره په پاکستان، ایران، تاجکستان، اوزبکستان، قرغیزستان، هند او نورو پردو هیوادو کې د مِنت او سُنت شپې او ورځې تېرې کړي.

دا خبره هم لمر غوندي روښانه ده، چې د تریاکو تولید او سوداګري د طالبانو د واکمنۍ په پرتله د امریکایانو او مزدور رژیم په واکمنۍ کې څو ځله زیاته سوې ده. که یې نه منئ په دغو معتبرو ویبپاڼو کې د مستندو ارقامو په لوستلو سره وګورئ، چې واقعیتونه څه دي؟

http://news.bbc.co.uk/1/hi/6965115.stm

http://articles.latimes.com/2010/oct/01/world/la-fg-1001-afghan-opium-20101001

که په دې حقیقت نه پوهېږئ، چې ولې د امریکایانو او نورو یرغلګرو پوځو تر راتګ وروسته، په افغانستان کې د تریاکو د تولید او سوداګرۍ لمن دونه پراخه سوې ده، د سترګه ور تحلیلګر- جان ک. کولي «نامقدس جنګونه» کتاب وګورئ. کولي په افغانستان او نورو هیوادو کې د مخدره توکو په تولید او کاروبار کې د سي. آی. اې. د مهم

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مرکزي رول په اړه مهمې او ارزښتناکې خبرې لري. کولي د خپل ارزښتناک کتاب په یوه برخه کې یادونه کړې ده، چې سي. آی. اې. د جنګو د تمویل، د دوښمن د جنګي روحیې د نست کولو یا کمزوري کولو او د خپلو پراخو استخباراتي عملیاتو د توجیه کولو په مقصد تل د نشه یي مواد پر کښت او کاروبار ټینګار کړی دئ ( کولي ۵ ). سي. آی. اې پرون هم دا کار کاوه، نن یې هم کیږي؛ او سبا یې هم نه پرېږدي.

ایا په تقریباً لسو کالو کې د دونه جګړو، وینو تویېدو او تباهیو په بدل کې د څو بې کیفیته دولتي ودانیو یا یو و نیم مکتبو، پلو او پلچکو جوړول د قناعت وړ دي؟

که د پردو لښکرو او مزدور حکومت په تېرو لس کلنو کړو وړو کې د بري او نېکنامۍ څه خاصه نښه نښانه نه لېدله کیږي، نو د عسکري اډو تداوم به یې څه توره وکې؟

سوله او امنیت به را ولي؟ د مزدورو واکمنانو د فساد مخه به ونیسي؟

خلګو ته به کار او روزګار برابر کړي؟

د ملي او ولسي حکومت په جوړولو کې به مرسته وکي؟

او که به له دې پرته څه بله معجزه وکي؟

لس کاله د یوه شخص، سازمان او حکومت د ازموینې د پاره تر اړتیا زیات وخت دئ. زه د امریکایي چوڼیو له سرسپارلو مدافعانو څخه په درناوي پوښتنه کوم، چې د امنیت، ډیموکراسۍ او بشري حقوقو په نامه راغلو لښکرو او ډول ډول ګوډاګیانو په تېرو لسو کالو کې څه وکړه، چې تر دې وروسته به نو رهم وکي؟ که یې ستاسي له درواغجنو او غولوونکو ادعاوو سره سم ګل وګلزار جوړ کړی یې؛ او د چا خبره دا یوازې موږ سرزوري او منکر مخالفین یو، چې د امریکایانو او فاسد کرزي « سره او زرغونه باغونه» نسو لیدلای، بیا نو تاسي ښاغلي ولي په اوروپا، امریکا، کاناډا او استرالیا کې ناست یاست؟ ولي د ترقۍ، پرمختګ او بشردوستۍ په دې ستر رسالت کې له امریکایانو او کرزي سره مرسته او همکاري نه کوئ؟! مګر د امریکایي عسکرو د همېشني حضور د دفاع نارې سورې زیاتره د اورپا، امریکا، کاناډا او استرالیا مېشتو افغانانو له منځه نه را پورته کیږي؟

له دې ښاغلو څخه باید یو ځل بیا پوښتنه وسي، که د ایتلافي ځواکو او کرزي د فاسدې ادارې « سره او زرغونه باغونه» زموږ مظلومو او دردمنو وطندارانو ته خوښوئ، بیا نو ولې د لوړو اسلامي او افغاني دودو له مخې هغه خپلو ځانو او خپلوانو ته هم نه خوښوئ؟!

زه له خپلو امریکا مشربه دوستانو څخه هیله کوم، هغه څه چې په خوله وایي، په عمل کې هم وښیي. که د امریکایي عسکرو د همېشني حضور د سرسپارلو مدافعینو بچیان، عزیزان یا کور وکلي په کندهار، روزګان، زابل، عزیز

(c) ketabton.com: The Digital Library



آباد، شینوار، کندوز، کُونړ، تخار او ډېرو نورو سیموکي زموږ د ویرژلو او کړېدلو هیوادوالو په شان، د بهرنیيو ځواکو د الوتکو او ټانکو له خوا ربړ مربېزه سوي واى، ښايي پر اوسني دريځ به يې دونه ټينګار نه کولای. زه چي د خپلو بې ګونا عزيزانو او هيوادوالو د بې رحمانه وژني او کور وکهول د ظالمانه پوپنا کېدو په درد غمجن يم، هیڅکله به د فرعوني عسکرو او د هغو د فاسدو مزدورانو پر زور زياتي، خيانت او بې انصافۍ خوله پټه نه کړم.

د دې ډلي د نوکر صفتو او فرصت کتوونکو کسانو دريځ د «خان د نوکر او بانجانړ» مشهوره کيسه را په ياد کړه. بده نه ده، چي لنډيز يې د هغې د سياسي تومني او خندولو په خاطر ګرانو لوستونکو ته هم وړاندي کړم: «وايي، يوه ورځ خان صاب (صاحب) پر سترخان د بانجانړو خورا ډېره ستاينه وکړه، نوکر بېچاره يې هم د غوړمالۍ او چاپلوسۍ په مقصد، د بانجانړو په ستاينه کي، ځو حق او ناحق خبري وکړې. خير، هغه ورځ تېره سوه. تر ځو ورځو ځنډ وروسته، يو پلا بيا پر سترخان د بانجانړو روڼ را ورسېدئ. خان صاب دا ټپال د بانجانړو له عيبو او تاوانو څخه ډېر سر وټکاوه. بېوزلي نوکر هم د بادار د خوشالۍ په خاطر، سمدلاسه د بانجانړو د عيبو او تاوانو په شمېرلو لاس پوري کړ. خان صاب د نوکر د خبرو تر اورېدو وروسته، هغه ته مخ ورواړاوه؛ او په خندا خندا يې ورته وويل: عجبه ده، هغه ورځ د بانجانړو په تعريف او ستاينه نه مړېدې؛ خو نن يې بيا په عيبو او تاوانو نه مړېږې؟ هلکه! علت څه دئ؟ عاجز او بېوزلي نوکر په کړه غاړه جواب ورکړ: صاحبه! زه خو د خان نوکر يم، نه د بانجانړ نوکر؛ په هر څه چي مي بادار خوشالېږي، زه هم هغسي وايم.»

په دې ډول، ګورو چي بېوزلي نوکران او مزدوران، د زړه سوي او پام اړولو دپاره، د بادارانو د نظريو، غوښتنو او نخشو له ستايلو او عملي کولو پرته، بله هيڅ لار نه لري.

## امریکايي ځواکونه او د سولي بې ځايه هيله

سوله او امنيت زموږ د ويرژلي او غملړلي هيواد تر ټولو لومړۍ او اساسي اړتيا ده؛ خو ايتلافي لښکر او امریکايي ځوني هيڅکله د رټېدلو افغانانو د دې ستري انساني هيلي په تر سره کېدو کي، چندان مرسته نسي کولای. د تېرو لسو کالو کاري ريکارډ زموږ ټولو مخ ته پروت دئ. ايا امریکايانو او د هغو متحدينو ته په تېرو لسو کالوکي دا حقيقت نه ښکارېدی، چي افغانستان ته ناامني او بې ثباتي له کومه ځايه راځي؛ او د هغې د مخنيوي دپاره بايد له څه عسکري، سياسي او اقتصادي ستراتيژۍ څخه کار واخلي؟! کوچنيان هم په دې پوهېږي، چي طالبانو او نورو وسله والو مخالفينو ته وسلې او دَرَستې، له اسمانه نه را لوېږي. سي. آی. اې. او د ايتلافي هيوادو استخباراتي شبکې تر موږ او تاسو په دې واقعيت ښه خبر دي. له همدې امله نو د افغانستان د حالاتو په وړاندي د امریکايانو او مؤتلفه قوتو اوسنی دريځ له دوو حالتو څخه وتلئ نه دئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- امريکايان او ور سره مؤتلفه پوځونه د خپلو ستراتيژيکو ګټو د تحقق په مقصد ، په لوی لاس هغو دولتو ، استخباراتي سازمانو او جنګي ډلو ته خه نه وايي، چي تر ګرده د سولي او امنيت په ټينګښت کي خاشې ماتيي. په تېرو لسو کالو کي پاکستاني مقاماتو ته د شاوخوا شلو(۲۰ ) ميليارډو ډالرو په ارزښت مرستي ورکول په خپله د دې ستراتيژۍ يوه برخه ده. امريکا له يوې خوا د خپلو ملګرو او دوستانو په لاس کي د پاکستاني اټومي وسلو د خوندي ساتلو او په افغانستان، هند ، چين او ايران کي د خپل نفوذ د پراخولو او له بلي خوا په پاکستان او شاوخوا سيمه کي د چنيانو (چينايانو ) د جيوستراتيژيک او جيوايکنوميک پرمختګ د شنډولو دپاره، پاکستاني خاوري ته په ټينګه اړتيا لري. البته، پاکستاني جنرالان په سياسي، اقتصادي او ستراتيژيکو برخو کي چين ته د لا نيژدې کېدو او په هيواد کي د اسلامي جنګياليو د لا پياوړي کولو او ملاتړلو له لاري، د پاکستان په وړاندي د امريکايي چارواکو پر سياسي، اقتصادي او ستراتيژيکو کړنلارو ژوره اغېزه ښندي. دا دئ ګورو ، چي امريکايان او متحدين يې خپلو خوږمنو ګوتو په کتو سره، د پاکستان هر راز ناز او نخرو ته غاړه ايږدي.

- د قضيې بل اړخ دا دئ، چي د وسله وال مقاومت ځپل يا مخنيوی په ريشتيا سره د امريکا او نورو ايتلافي ځواکو تر وس وتلې خبره ده.

اما په تيرو لسو کالو کي د افغانستان د سياسي او پوځي حالاتو شواهد او قراين ښيي، چي امريکايان په سيمه کي د خپل پوځي حضور د دايمي کولو دپاره قصداً اوبه خړيي. امريکايي ستراتيژيستانو ته له ورايه ښکاره ده، چي د القاعدې سرغنه او ځالي چيري دي؛ د وسلو ، مهماتو او اکمالاتو زېرمي له کومه ځايه را رواني دي؛ خو سره له هغه هم په سيمه کي د خپلو لويو استعماري هدفو د تحقق دپاره هيڅ ژغورونکي اقدام ته لاس نه وراچيي. د وسله والو مخالفينو مشرانو او قومندانانو کله کله په خپلو مطبوعاتي مرکو او خبرتياوو کي په ښکاره ادعا کړې ده، چي امريکايان او د کرزي حکومت منسوبين يې د اړتيا پر مهال وسلې او مهمات برابريي. د دې خبري مانا دا ده، چي امريکايي پوځيانو د اورو د تازه ساتلو په مقصد د خپل تېري له همغه پيل څخه تر او سه تل هم پر مېخ واهه او هم پر نعل؛ هم يې پاکستان راضي ساته او هم افغانستان؛ هم يې کابل حکومت ته وسلې او کومکونه ورکول او لايې ورکيي او هم يې د هغو مخالفينو ته. ولي؟ ځکه چي په افغانستان کي د مخالفو ځواکو تر منځ سياسي جوړجاړی، د سولي او امنيت ټينګښت او د يوه قانوني حکومت جوړېدل، په خپله د امريکا او نورو ايتلافي عسکرو د ستنه والي او تداوم اړتيا له منځه وړي.

د امريکايي پوځو له خوا دکليوالو افغانانو د ودانو کلو ، شنو باغو او نورو شتمنيو ورانول هم د دې استعماري پروژې يوه بله برخه ګڼله کيږي. زموږ وينبو وطندارانو ته مالومه ده، چي همدا اوس د امريکايي لښکرو له خوا په لوی لاس د کليوالو افغانانو کلي او کورونه، دوکانونه او باغونه نړول کيږي؛ د ټولو اسلامي او افغاني دودونو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاف یې ورځ او شپه په کورو او ماجتوکي تلاښۍ کیږي؛ او په بېلابېلو ډولو یې دیني عقایدو، فرهنګي ارزښتو او شخصي کرامت ته سپکاوی کیږي. زما په نظر د دې ستراتیژۍ مانا یوازې دا ده، چې د کلیوالو سیمو دردېدلي او خپمېدلي خلګ په لوی لاس د مخالفینو له لیکو سره یو ځای سي؛ د جګړې او نا امنۍ اورونه تازه وساتل سي؛ او په دې توګه په افغانستان او سیمه کي د امریکایانو عسکري حضور ته ظاهراً معقوله او مؤجه پلمه پیدا سي. د دې استدلال له مخې دا خبره له عقله لیري نه ده، چې د طالبانو او نورو وسله والو ډلو په زیاتېدونکو پوځي بریدو او پرمختیاوو کي هم د یرغلګرو لښکرو پټ لاس پروت دئ.

اساسي پوښتنه دا ده، چې په دواړو حالتو کي د امریکایي پوځو دایمي حضور، په افغانستان کي د سولي او امنیت له را وستو او د یوه قانوني حکومت له جوړولو سره څه مرسته کولای سي؟ په لومړي حالت کي، لکه څنګه چې ګورو، امریکایانو او ملګرو یې په خپله له قاتلانو، غلو او لاري وهونکو سره د جوال خوله نیولې ده؛ قصداً د سولي او ثبات په راوستو کي خاشې ماتیي؛ او په دې ډول د خپل حضور د تداوم دپاره پلمې او سفسطې تراشي. په دوهم حالت کي، لکه څنګه چې د قضیې ظاهر ښیي، امریکایان او نور ایتلافي قوتونه له خپل ټول پوځي او اقتصادي توان سره سره، د مخالفینو د ورکولو یا ماتولو وس نه لري. په داسي شرایطو او حالاتو کي نو د عسکري اډو دوام د افغانانو څه درد دوا کولای سي؟ په بله وینا، د لستوڼي مار یا کمزوری ملګری افغانانو ته څه خیر رسولای سي؟

د امریکا د همېشنییو عسکري اډو پلویان باید په دې روښانه حقیقت هم ښه سر خلاص کړي، چې له امریکا سره دوستي او له پاکستان سره دوښمني دوه متضاد او متناقض دریځونه دي. پاکستان د «سیټو» او «سینټو» له زمانې څخه تر اوسه پوري په سیمه کي د امریکا د متحدو ایلاتو وفادار او باوري ستراتیژیک ملګری دئ. له انګرېزانو سره دوستي خو یې تر دې هم زړه ده. که له حقیقته سترګي پټې نسي، انګرېزانو د هند د نیمي وچې د وېشلو، د پخواني شوروي اتحاد د نفوذ شنډولو او په سیمه کي د خپل دایمي حضور د خوندي ساتلو دپاره پاکستان جوړ کړی دئ.

د امریکایي یرغل او امریکایي چوڼییو پلویان په تېرو لسو کالو کي خپلو امریکایي او انګرېزي بادارانو ته ناري وهي، چې پاکستان د افغانستان د بې ثباتۍ او بربادۍ اصلي عامل دئ؛ خو امریکایي او انګرېزي ستراتیژیستان په پاکستان کي د خپلو اوږدو سیاسي، اقتصادي او ستراتیژیکو ګټو پر بنسټ د دوی چغو او نارو ته ددوو توتو ارزښت نه ورکیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسامه بن لادن د پاکستان له اوردو ژبې ورځپاڼې (اُمت) سره په خپله اوږده مرکه کې یادونه کړې وه، چې د پاکستان له نامه سره همېشه د دوی [القاعدې] زړونه تپېږي. دی زیاتوي: «خدای مکړه، که سخت حالات راسي، موږ به پاکستان په خپلو وینو وساتو. پاکستان موږ ته د عبادتځی په څېر سپېڅلی دئ. موږ د جهاد خلګ یو، له دې امله د پاکستان د دفاع د پاره جنګېدل، موږ ته تر ټولو غوره جهاد برېښي. البته، موږ ته دا خبره ارزښت نه لري، چې د پاکستان واک د چا په لاس کې دئ...» د دې مرکې نور تفصیل دلته ولولئ:

http://www.globalresearch.ca/index.php?context=va&aid=24697

د بن لادن دا بیان په ډاګه ښیي، چې آی. ایس. آی. او القاعده نه بېلېدونکي یاران دي. باید هم نه بېلېدونکي يي. هغه څوک چې د یوه پردي ملک د پاره سر او وینې ښندي، په واقعیت کې له هغه ملک سره نه شلېدونکې مینه لري. لکه څنګه چې مخکې یادونه وسوه، که امریکا د پاکستان له یارۍ او انډیوالۍ څخه لاس نسي اخیستلائ، ایا د هغه له نه بېلېدونکي ملګري او متحد - القاعدې - له یارۍ څخه لاس اخیستلائ سي؟ دا د منطقو یوه ډېره ساده او اسانه فرضیه ده. لوی او کوچنی ګرده په پوهېږي. همدا اوس په لېبیا کې د القاعدې له ځینو جنګیالیو سره د امریکا او نورو لوېدیځو هیوادو عسکري، مالي او استخباراتي مرستي په څه مانا دي؟ زه نه پوهېږم، د امریکایي اډو ببلابېل پلویان د امریکایانو په ستایلو او د پاکستانیانو په کړلو څه تر لاسه کیي؟!

د دې پر ځای باید په دې واقعیت ځانونه پوه کو، چې په افغانستان او سیمه کې د ټولو فتنو او خباثتو اصلي مَوْږۍ څوک دئ؟ او دا خطرناکه لوبه د مقصد د پاره روانه ده؟ هیله من یم، په افغانستان کې د امریکا د عسکري تأسیساتو د تداوم پلویان او خواخوږي د غفلت له درانه خوبه را ویښ سي؛ او د دې ټولو استعماري فتنو او ناولو لوبو په علت العلل ځانونه پوه کړي.

ریښتیا خبره دا ده: تر هغه مهاله، چې د استعمار تور لاسونه په توطیو او دسیسو بوخت یي، نه یوازي زموږ وران او په وینو لړلئ هیواد سوکاله ورځ نسي لیدلائ، بلکې د نړۍ نور مظلوم ملتونه به هم د دې «بشردوستو» او «متمدنو» قاتلانو د خونړي ناتار له امله د قیامت ورځي او شپې تېریي. لېبیا، یمن، بحرین، مصر، تونس، فلسطین او داسي نور ملتونه، ګرده د دې مدعا څرګند او روښانه ثبوتونه دي. یو ځل سترګي پرانیزئ او واقعیتونه په غَوَر او دقت سره وګورئ!

## امریکایي چوڼۍ او په افغانستان کي د تنظیمي جګړو د تکرار اندېښنه

د امریکایي چوڼیو د تداوم ډېری پلویان وایي، که امریکایي پوځونه نه یي، نو په افغانستان کې به یو پلا بیا د ۱۳۷۱ کال د کورنیو جګړو په شان د وینو والي وبهېږي؛ د خلګو پر نوامیسو به تېری وسي؛ دا نیم ودان، نیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کندړواله ښارونه به بیا د بېلابېلو جنګي ډلو د سیاسي اقتدار په لیونییو لوبو کي له خاورو سره خاوري سي؛ او داسي نوري اندېښنې، چي فهرست يې خورا اوږد دئ.

زه د يوه داغدار افغان په توګه ،چي د کابل په تنظيمي جګړو کي مي د پښتونوالي په ګونا سکه ورور وژل سوی؛ او د زرونو نورو کابليانو په شان مي پلرنی کور په توغندييو نړول سوئ، د کابل ښار په خونړييو او زړه لړزونکو پېښو، ډېر ښه خبر يم. لوی څښتن دي هغه توري او خونړۍ ورځي د نړۍ پر هيڅ ملت نه راولي. له دې سَوَبه فکر نه کوم، هيڅ دردمن او با احساسه افغان د کابل د تنظيمي جګړو د تکرار خطر ته په سپکه سترګه وګوري. موږ ټول افغانان بايد په عمل، خبرو او قلم د کابل د تېرو وحشتناکو جنګو د مخنيوي دپاره په ګډه کار او مبارزه وکو ؛اما په هيواد کي د امريکايي عسکرو همېشنۍ چوڼۍ د دغه راز ستري ملي غميزي د مخنيوي معقول او منطقي حل نه دئ؛ ځکه امريکايانو د کابل وحشتناکو تنظيمي جګړو ته په پام سره، په تېرو لسو کالو کي حقوقي او اخلاقي مسوولیت لاره، چي د داسي جهنمي او شيطاني جنايتو مسببين نړۍ والي جنايي محکمې ته بوزي؛ له سياسي واک څخه يې لاسونه لنډ کړي؛ د تورو پيسو او تورو معاملو پوښتنه ګروېږنه يې وکړي؛ او په دې توګه د کړېدلو افغانانو له زړو څخه هغه اندېښنه مخکي له مخکي ليري کړي ، چي دا دئ نن يې د خپلو پوځي اډو د ځای پر ځای کولو دپاره د يوې مهمي او ظاهراً مؤجه پلمې په توګه استعماليي.

بېله شکه، د داسي جنايتکارو او بې مسووليتو جنګي ډلو تېپلو د ملاتړلو او نازولو په شرايطو کي، هيڅکله د کابل د خونړييو تنظيمي جګړو له تکرار څخه انکار نسي کېدای؛ ځکه له اور او باروتو سره لوبې، بې چاوندني او تباهۍ بله نتيجه نسي لرلای؛ خو د داسي ملي فاجعې د بيا پېښېدو د مخنيوي دپاره د سمي او منطقي لاري په اړه تر خبرو اترو مخکي بايد په افغانستان کي د امريکايي لښکرکوټو له درنو او محترمو پلويانو څخه پوښتنه وکو ، چي په داسي اوضاع او حالاتو کي نو د کابل د تېرو وحشتناکو تنظيمي جګړو د تکرار مسووليت د چا په غاړه دئ؟ ايا همدې يرغلګرو لښکرو په تېرو لسو کالو کي د هيواد بېلابېلو جنګي او مافيايي ډلو ته د هر راز امکاناتو په برابرولو سره، په لوی لاس، د کابل د وحشتناکي فاجعې تکرار ته لار نه ده هواره کړې؟ که امريکايانو او نورو ايتلافي ځواکو ريښتيا هم له تنظيمي ايله جاريانو او نورو خاينو عناصرو څخه د بې ګونا او بېوزلو افغانانو د ژغورني مينه لرلائ، له لويه سره به يې دې بې مسووليته جنګي ډلو تېپلو ته د انسان وژني او تباهۍ امکانات نه برابرول؛ هماغه وخت به يې د پاکستاني پوځيانو ، ايراني اخوندانو او شرمېدلو روسانو د ډول ډول لاسوهنو مخه نيولې وای؛ او له رټېدلو افغانانو سره به يې د يوه ريښتيني ملي او ولسي حکومت په جوړولو کي مرسته کړې وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو ! دا خبره تر لمر روښانه ده، که د نجیب الله د حکومت له پرزېدو سره سم د یوه ملي حکومت په جوړولو سره د جنګي ډلو ټپلو د چپه او راسته غوبلو مخه نیول سوې وای په کابل کي به زموږ شاوخوا پینځه شپېته زره (۶۵) بې ګونا هیوادوال په ډېر وحشیانه ډول نه وژل کېده؛ زموږ لکونو بېوزلو او مظلومو عزیزانو به د سر او ناموس خوندي کولو د پاره خپل کورونه او کلي نه پرېښوول؛ کابل ښار به د چنګېزیانو په دود نه ورانېدی؛ د هیواد تاریخي او فرهنګي میراثونه به په دونه بې رحمۍ نه لوټېده؛ او په هیواد کي به د پوهي او روڼا دروازې نه تړل کېدې...

په خواشینۍ سره امریکایي استعمارګرانو د خپلو ناولو مقصدو تر پوره کولو وروسته افغانانو ته شا ورواړوله؛ او افغانستان یې د ګاونډیانو او کورنیو لېوانو وخولو ته وروغورځاوه. ښه ! تېر پر تېر هېر پر هېر. راسئ د ۲۰۰۱ع کال په اکتوبر کي د امریکایانو تر پوځي یرغل وروسته شرایط او حالات په پام کي ونیسو. دا ځل خو د ټولو ناخوالو مسوولیت مستقیماً د امریکایي واکمنانو پر اوږو پروت دئ. هیڅوک دا نسي ویلای، چي دا ویني او اورونه، دا ورانې او ویجاړې د افغانانو مسوولیت دئ؛ ځکه موږ او تاسو ټولو ته مالومه ده، چي دا اور چا و لګاوه؟ هیڅوک له دې ښکاره حقیقت څخه نته نسي کولای، چي بهرنیو پوځو، په تېره بیا امریکایي عسکرو له څه کم لسو کالو راهیسې د دې ملک ښه او بد ټول په خپلو لاسو کي اخیستي دي؛ خو دا واریې بیا ولي څه شهکاري ونکړه ؟! بیا یې ولي د پسو او شپانه د ژغورني پر ځای د لېوانو خوا و نیوله؟!
څه سوې د انتقالي عدالت، امنیت او قانونیت هغه لویې لاپې او باتې؛ څه سوه د ډیموکراسۍ او بشري حقوقو هغه شرنګولي شعارونه او سرودونه؛ څه سوه د افغانستان د بېوزلو او کړېدلو خلګو د نېکمرغۍ د پاره هغه «سره او زرغونه باغونه» ؟!

واقعیت دا دئ، چي د کابل په تېرو تنظیمي جګړو کي نغښتي جنایتکاري او ورانکاري ډلي ټپلي د او سنیو یرغلګرو لښکرو او ګاونډیو جاسوسي سازمانو تېروني ملګري دي. ټولو افغانانو ته څرګنده ده، چي ایتلافي پوځو په تېرو لسو کالو کي نه د خپلو پاکستاني متحدینو پر خلاف څه اغېزمن او ګټور اقدام وکړ؛ او نه تر اوسه تیار دي، د افغانستان هیڅ پخوانۍ جنګي ډله ټپله له ځانه مروره کړي. په دلیل یې هم د هر چا ښه سر خلاصېږي. سبا په چین، هند، مرکزي آسیا، روسیې او نورو هیوادو کي د اورلګولو او اوبو خړولو د پاره د هغو مخلصانه خدمتونه ته اړ دي. په داسي حال کي، چي ریښتیني روښانفکران، ملي او هیوادپال شخصیتونه او خپلواکۍ غوښتونکي خلګ د استعمارګرانو د انساني ضد نخشو په عملي کولو کي هیڅ راز مرستي ته زړونه نه ښه کیي، امریکا او نورو ایتلافي دولتونه هیڅکله دا همېشني ملګري یا ګټوره ستراتیژیکه پانګه له لاسه نه باسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که امریکايانو او نورو ایتلافي دولتونو په افغانستان کې د جګړې او ورانکارۍ اورونه مړه کړي وای؛ خلګو ته یې کار او روزګار برابر کړی وای؛ او د یوه ریښتیني ملي او ولسي دولت و راوستلو ته یې د اسانتیاوو برابرولو له لارې د روانو شخړو او ناخوالو مخه نیولې وای، بیا به هیڅکله د تنظیمي جګړو او نورو غمیزو د تکرار بېره او اندېښنه نه پاتېده. جنګ ځپلو افغانانو به د هیواد په تېر دو دېرش کلن تاریخ، په تېره بیا تنظیمي جنګوکي د خپلو بدو ورځو او خونړیو پېښو په ور یادولو سره د ایتلافي عسکرو د بیرته ستنېدو له امله د زړه له کومې خواشیني کولای؛ خو نن هر څوک ګوري، چې له څو مزدورو واکمنانو، جاسوسانو، جنګي او مافیايي ډلو پرته ټول رېړېدلئ افغان اولس په بې صبرۍ سره د یرغلګرو لښکرو د وتلو شېې او ورځې شمېري. دلیل یې هم لمر غوندي روښانه دئ: له یوې خوا د افغانستان د تېر دو دېرش کلن تاریخ تر ټولو خطرناک جنایتکاران، وطن پلورونکي، غله او مفسدین د امریکایانو او نورو اشغالګرو تر وزرو لاندې د واک پرګدۍ ناست دي؛ وسلې، پیسې او سرې لري؛ او له بلې خوا هیڅ‌چا د دې رنځېدلو خلګو د ارامۍ او سوکالۍ د پاره په ریشتیا کار و نه کړ.

زمونږ مظلوم خلګ هره ورځ د هیواد په ګوټ ګوټ کې د ۱۳۷۱ کال تر تنظیمي جګړو وحشتناکې غمیزې ګوري. د کونړو، شینوارو، عزیزآباد، چپرهار، کندوز، خوست، پکتیکا، روزګان، هیلمند، کندهار، زابل، غزني، لغمان، او لسګونو نورو سیمو تراژیدۍ په څه لحاظ تر پخوانیو پېښو کوچنۍ او بې ارزښته دي؟! ایا په هره پېښه کې زمونږ پر بې ګونا هیوادوالو د قیامت شېبې نه سوې تېرې او لا نه تېرېږي؟ البته، په دې زړه لړزونکو دردو او غمیزو یوازې د زړو خاوندان پوهېدای سي- هغه کسان چې انساني مینه او عاطفه ولري؛ درد او مصیبت یې لېدلئ یې- نه هغه کسان، چې د ماړه نس پاړسي وايي. ایا د کندهار په ارغنداو، ژړۍ او پنجوایي کې د زرګونو کنداریانو په دردونکي حال خبریاست، چې همدې امریکايي او ایتلافي لښکرو یې د ۲۰۱۰ ع کال د منې په وحشیانه عملیاتو کې له نارینه وو، ښځو، کلو، باغو، ماجتو، دوکانو او نورو شتمنیو سره څه معامله وکړه؟! که نه یاست خبر، زه به مو په خبر کړم: ایتلافي فرعونانو دغو بشري ضد عملیاتو ته د «هیلي!» نوم ورکړی ؤ. هو! د بې ګونا خلګو د بې رحمانه وژنې او چنګېزي تباهۍ «هیله!» امریکايي پوځ د همدې عملیاتو په ترڅ کې د ارغنداو ولسوالۍ د خُسرو په سیمه کې یوازې د تَرَکو پر کلاچه پینځه ویشت (۲۵) ټنه یاني پوره دوه زره پینځه سوه (۲،۵۰۰) کیلو ګرامه چاودېدونکي مواد و غورځول؛ او په دې توګه یې د کلي ټول اووه ویشت کوره د لاس د ورغوي په څېر هوار کړه. د دې بې ساري جنګي جنایت تصویري بیان او نور جزییات، په دغو ویبپاڼو کې ولولئ:

http://www.wsws.org/articles/2011/apr2011/afgh-a19.shtml
http://www.benawa.com/details.php?id=41909
http://www.surgar.net/-news-pg-Hot-News-1651.html
http://www.globalresearch.ca/index.php?context=va&aid=24444

(c) ketabton.com: The Digital Library



د «ترکو کلاچه» یوازنۍ کلی نه دئ، چې د مځکې له مخې نابود سو. په دغو عملیاتو کې ډېر نور ودان او سمسور کلي هم د بمو او باروتو په زور په سپېرو دښتو او وحشتناکو کنډوالو واوښته. د بې غیرته او مزدور کرزي له خوا ټاکل سوي کمیسیون هم په دغو وحشتناکو علمیاتو کې، د خلګو مادي شتمنیيو ته اوښتئ زیان سل (۱۰۰) میلیونه ډالر وباله. د دې حقیقت تفصیل، دلته وګورئ:

www.reuters.com/article/idUSTRE70A3B620110111

البته، دا خو د امریکایي پوځ په دې کاوبايي سټایل عملیاتو کې یوازې د مادي تاوان خبره وه؛ ځکه زموږ بې ګونا خلګو ته اوښتي ځاني تلفات او د عملیاتو په ترڅ کې ببره، وحشت، سپکاوی او بې عزتي خو په سلګونو میلیونو ډالرو هم نسي محاسبه کېدای.

ایا د ودانو کلو داسې ظالمانه هوارول او ویجاړول د هغه پروګرام یوه برخه ده، چې امریکایان او نور ایتلافي پوځونه یې په دې کچول او جنګ ځپلي هیواد کې د بشري حقوقو، ډیموکراسۍ، سولې، امنیت او ترقۍ په نامه پر مخ بیایي؟ ! د امریکايي چوڼیيو د «رسمیت» او «قانونیت» پلویان دې، جواب ووایې؟

البته د ارغنداو، ژړۍ او پنجوايي عملیات د ایتلافي قواوو لومړني او وروستي عملیات نه دي. هره ورځ، هره شپه، دوري هوري، د دغه راز خپلسرو او بې پروا عملیاتو په ترڅ کې زموږ پر بې کسه او بې وسه افغانانو داسې چپه مېچنې تاوېږي، چې د دې خاوري په تاریخ کې یې ډېر لږ مثالونه تر سترګو سوي دي.

په داسې شرایطو او حالاتو کې خو ماته د تنظیمي ملېشو او فرعوني لښکرو د بې رحمانه وژنو او چنګېزي ړنګولو تر منځ هیڅ توپیر، نه مالومېږي؟ مګر دواړه ډلې د افغانانو په وژنه او تباهي کې یو تر بل بتر نه دي؟
سربېره پر دې، ایا دواړي خواوې همدا اوس هم د شرمښانو په څېر زموږ د بې دفاع خلګو د حلالولو او کورورانولو د پاره، په یوه مورچل کې ناست نه دي؟ قضاوت تاسو حقپالو او باضمیره لوستونکو ته پرېږدم.

په دې توګه ګورو، چې امریکايي لښکرکوټونه هیڅکله ربړېدلي افغانان د بلاوو له منګولو څخه نه ژغوري. لکه څنګه چې پوه او سترګه ور لیکوال - ښاغلي موسوي په افغانستان کې د امریکایي چوڼیيو د خطرو په اړه له «افغانستان آزاد - آزاد افغانستان» ویبپاڼې سره په خپله صوتي مرکه کې یادونه کړې ده، له څو چونګښو څخه د ژغورني په خاطر باید هیڅکله د نهنګ یا تمساح خولې ته پناه یونسو. مګر موږ او تاسو ټولو د سر په سترګو و نه لېده، چې د تنظیمي جګړو په پای کې، همدغو کوچنیيو او لویو چونګښو څنګه د څو لځو، لغړو طالبانو له بېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواجه بهاء الدين، کولاب، مشهد ، پېښور ، دبۍ ، تورکيې، اوروپايي هيوادو ، کاناډا ، امريکا او استراليا ته پېښې سپکې کړې. نن هم زموږ زړور او مړني خلگ له دغه راز پو مبه يي زمريانو او پهلوانانو څخه هيڅ بهره نه کيي.

د چونگښو ، نهنگانو ، سپيانو او چغالانو له بېلابېلو خطرو څخه د ژغورني دپاره بايد د بلا غېږ ته د پناه وړلو پر ځای خپل خلگ را وينښ کړو ؛ د قوم، مذهب، ژبې، سيمې، سياسي نظريو او داسې نورو پر بنسټ را منځ ته سوي واټنونه ايسته کو ؛ او په يوه وجود او يوه اواز د دې واحد ملت او دې گډ کور له بېلابېلو دوښمنانو سره د مبارزې په سنگر کې ودرېږو. ماته د دې خبرې په ريشتياوالي کې هيڅ شک نه ښکاري: تر څو کورنۍ او بهرنۍ يا لويې او کوچنۍ بلاوي له دې وطنه ورکې نسي په افغانستان کې د سولې، ارامۍ، خپلواکۍ، قانونيت، عدالت او ترقۍ هيله د اوبو پر مخ کرښې دي او بس.

## د امريکايي چوڼيو نن او سبا

د امريکايي چوڼيو د تداوم ځيني پلويان ادعا کيي(کوي)، چې گواکې امريکايي چوڼۍ اصلاً د نن خبره نه ده، بلکې دغه راز چوڼۍ په واقعيت کې تر ۲۰۱۴ع کال وروسته جوړېږي. دوی استدلال کيي، چې تر هغه مهاله به په هيواد کې سوله او امنيت هم په بشپړه توگه ټينگ سوی يي. دا ښاغلي ډاډه دي، چې هغه مهال به د امريکايي چوڼيو عسکر د افغانانو دکورو په تلاښۍ او نوروکورنيو امنيتي چاروکې هم برخه نه اخلي، بلکې يوازې به د هيواد د سياسي پولو ، ملي خپلواکۍاو سياسي استقلال د دفاع چارې پر مخ بيايي.

زما خو په دې تعقل او منطق هيڅ سد نه رسيږي. که څوک استدلال کيي، چې امريکايي چوڼۍ به تر ۲۰۱۴ع کال وروسته، د بهرني تيري په وړاندې د افغانستان د دفاع مسووليت په غاړه لري، زه يې په جواب کې وايم، چې دا بهرني تېري او بهرنۍ لاسوهني خو له کلونو کلونو راهيسې رواني دي؛ هر څوک يې د سر په سترگو گوري. د هيواد په گوټ گوټ کې له کلونو د جنگ او وحشت اورونه بل دي؛ شپه او ورځ د افغانانوويني بهيږي؛ ورانۍ او تباهۍ رواني دي. سړی نه پوهېږي، چې تېری او لاسوهنه، تور دئ که سپين؟! دا چې امريکايي او ايتلافي لښکرو له تېرو لسو کالو څخه، د دغه راز تېريو او لاسوهنو په شنډولو کې هيڅ مرسته نه ده کړې، هغه بيا کاملاً بېله خبر ده.

عجبه لا دا ده، چې امريکايي لښکرو خو د خپل يرغل له همغې اولې ورځې څخه غټې غټې ادعاوې کولې، چې د القاعدې، طالبانو او نورو تروريستانو د ورکولو دپاره افغانستان ته تللي دي. که دا خبره ريشتيا وای، نو ولې يې تر دې دمه د سولې او امنيت په راوستو کې ريښتينې، فعاله او رغنده برخه وانخيسته؟ تېر لس کلن ريکارډ خو له ورايه ښيي، چې يرغلگرو لښکرو ، نه يوازې افغانستان ته سوله او امنيت، ولسواکې او قانونيت را نه وست، بلکې په ټوله سيمه کې يې د دوښمنييو او نفرتو لمبې بلې کړې؛ او دا دئ نن ټول گورو ، چې دا لمبې د هرې ورځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تېرېدو سره لا پسې غزېږي او تونديږي. که سبا په هيواد کي سوله او امنيت ټينګ سي، بيا نو پردو عسکرو او پردو چوڼيو ته څه ضرورت دئ؟ !

ايا په اوسنيو شرايطو کي څوک د افغانستان د کورني او بهرني امنيت ترمنځ د بېلتون کرښه ايستلای سي؟ ايا زموږ د هيواد کورنی او بهرنی امنيت د يوې سيکې د دوو مخو په شان، يو له بله تړلي نه دي؟
امريکايي او ايتلافي لښکرو که ريشتيا زموږ د ژغورني دپاره توره کولای، بايد پرون او نن يې دا توره کړې وای، چي د جنګ او ناامنيو، زورزياتيو او بې عدالتيو له کبله د مظلومو او بې پناه افغانانو کړېږي تر اسمانو رسېدلي دي.

ايا دا خبره تعقل او منطق لري، چي امريکايي او نور ايتلافي پوځونه اوس هيڅ مسووليت نه لري؛ خو تر ۲۰۱۴ع کال وروسته بيا په بشپړه توګه تيار دي، د افغانستان د خاوري او خپلواکۍ د دفاع دپاره وينې کړي؟ په دې استدلال خو باور وکئ، چي د لومړني ښوونځي هلکان هم نه تېروزي. له بله پلوه، آيا دا په دووګوتو د لمر پټول نه دي، چي څوک ادعا وکړي، امريکايي چوڼۍ تر ۲۰۱۴ع کال وروسته جوړيږي؟ مګر دا خاوره له تېرو لسو کالو راهيسي د امريکايي او ايتلافي لښکرو د بې رحمانه تاړاکو ميدان نه دئ؟ ايا همدا اوس د امريکا څه د پاسه يو لک تر غاښو سمبال پوځ او په ملکي جامو کي د يو لک په شا وخوا کي نور وسله وال ( د استخباراتي، امنيتي او اکمالاتي شرکتو غړي) د څه د پاسه پينځوسو زرو نورو ايتلافي قوتو تر څنګ، په دې جنګ ځپلي هيواد کي، چپه او راسته غوبلونه نه کيي؟ زه نه پوهېږم امريکايي چوڼۍ ښکرونه لري که لکۍ؟ ! ايا د چوڼيو او لکونو پوځيانو، امنيتي شرکتو او عسکري مُخبرانو تر منځ، په مانا کي څه توپير سته ؟ په دې توګه، امريکايي چوڼۍ هيڅکله د ۲۰۱۴ع کال خبري نه دي. دا سي چوڼۍ له تېرو لسو کالو راهيسي جوړي سوي دي.

که ديوې شېبې دپاره دا ومنو، چي امريکايي چوڼۍ به تر ۲۰۱۴ع کال وروسته جوړيږي، بيا نو اساسي پوښتنه دا ده، چي دغو ټولو نابللو مېلمنو په تېرو لسوکالوکي د کورني او بهرني تېري په وړاندي زموږ د خلګو او هيواد د ساتني دپاره څه توره وکړه، چي تر ۲۰۱۴ع وروسته به نوره وکي؟

ايا دا خبره د منلو وړ ده، چي امريکايي پوځونه اوس د خپلسرو ايله جاريانو په څېر عمل کيي، خو تر ۲۰۱۴ع کال وروسته به يې صلاحيتونه او مکلفيتونه د يوه حقوقي او قانوني نظام په چوکاټ کي تنظيم سي؟
که داسي يې، نو بيا خو پوښتنه دا ده، چي په تېرو لسو کالو کي يې ولې د يوه منظم حقوقي نظام په جوړولو سره د خپلسريو او سرغړونو مخه نه نيول کېدی؟ له بلي خوا څوک د اتضمين ورکولای سي، چي دا فرعوني ځواکونه به تر ۲۰۱۴ع کال وروسته هم، وضع سوو قواعدو او مقرراتو ته غاړه ايږدي؟ مګر د جاپان دولت له خپل ټول لوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نامه، صنعت او پرمختګ سره سره دا توره کړې ده، چې د خپل هیواد په اوکیناوا ټاپوګانو کې د امریکايي پوځي منسوبانو د زرګونو فقرو جرمو او جنایتو، مخنیوی وکړي؟!

زموږ د رنو لوستونکو ته څرګنده ده، چې اوس هم کرزی د ایتلافي قواوو په عملیاتو کې د ملکي افغانانو د بې رحمانه وژنو له کبله یو و نیم اعلامیې او احتجاجيې خپروي؛ تر ۲۰۱۴ع کال وروسته به هم دا کار دوام و مومي؛ خو د دغه ډول تشو او پوچو اعلامیو په خپرولو سره به زموږ مظلومو خلګو ته څه ګټه ورسیږي؟! ایا هغه مهال به کرزی یا بل مزدور حُکمران د خپلسرو پردو لښکرو د لاس پښچلو یا غوږ تاوولو جرأت ولري؟! فکر نه کوم. که جاپاني منتخب واکمنان دا جرأت نه لري، بیچاره کرزی یا د هغه پر ځای ناستی بل مزدور به څنګه دا جرأت ولري؟ نتیجه دا ده، چې پردي عسکر به نن هم د فرعونانو غوندي زموږ په ژوند او هستۍ لوبې کیږي؛ او تر ۲۰۱۴ع کال وروسته به هم همدا غوبل روان يي.

تشي احتجاجي خبرتیاوي یوازي د واک اوږدولو د پاره د مزدورو واکمنانو چل ول او سیاسي تاکتیک دئ. بشپړ باور لرم، چې د افغان اولس د پاربدلو احساساتو د تسکین د پاره دغه راز بې مانا اعلامیې او احتجاجیې، ډرامې او ناټکونه ګرده د بهرنیو بادارانو په مستقیمه لارښوونه او مشوره کیږي. ماته خو هغه اعتراض او احتجاج له تشو خبرواو براس ایستلو پرته بل څه نه ایسي، چې له غوځ او پرېکنده عمل سره ملګری نه يي. نن تش په نامه زرګري اعتراض او احتجاج؛ سبا بیرته پر یوه سترخان ټوکي او خنداوي، څه مانا لرلای سي؟! حقیقت هر چاته روښانه دئ. اسیر، بې واکه، مزدور او ګوډاګي واکمنان کله د خپلو بادارانو په وړاندي د غوځ او پرېکنده عمل زړورتیا لري.

خیر، د افغانستان او سیمي سیاسي شنونکي له لومړۍ ورځي څخه په دې باور دي، چې امریکايي عسکر افغانستان ته د سولي او امنیت، ډیموکراسۍ، بشري حقوقو او قانونیت په مقصد نه دي تللي؛ او تر دې وروسته به هم زموږ د جنګ ځپلي خاوري د ساتني او خوندیتوب هیڅ غم ونخوري. د دوی هدف د یرغل له همغه لومړۍ ورځي څخه ترننه، خپلي استعماري ګټې دي اوبس.

دامریکايي چوڼیو د دایمي حضور له ښاغلو پلویانو څخه زما بله مهمه پوښتنه دا ده، چې که د پردو لښکرو همېشنی حضور د وطن او خلګو په ګټه کار يي، نو ولي مو د څه د پاسه دوو میلیونو شهیدانو، معیوبینو او معلولینو په ورکولو سره، د شورویانو سور پوځ له ملکه وشړئ؟ ولي مو روسانو ته د دایمي لښکرکوټو د جوړولو اجازه ورنکړه، چې له یوې خوا مو لاس په لستوني همسایګان وه؛ او له بلي خوا يې په تاریخ کي هم له افغانانو سره د پرنګیانو په اندازه، وحشیانه ظلمونه نه وه کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د بهرنيو پوځو حضور او لښکرکوټونه معقول او ګټور کار واى، نو زموږ پلرو او نيکو ولې د وينو په توېولو او د سرونو په ښندلو سره هيڅ پردي پوځ ته د پښې ايښوولو ځاى نه ورکاوه؟ موږ ولې د ميرويس نيکه، شاه محمود، شاه اشرف، احمدشاه بابا، وزير اکبرخان، عبدالله خان اڅکزي، امين الله خان لوګري، ميربچه خان کوهدامني، ميرمسجدي خان، محمدجان خان وردګ، ملا مشک عالم اندړ، ايوب خان، سپيني ادې، ملالۍ، غازي امان الله خان او سلګونو نورو ملي اتلانو په حماسو او کارنامو وياړو؟!

جواب کاملاً روښانه دئ. هغوی دا خاوره د خپلو سرونو او وينو په بيه د پردو له کرغېړنو قدموڅخه پاکه کړې؛ او موږ ته يې د يوه ارزښتناک ميراث په توګه پرېښې ده. ښايي د پردو ځيره خواره بالاخره په دې اعتراف هم و نه شرميږي، چې زموږ پلرونه او نيکونه تېروتلي وه؛ ناحقه يې له پرنګيانو او نورو يرغلګرو سره ډغري وهلي دي؛ بايد پرېښې يې واى، چې انګرېزانو يا نورو پردو دې ملک ته «ترقي» او «پرمختګ» راوستی وای. زه وايم کور ښادو، که مو د ترقۍ او پرمختګ په هيله پرنګيانو يا نورو يرغلګرو فاتحانو ته د دې تاريخي خاورې واګې سپارلې واى، بيا به نو د افغانستان نوم هم نه واى پاته. د امريکا متحده ايالات، استراليا او کاناډا يې تر ټولو غوره او ژوندي مثالونه دي. تاسي وګورئ، چې په متحدو ايالاتو کې د د غه خاورې د بومي اوسېدونکو يا امريکايي هنديانو (American Indians, Red Indians, Indians) او په استراليا او کاناډا کې د دغو هيوادو د ځايي اوسېدونکو (Aboriginals) د هويت او بقاء خبره اوس کوم ځاى ته رسېدلې ده؟! ټول جهان ګوري، چې د همدې «متمدنو» او «پرمختللو» مهاجمانو له شامته اوس د دغو او داسي نورو هيوادو د اصلي او بومي اوسېدونکو نسلونه، ژبه او کولتور د ورکېدو په حال کې دي.

د مرکزي آسيا د اولسو په دردوونکي فرهنګي او اجتماعي حالت هم موږ و تاسي ګرده ښه خبر يو. مګر تاجيکو، اوزبکو، تورکمنو، قرغيزو، قزاقانو، آذريانو او په دې سيمه کي نورو مېشتو قومو د روسي استعمار د څو اويا کلني واکمنۍ له شامته، خپلي ژبې، ادبيات، فرهنګ او تاريخي وياړونه، نه وه له لاسه ور کړي؟ نوري خبري به پرېږدو، په تاجيکستان، اوزبکستان او آذربايجان کې د «رحمانوف»، «کريموف»، «على يف» او داسي نور تخلصونه د څه واقعيتو ښکارندوی وه؟ ايا په دې پراخه حوزه او د هغه هيواد په نورو سيمو کې د ځايي اولسو د ژبو، ادبياتو او فرهنګي ارزښتو له منځه وړل، ټول د هغه استعماري تاړاک زېږنده نه وه، چې په دغو سيمو کې د روسي عسکرو د لښکرکوټو او چوڼيو د ځاى پر ځاى کولو له لاري عملي سو؟ سربېره پر دې، داسي ډېر مثالونه په ګوته کېداى سي، چې د پردو پوځي تأسيساتو، د بومي خلګو د ژبنيو، کولتوري، فکري او تاريخي ارزښتو په ورکولو او بې رنګه کولو کي ډېره لو(لويه) ونډه اخيستې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ په خپل لرغوني هيواد کې په پخوانو زمانو کې د هخامنشي او يوناني دورو آثار او وروسته بيا د بودايانو، عربانو، چنګېزيانو، ګورګانيانو، صفويانو، پرنګيانو، روسانو او امريکايانو پراخې سياسي، اجتماعي، فرهنګي، مذهبي او هونري اغېزې ګرده د دغو تاريخي واقعيتو روښانه مصداق دئ. د کوربه هيواد خلګو ته د پردو عسکرو د همېشنۍ استوګنې ورانونکی رول، د دغو مسألو په يادوني سره نه بشپړېږي. له دې امله، د استعماري چوڼيو نور ورانوونکي اړخونه د دې کتابګوټي په راتلوونکو بحثوکي سپړو.

لکه څنګه چې ګورو، د وطن پلورني او انقياد غوښتني مدافعان غواړي د افغانستان تاريخ له سره وليکي؛ خو دا پلا نه په مړانه او اتلوالۍ، بلکې په سپيتانه او بې ننګۍ. زموږ خپل رزمي او حماسي ادبيات، دودونه او وياړونه خو يوې خواته پرېږدئ، تاسي د شرق د نامتو فلسفي او عرفاني شاعر - علامه اقبال لاهوري (۱۸۷۷-۱۹۳۸ع) پارسي شاعري وګورئ، چې زموږ د توريالي ملت او ملي اتلانو په وياړ يې څه څه نه دي ليکلي:

آسيا يک پيـکر آب و ګِل است

ملت افغان در آن پيکر دل است

از فساد او فساد آسيا

درګشاد او ګشاد آسيا

(لاهوری، کليات: آنسوی افلاک ۱۷۷-۱۷۸). وروستی بيت د ځينو افغان ليکوالو په آثارو کې په نسبتاً بېله بڼه راغلئ دئ.

که زموږ غښتلو او توريالييو وروڼو، پلرونو او نيکونو هر يرغلګر ته لاسونه پورته کولای، بيا به «افغان ملت» هم هيڅکله د «آسيا د زړه» په توګه نه يادېده. همدغه راز، که د سيد جمال الدين افغاني استعماري ضد مبارزو د هند، منځني ختيځ، ايران او تورکيې بيده ولسونه نه وای را ويښ کړي، علامه اقبال به هيڅکله هغه د «امام» په لوړ او ستر لقب نه نازاوه:

رفتيم و ديديم دو مرد اندر قيام

مقتدی تاتار و افغانی امام

(شاد روان ۲۴۷).

د درنو لوستونکو به ښه ياد يي، چې د روسانو لاس پر نامه نوکر - ببرک کارمل او ځينو نورو روس پلوه نوکرانو به تل دا ادعا کوله: که د شوراګانو ستر هيواد نه وای، امپرياليستي ښامار به افغانستان د مځکې له کُرې څخه نابود کړی وای؛ خو واقعيت داسي نه ؤ. موږ او تاسو ټولو وليده، چې سره پوځونه په فضيحت او شرمندګۍ سره ووته؛ د ببرک کارمل په وينا د شوراګانو لوی هيواد ټوټه ټوټه سو؛ د شوروي استعمار په ځنځيرو تړلئ، تش په نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوسياليستي بلاک هم د سترګو په رپ کي را وپرزېد ؛ مګر د زمرو او ننګيالو تاريخي هيواد - ګران افغانستان د جګو او پياوړو غرو په څېر همغسي سرلوړی ولاړ دئ؛ نه چا د مځکي له ګرېڼ نابود کړ؛ او نه يې چا د خپلواکۍ ، ملي غرور او افغانيت روحيه مړه کړه.

نن د امريکا او نورو يرغلګرو پوځو مزدوران هم کټ مټ د روسي مزدورانو همغه پوچه خبره تکراروي: «که امريکايي پوځونه نه يي، پاکستانيان او ايرانيان به دا ملک په دوو ورځو کي تر ستوني تېرکړي...»
اما ريشتيا خبره دا ده، چي که امريکايي او ايتلافي پوځونه نه وه، انشاء الله سرلوړی افغانستان به د هيواد پالو افغانانو د يووالي او نارينتوب په برکت، بيا هم د پخوا په شان پر خپل ځای ولاړ يي.هغه څه چي د امريکايانو په ستنېدو سره به هرومرو له منځه ځي، د جنايتکارو ، خاينانو او غلو اوسنی مزدور نظام دئ اوبس.

## امريکايي چوڼۍ او د سيمي د اټومي ځواکو زياتېدونکی خطر

په افغانستان کي د امريکايي چوڼيو د تداوم ځيني پلويان استدلال کيي، چي زموږ يوګاونډی ( پاکستان ) له کلونو راهيسي اټومي وسلې لري؛ بل ( ايران ) هم د اټومي وسلو د تر لاسه کولو په درشل کي دئ؛ او شاوخوا ته نور پراته هيوادونه لکه هند ، چين او روسيه هم له پخوا څخه د سيمي لوی اټومي قدرتونه ګڼل کيږي. د دوی د استدلال له مخي، په داسي شرايطو او حالاتو کي، افغانانو ته هم ښايي، چي د دغو اټومي طاقتو د احتمالي خطرو په وړاندي، د خپل هيواد د ساتني او دفاع دپاره، ځان د نړۍ په يوه بل لوی اټومي ځواک يانې متحدو ايالاتو پوري وتړي، چي دلته د خپلو همېشنييو چوڼيو په مرسته د اړتيا پر مهال هرتېري کوونکي هيواد ته، غاښ ماتوونکی جواب ورکي...

دا نظر نه يوازي له دې سَوَبه د منلو وړ نه دئ، چي ريښتيني او باغروره افغانان هيڅکله د خپلو ملي نواميسو او خاوري د دفاع دپاره د پردو عسکرو پر توپک او برچې تکيه نه کيي، بلکي له دې اړخه هم ډېر کمزوری او سرسري دئ، چي په افغانستان کي د اټومي ځواک ځای پر ځای کېدل، هيڅکله د سيمي د سياسي او امنيتي حالاتو له ثبات او ټيکاو سره مرسته نسي کولای. د ۲۰۰۱ ع کال د سيپتمبر پر يوولسمه د امريکا د نړۍ والي سوداګرۍ پر مرکز او دفاع وزارت ( پينټاګان ) تروريستي بريدو په ډاګه وښوول، چي د اټومي وسلو لرل د يوه هيواد د مځکنۍ بشپړتيا ، سياسي خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او عامه نظم د خوندي ساتلو ، يوازنی ضامن نه دئ.

دا خبره سمه ده، چي هند او پاکستان دواړه اټومي وسلې لري؛ او ترګرده يې لا زياتولو او عصري کولو ته ملاوي تړلي دي، خو سره له هغه هم ګورو ، چي هيڅکله له جنګو ، نښتو او تروريستي بريدو څخه مصوون او خوندي نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



. په ۱۹۹۹ع کال د کشمیري جنګیالو او پاکستاني پوځ له خوا د کارګل د لوړو څوکو نیول، په ۲۰۰۲ع کال کې د هند په مرکز - ډیلي کې د هغه هیواد پر پارلمان او په ۲۰۰۸ع کال د هند د ممبیي ښار پر اتو مهمو تجارتي او سیلاني مرکزود بهرنیبو تروریستانو وسله وال برید ، ټول د دې خبرې ښکاره او انکار نه کېدونکي ثبوتونه دي. اوس نو پوښتنه دا ده، چي په دې او دې ته ورته نورو بریدو کې، د هند د بېوزلو وګړو د ژوند په بیه برابرو سوو اټومي وسلو ، هندي پوځ ته څه ګټه ورسوله؟ دلته بې ګټې نه ده، چي موضوع له یوه بله اړخه هم څه نا څه وڅېړو . موږ ټول پوهېږو ، چي هند ، چین او پاکستان درې سره اټومي قدرتونه دي. د دوی په نیژدې یا نسبتاً لیري ګاونډیتوب کې د بوتان، نیپال او بنګلدېش کوچني هیوادونه پراته دي؛ خو دا خوار اونېستمن هیوادونه هیڅکله د شاوخوا همسایه ګانو د اټومي وسلو ښېره نه لري. همدغه راز، زموږ شمالي ګاونډیان (تاجیکستان، قرغیزستان، اوزبکستان او ترکمنستان) هم ګرده د سیمې د اټومي ځواکو لکه چین، قزاقستان، روسیې او ایران په منځ کې پراته دي، سره له هغه هم هیڅکله له بهرني تیري څخه ښېره او اندېښنه نه لري. تر دې هیوادو ، چي تېر سو کیوبا د کاملاً بېل سیاسي او اقتصادي نظام په لرلو سره د نړۍ له اوسني ستر اټومي طاقت (امریکا ) څخه تر اتیا - نیوي کیلومترو زیات واټن نه لري، ایا د خپل امنیت او دفاع دپاره باید د پاکستان، هند او ایران په شان د اټومي وسلو په جوړولو پیل وکړي؛ یا د نړۍ کوم بل اټومي ځواک، د مثال په توګه روسیې یا چین ته بلنه ورکي، چي د امریکا د متحدو ایالاتو له احتمالي خطرو څخه یې وساتي؟ دا خو د عقل او منطق لار نه ده. مګر له دې ترخې تجربې څخه څوک انکار کولای سي، چي په ۱۹۲۱ع کال، د خنزیرانو په خلیج کې د امریکا او شوروي اټومي کړکېچ، پر خوار ځواکي کیوبا سربېره، د ټولې سیمې امنیت او ثبات د اټومي ناتار له بالقوه خطر سره نهٔ مخامخ کړئ؟

د دې استدلال له مخې، اټومي وسلې د امنیت ضامن نه، بلکې د خپلو او نورو ګاونډیو ولسو د تباهۍ وسلې دي. له دې امله یې باید ، هیڅکله و لرلو یا تر لاسه کولو ته، زړه ښه نه کړو. زموږ ګاونډیان هم باید د دې وحشتناکو انساني ضد وسلو له جوړولو او سیالیبو څخه په ټینګه لاس واخلي؛ ځکه چي د عمومي وژني دا وحشتناکي وسلې، پر دوی سربېره همسایه هیوادو ته هم ستر زیانونه اړولای سي. د شرم وړ خبره ده، چي د هند او پاکستان خلګ په ډوډۍ نه دي ماړه ؛ کور، کالي، دوا او تعلیم نه لري؛ خو دولتونه یې په سر ټمبګۍ سره د اټومي وسلو جوړولو او لا عصري کولو ته جوړېدلي دي.

د دې خبرو د یادوني مقصد دا دئ، چي د ګاونډیانو او سیمه ییزو دولتو د اټومي وسلو له اړخه افغانانو ته د اندېښنې او بیرې پیدا کول، هیڅ عملي او واقعي اساس نه لري؛ ځکه ګاونډیان یا نور سیمه ییز دولتونه هیڅکله له توپ، ټانک او الوتکو سره زموږ پر هیواد تېری نه کیي. اټومي وسلې خو ان د دولتو په اوږدو اعلام سوو جنګو کې هم په اسانۍ سره نه کارېږي. خدای مکړه ،که دا خیالي او توهمي خطر په ریشتیا سره پېښ هم سي، د امریکایي پوځیانو د متو په زور یې شنډول، تردې هم پوچه او بې مانا خبره ده. موږ باید په دې واقعیت ځانونه پوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړو، چې د متحاربینو تر منځ د اټومي وسلو استعمال، ګټونکي او بایلونکي نه لري. په دغه راز جګړو کې ګرده بایلونکي دي. اټومي وسلې د ډله ییزي وژني د نورو وسلو په شان، د بشري تمدن پر تندي تور داغ دئ. باید ټوله نړۍ د دغه راز وحشتناکو وسلو له جوړولو او کارولو څخه ډډه وکي.

په دې کې هیڅ شک او شبهه نسته، چې د سیمي زیاتره هیوادونه، په تېره بیا پاکستان او ایران زموږ په کورنیو چاروکي بربنډي لاس وهني کیي؛ خو په خواشینۍ سره، چې هر څه له همغه پیل څخه تر اوسه د افغانانو په مرسته کیږي. که زموږ وروڼه او عزیزان له پاکستاني او ایراني مداخله ګرو سره لاسونه یو نه کړي، د پاکستان او ایران پوځیان په زرکاله دا جرأت نسي کولای، چې زموږ سرلوړي او خپلواکي خاوري ته په بده سترګه وګوري. دا ناروا او ظالمانه لاسوهني، بریدونو او یرغلونه، لکه څنګه چې مخکي هم اشاره وسوه، د پروکسي وار یا هغه جګړې په بڼه کیږي، چې بلوونکي یې له جګړې څخه لیري د خیر پر غونډۍ ناست دي. نور هیوادونه ها خواته پرېږدئ، یوازي هندوستان او پاکستان په پام کي ونیسئ. دې دوو ګاونډیو هیوادو د خپل څلور شپېته کلن تاریخ په اوږدو کي څلور واره یاني په ۱۹۴۷ع، ۱۹۶۵ع، ۱۹۷۱ع او ۱۹۹۹ع کلو کي، خونړۍ جګړې کړي دي؛ او دا دئ ګورو، چې دا دوه همسایه هیوادونه له تقریباً لسو کالو راهیسې، زموږ په بېوزلي او جنګ ځپلي هیواد کي خپلي پخوانۍ دوښمنۍ او تربګنۍ پر مخ بیایي؛ او د دې ظالمـــانه پردي یا نیابتـــي جنګ (proxy war) د پاره، میلیاردونه ډالر خرڅیي. د نور تفصیل د پاره دا ویبپاڼي وګورئ:

http://en.wikipedia.org/wiki/Indo-Pakistani_wars_and_conflicts
http://en.wikipedia.org/wiki/Indo-Pakistani_War_of_1965
http://en.wikipedia.org/wiki/Indo-Pakistani_War_of_1971
http://en.wikipedia.org/wiki/Kargil_War

د پاکستان سیاسي او عسکري واکمنان له هندوستان څخه د خپلو پخوانیو ماتو د کسات اخیستلو او له هندي خاوري څخه د کشمېر د بېلولو په مقصد، په افغانستان کي د یوه مزدور یا لږ تر لږه دوست او خواخوږي دولت د واکمنۍ له لاري د ستراتیژیک عُمق په لټه کي دي. هندي واکمنان، په خپل روَڼ سره په افغانستان، بلوچستان او کراچي کي پاکستاني دولت ته د بېلابېلو ستونزو او کړکېچو په پیدا کولو سره هڅه او کوښښ کیي، چې په هندي کشمیر کي د پاکستاني پوځ او کشمیري جنګیالو د بېلتون غوښتني او تروریستي عملو مخه ونیسي. البته، په افغانستان او مرکزي اسیا کي د ارزانه اومو موادو موندنه؛ او خپلو صنعتي توکو ته د بازار پیدا کول، د هند او پاکستان د سیاسي - نظامي سیالیو یو بل مهم اړخ دئ.

خاوره زموږ، وینه زموږ او بربادي زموږ ؛خوګټې او هدفونه د دوی ! دې ته نو زموږ د عوامو په ژبه وایي: رذالت، منافقت او شیطانت. موږ او تاسي ګرده ګورو، چې هر بهرنی هیواد د خپلو سیاسي، اقتصادي او ستراتیژیکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



گټو د تحقق د پاره زموږ په خاوره کي، په ځونه سپین سترګې او سرټمبګۍ، څه څه نامشروع او خاینانه کارونه نه کيي؛ خو بالعکس په افغانستان کي د پردو لښکرو او تحمیل سوی حکومت ببلابېل پلویان، د خپلي خاوري او ملي نوامیسو د ساتني مشروع او ویاړلي رسالت ته، په څه ډول وارخطا او اندېښمن دي. مګر زموږ پلرونه او نیکونه په تشو لاسو له پرنګیانو او نورو یرغلګرو سر ه نه جنګېد ه؟ فرق او توپیر یوازي په دې کي دئ، چي زموږ سرلوړو او سربښندونکو پلرو او نیکو ته د وطن، خپلواکۍ او افغانیت په لار کي سر، مال، ناموس او اولاد ټول هیڅ وه؛ خو اوسنییو واکمنانو ته د هغو پر خلاف وطن، خپلواکي او افغانیت ټول هیڅ دي.

اوس نو مهمه پوښتنه دا ده، کله چي د پردو لاسوهني او بریدونه د پردي جنګ یا پروکسي وار مکرجنه او مرموزه بڼه لري، بیا نو امریکایي چوڼې له خپلو اټومي وسلو او پرمختللو جنګي وسایلو سره، زموږ څه درد دوا کولای سي؟ له بله پلوه، زموږ ویاړلئ ملي تاریخ په ډاګه ښیي، چي د افغانانو مړانه او غښتلوالی د اټومي وسلو یا نورو پرمختللو وسلو په تر لاسه کولو کي نه، بلکي د هغو په یووالي، سربښندنه او خپلواکۍ غوښتنه کي نغښتی دئ.

جنګي تجهیزات، وسایل، ښوونه او روزنه، اکمالات او داسي نوري اړتیاوي ګرده پر خپل ځای د اهمیت وړ خبري دي؛ خو بې پیاوړي ارادې، یووالي، خپلواکۍ غوښتونکو ولولو او مړاني د نړۍ هیڅ ډول جنګي، تخنیکي او لوژیستیکي وسایل ځوک له ماتي نسي ژغورلای. ایا له بې ساري پوځي او اقتصادي برلاسي سره سره، د برتانوي او روسي امپراتوریو شرمناکي ماتي، د دې ځلانده حقیقت ښکارندوی نه دي؟

تاریخ شاهد دئ، چي د افغانانو جنګي تجهیزات او لوژستیکي سامان آلات نه له پرنګي لښکرو او نه هم له سره پوځ سره د مبارزې پر مهال د هیڅ راز پرتلې وړ وه. زموږ د تاریخ په نورو ملي معرکو او حماسو کي هم د جنګي تجهیزاتو او مهماتو همدا حال ؤ. له امریکایانو او نورو ایتلافي لښکرو سره روانه جګړه هم کټ مټ همدا بڼه لري. واقعیت دا دئ، چي افغانانو تل د ملي غرور، ناموس پالني، خپلواکۍ غوښتني، اسلام دوستۍ او نورو مېړنییو دودو پر بنسټ، له ټولو استعمارګرانو ځخه میدان ګټلئ دئ.

زه د پاکستان او ایران د اټومي وسلو له بابته وارخطا او اندېښمنو هیوادوالو ته دا پوښتنه وړاندي کوم: ایا کوچني یا لوی بت ته سجده کول، دواړه د بت پالني مانا نه لري؟ ایا دا خبره عقل او منطق مني، چي د پاکستان او ایران له بیري، د امریکایانو د مریبتوب طوق په غاړه کي واچوو؛ او د خپلي سرلوړي خاوري واک ور ورسپارو؟ هو ! دا خبره مي اروېدلې ده؛ او تر ډېره ځایه معقوله هم ایسي، چي که سړی د دوو بلاوو تر منځ راګیر سي، باید هغې بلا خوا ته ځان ور نیژدې کړي، چي کمزورې او لږ خطرناکه یي. زما له نظره خو د پاکستانۍ، هندۍ، ایرانۍ، عربۍ، چینۍ، روسۍ، امریکایي او نورو بلاوو تر منځ یوازي په رنګ او جوله کي توپیر دئ، نه په خوی او عادت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې؛ مګر دې ټولو بلاوو په تېرو دېرشو کالو کې د خپلو حیواني او رذیلانه نخشو د پوره کولو دپاره، زموږ بېوزلي جونګړي ته اور وانچاوه؟ ایا له دې ټولو بلاوو څخه یوې زموږ پر بې ګونا وینو او سرونو صرفه وکړه؟

له ځو وطن پلورونکو او بې وجدانه مزدورانو پرته، چې تور ته سپین او سپین ته تور وایي، نور درست افغانان په دې حقیقت پوهېږي، چې غوا توره او شیدې یې سپیني دي. زموږ خلګ وایي: «نه کل ماند، نه کدو، خاک بر سر هر دو» زه وایم: خدای دې د ټولو بلاوو مخ ورک کې؛ که توره یې یا سپینه، که سره یې یا زرینه. له بلا څخه د نېکۍ او ژغورني تمه، اصلاً د عقل او منطق کار نه دئ؛ ځکه موږ ټولو په خپل غملړلي کور (افغانستان) کې د دې بلاوو سل ډوله دیدنۍ او مصیبتونه د سر په سترګو ولیده. البته، دا خبره د یادولو وړده، چې هر څونه یوه بلا قوي او غښتلې وي، په هغه اندازه د هغې له منګولو څخه ژغورنه سخته او ګرانه ده. دا ساده او روښانه حقیقت، دلایلو او مشاجرو ته هیڅ اړتیا نه لري.

لکه څنګه چې مخکې هم اشاره وسوه، ګاونډیانو او د سیمې ځینو مغرضو دولتو له اوږدو کلو، په تېره بیا تېرو دو دېرشو کلو راهیسې زموږ په کورنیو چارو کې، خونړۍ لاسوهنې کړې دي؛ که یې؛ او که یې لاس بر سو په راتلونکې کې به یې هم هیڅکله دریغ ونکړي؛ خو موږ په خپله هم هغوی ته د دغه راز لاسوهنو د لارو چارو په برابرولو کې له ملامتۍ او پړتیا څخه اوږې نسو سپکولای؛ مثلاً که بېرکیانو د سره پوځ له راتګ سره مرسته نه وای کړې، پاکستان، ایران، هند، چین، عربو، امریکا او لوېدیځو هیوادو ته د دونه خونړیو او بې شرمانه لاسوهنو لار څنګه هوارېده؟ دغه راز که طالبانو، القاعدې او نورو افراطي ډلو ټپلو ته په داسې وړین تندي غېږ نه واي پرانیستی، نو امریکایي کاوبایانو به څنګه د شمالي اتحاد د تورمخو مزدورانو او نوکر صفته کرزي په کومک زموږ د پلرو او نیکو پر سرلوړې خاوره، وحشیانه یرغل کولای؟ دا پلمه او بهانه خو له ورایه طالبانو په لاس ورکړه. دا دئ خرڅ سوی کرزی، جنګي جنایتکاران او د ایتلافي قواوو تر وزرو لاندې ناست ډول ډول مزدوران اوس د امریکایي چوڼیو په «رسمي کولو» او «قانوني کولو» سره، د بېلابېلو لاسوهنو یوې بلې خطرناکې ماجرا غوښتني ته لمن وهي.

دا خبره هیڅ وضاحت ته اړتیا نه لري، چې د امریکا د دایمي لښکرکوټو په تداوم سره به هر مغرض ګاونډی او سیمهییز ځواک د بېرې او ګوابښ احساس وکې؛ او دا حقیقت هم بې دلیله څرګند دئ، چې انسان، حیوان او حتا نبات د بیرې او اضطرار په حال کې، خطرناکو عکس العملو ته لاس اچیي. نتیجه به داسې، چې پروني او ننني لاسوهونکي دولتونه به په خپل ټول توان سره زموږ په هیواد کې د جګړې، وینو تویولو او ورانۍ بهیر ته ملاوې وتړي؛ جنګ، وحشت او تباهي به زور واخلي. طبیعي خبره ده، چې د دې خونړیو جنګو او وحشتناکو ورانیو زیاتره خطرونه او ډول ډول سیاسي، فرهنګي، اجتماعي او قتصادي ستونزې به هم تر هر چا مخکې زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلواکۍ غوښتونکو او هیواد پالو افغانانو ، په تېره بیا د ډیورنډ د کرغېړني کرښې په دواړو خواوو کې مېشتو مظلومو او کړېدلو پښتنو ، ته متوجه يي. له همدې اسيته بايد په خپل ټول واک او ځواک سره پرېنږدو ، چې دا وران تاټوبی او بې ګونا خلګ د جګړې او تباهۍ د جنايتکارو سوداګرانو په دې ظالمانه اوروکې نور هم لولپه سي.

## زموږ په ملي تاريخ کې د خاورې او ناموس ساتنې وياړلې دودونه

مخکې يادونه وسوه، چې د ځينو امريکا پلوه افغان ليکوالو او شننونکو دا اندېښنه هم له بېرې خپرولو پرته بل څه نه ده، چې وايي که ايتلافي قوتونه، په تېره بيا امريکايي پوځونه ولاړ سي، په اټومي وسلو سمبال پاکستاني پوځيان او ايراني اخوندان به زموږ تاريخي ټاټوبی د اژدهاوو غوندې په يوه اينده د تر ستوني تېر کړي.

زما په نظر خو دا ښاغلي له خپل ملي تاريخ څخه تر ډېره حده بې خبره دي. دوی ته د خپلو ملي وياړونو د ور يادولو د پاره مجبور يو ، د هيواد ځينو تاريخي پېښواو حالاتو ته يوه ځغلنده کتنه وکړو. البته، ډېرو پخوانو زمانو ته نه ورګرځو ؛ ځکه په دې لنډه ليکنه کې يې د تشريح او بيان فرصت نسته. يوازې څه د پاسه درې سوه کاله مخکې زمانه در يادوو- هغه وخت چې زموږ او ستاسې ګډ کور ( افغانستان) په جنوب او ختيځ کې د ګورګاني مغولو ، په لوېديځ کې د صفوي استعمارګرانو او په شمال کې د شيباني يرغلګرو په منګولو کې ښکېل ؤ ؛ او هر استعمارګر ځواک په خپل ټول توان او طاقت سره هلې ځلې کولې، چې زموږ د پلرو او نيکودا سپېڅلې خاوره تل ترخپل استعماري واک لاندې وساتي- مګر زموږ سرلوړو او مېړنيبو نيکونو سره له دې سختو او ناوړو شرايطو هم هيڅکله د خپلواکۍ او استقلال لار پرېنښوده. د سرښندنو او قربانيبو په ورکولو سره يې بالاخره وکړای سوه، چې د زړور، هوډمن او مُدبر ملي مشر- حاجي ميرويس خان هوتک (۱۱۱۹- ۱۱۲۷ هـ ق) په مشرۍ د خپلواکۍ جنډه و رپوي.

په نونسمه پېړۍ کې هم زموږ تاريخي مېنه د خپل وخت دوو لويو او مقتدرو امپراتوريبو په منځ کې را ښکېل وه. په جنوب او ختيځ کې پرنګيانو او په شمال کې تزاري روسانو د دې خپلواکې خاورې د لاندې کولو او مستعمره کولو خطرناک پلانونه جوړول. د دې دوو لويو قدرتو په سياسي او ستراتيژيکو سياليبوکې ريشتيا هم د هيواد ساتنه او دفاع څه ساده او اسان کار نه ؤ ؛ دا پلا بيا هم زموږ خپلواکۍ مينو پلرو او نيکو له خپلو سرو او هست و نېست سره لوبې وکړې؛ خو د دوو لويو بلاوو په منځ کې يې، خپل تاريخي موجوديت او هويت خوندي وساته.

په «جګدلک» کې د پرنګي لښکرو نابودي او په «ميوند» او «وانه» کې يې شرمناکې ماتې، ګرده د پلرنۍ خاورې او ملي نواميسو د ساتنې اوله استعماري جغ څه د نړۍ د مظلومو اولسو د ژغورني په مقصد زموږ د زوړورو او ننګياليبو اولسو د سرښندنو وياړلې داستانونه ګڼل کيږي. هو ! درې پلا د نړۍ د هغه ستر استعماري ځواک پزه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاور لړل تر معجزې کمه خبره نه وه، چې په قلمروکي يې لمر نه ډوبېدی. دا معجزه بېله شکه د غښتلي او پاخه ايمان او له وطن او خپلواکۍ سره د بې ساري مينې په برکت زموږ د مړنو خلګو په برخه سوه (البته، د استعماري تړونو لاسليک او په نتيجه کي يې د وياړلي افغانستان له وجود څخه د ځينو سوهيلي او ختيځو سيمو جلا کېده، په واقعيت کي د هيواد د مزدورو واکمنانو له ملي خيانت او اطاعت غوښتني سره تړاو لري؛ او په هيڅ ډول د هيواد او خپلواکۍ په دفاع کي د دې سرتېرو او توريالو خلګو د غفلت او تمبلۍ په مانا نه دي).

تر دې تاريخي مثالو چي را تېر سو د رواني غميزي په پيل کي له روسي يرغلګرو سره زموږ د غيرتمنو، سرلوړو اونه تسليمېدونکو ورونو د نه هېرېدونکو حماسو او قهرمانييو کيسې هم تر اوسه د ګردو افغانانو بنه په ياد دي. موږ ټولو په خپلو سترګو و لېده، چي همدغو ورږو تړو، لڅو لغړو افغانانو په تشو لاسو د نړۍ تر ټولو ستر اټومي ځواک - هغه بېرونکي دولت چي د نامه په اروېدو سره به يې د امريکا په ګډون د ټولو لوېديځو هيوادو د سياسي او پوځي مشرانو پښې لړزېدې - د تجزيې تر پولي ورساوه.

ځيني متعصب او بې غروره افغان ليکوال، چي له نومو سره يې د افغان ټکی يادول، په واقعيت کي د افغانيت لوړ نامه ته سپکاوی او توهين ګڼل کيږي، په خپلو ليکنو کي تلقين کوي، چي ګوندي په افغانستان کي د سره پوځ شرمناکه ماته د شوروي مشرانو لکه ميخاييل ګرباچف، ياکولف، شواردنادزه، يلتسين او نورو مرتدو شوروي مشرانو د خيانتو او د سي. آی. اې. د لاسوهنو نتيجه وه، نه د افغان ولس د سپېڅلي او بې باکانه جهاد. زه وايم، شک نسته چي د اغفال سوو شوروي مشرانو خيانتو او د سي. آی. اې. پراخو او منظمو لاسوهنو د شوروي د وراسته، تړلي او استبدادي نظام د نړېدو بهير چټک کړ؛ خو سره له دې هم په افغانستان کي د شوروي يرغلګرو لښکرو په شرمناکه ماته کي د افغانستان د خپلواکۍ مينو او توريالييو خلګو (نه مزدورو تنظيمي مشرانو او قومندانانو) له سرښندنو او تلپاته حماسو څخه سترګي پټول خيانت، جفا او د واقعيتو تحريفول دي. استعمار ګرانو او دهغو رنګارنګ ځيره خورو تل خپلي شرمناکي ماتي پر دې يا هغه شخص، دې يا هغه پېښه تاوان کړي دي؛ خو واقعيتونه د لمر په شان روښانه دي، چي هيڅوک يې په دوو ګوتونسي پټولای.

د پرنګي استعمارګرانو او نورو يرغلګر ځواکو په شان د سره پوځ شړل هم بېل شکه زموږ د غيرتمنو، بې باکو او سرلوړو پلرونو او ورونو د جانبازييو نيتجه وه. دا تاريخي وياړ زموږ په ورږي تړي؛ خو زړور، مړني او سرلوړي ملت يا هغو خلګو پوري اړه لري، چي په خپل سپېڅلي جهاد کي يې له خدای تعالی، وطن، خپلواکۍ او ناموس ساتني پرته، بل هيڅ شی نه پېژنده. باور لرم، چي يوه ورځ به امريکايي او ايتلافي پوځونه هم د سرو لښکرو په شان په توبو او فريادو له دې مېړنۍ خاورې څخه پښې سپکولو ته اړباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې څو مثالو د یادوني مقصد دا دئ، چي موږ باید د خپلو خلګو پر ایمان، ملي غرور، خپلواکۍ غوښتني، زړورتیا او افغانیت پوره باور ولرو. لکه څنګه چي زموږ پلرو او نیکو د ملي غرور او خپلواکۍ ستر میراث پرېښی دئ؛ موږ هم باید له خپلو ملي ویاړونو سره سم د هیواد و راتلونکو پښتونو ته د بیري، مریيتوب، پردي پالني ،انقیاد غوښتني او بې ځایه محافظه کارۍ درس ورنکړو. خپلواکي د افغانانو روح ده. ریښتني افغان لوږه، تنده او حتا مرګ مني؛ خو هیڅکله د چا اسارت او غلامۍ ته سر نه ټیټیي. تاریخ شاهد دئ، چي نه یې د کوروش، سکندر، مغولانو، انګرېزانو او روسانو مریيتوب ته سر ټیټ کړ؛ او نه به د امریکایي کاوبایانو او نورو استعماري فرعونانو زور او اشغالګرۍ ته غاړه کښېږدي؛ ځکه خپلواکي غوښتنه، وطن دوستي، مړانه، د پردو په وړاندي مقاومت، وفادارای، مېمله پالنه او نور ارزښتناک افغاني خویونه، له ازله د افغانانو په برخه لیکل سوي دي؛ او هیڅوک یې د توپ و ټانک په زور نسي اړولای.که د شورویانو یو سل و شل زریز سره پوځ او د امریکایانو او نورو ایتلافي هیوادو تر غاښو سمبال دوه سوه زریز لښکر ونکړای سوه، زموږ د خلګو دا روحیه بدله کړي، آیا د پوښتني او شک وړ خبره ده، چي د پاکستان مزدور پوځیان او د ایران فرتوت آخوندان به یې بدل کړي؟! د افغانانو د توري او قلم نومیالي اتل - خوشال بابا (۱۰۲۲- ۱۱۰۰ هـ ق ) څه ښه ویلي دي:

لا تر اوسه یې ماغزه په قرار نه دي
چا چي ما سره وهلئ سر په سنګ دئ

البته، دا خبره د یادوني وړ ده، چي د هیواد ساتنه هم ځانته خپلي لاري او اصول لري. زموږ ویاړلئ تاریخ ښیي، چي میرویس، محمود، اشرف، احمد شاه، اکبر، ایوب او داسي نور ټول د جګړي په لومړۍ لیکه کي ولاړ وه؛ د خپلو خلګو او وطن په لارکي تر سر، مال او ناموس تېر وه. همدا وجه وه، چي مېړني افغانان هم د خپلو ننګیالیيو مشرانو د زړورتیا، خپلواکۍ غوښتني او ملي غرور په لېدو سره له هیڅ راز قربانیيو او خطرو څخه نه پرشا کېده. د اصفهان او ډیلي تختونه د همدغو غښتلو، بې باکو او مېړنو افغانانو په توره ګټل سوي وه؛ د جګدلک، میوند او وانې حماسې هم ګرده په دغو غیرتمنو افغانانو پوري اړه لري.

دا چي په اوسنیيو شرایطو کي د بهرنیيو تېریيو او لاسوهنو له کبله هره ورځ زموږ مظلوم هیوادوال په وینو کي لغړي؛ او د هیواد مځکنۍ بشپړتیا، سیاسي خپلواکي او ملي واکمني له جدي خطر سره مخامخ دي، دلیل یې دا نه دئ، چي زموږ مړنی اولس د خپلي سپېڅلي خاوري د دفاع واک نه لري، بلکي دلیل یې دا دئ، چي خلګ هیڅکله د کرزي، فهیم، خلیلي، رباني، سیاف، دوستم، محقق، ګیلاني، مجددي، عبدالله، قانوني او داسي نورو جنایتکارانو، جاسوسانو، غلو او وطن پلورونکو تر شا نه درېږي؛ ځکه زموږ خپلواک او سرلوړی اولس دې فاسدو او پلورل سوو ګوډاګیانو ته، تر یرغلګرو پوځو هم د کرکي او نفرت په ستر ګه ګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغو جنایتکارو مزدورانو، چي پرون يې د خپلو بهرنيېو بادارانو په لارښوونه، پر ښارو د توغندیيو بارانونه جوړ کړي وه؛ د ښوونځيو، پوهنتونو، روغتيايي مرکزو، فابريکو، د اوبو او برېښنا د بندو، مخابراتي وسايلو او نورو عام المنفعه تأسیساتو د سوځلو او ورانولو سپارښتني يې کولې، نن څنګه کولای سي د هيواد ریښتینو بچو ته د خپلواکۍ غوښتني، هيوادپالني، ودانولو او عدالت غوښتني درس ورکړي؟ مګر د آزادۍ، وطندوستۍ، ودانولو، او عدالت غوښتني پتمن درسونه د داسي تورمخو او کرکجنو له خولې زموږ پر جنګ ځپلي او کړېدلي ملت څه اغېزه ښندلای سي، چي د خپلو ناروا او انساني ضد هدفو د پوره کولو دپاره يې ګران هيواد په کنډوالو واړاوه؛ د جنګېزيانو په دود يې زموږ زرګونه بې ګونا هيوادوال په وینو او خاوروکي ولغړول؛ پر مال او ناموس يې صرفه ونکړه؛ د وطن پلورلو، انسان وژنو او نورو ملي ضد کړنلارو د تحقق دپاره يې کلونه کلونه له ایراني، پاکستاني، عربي، امریکايي او لسګونو نورو ابلیسانو څخه توري او چتلي پیسې اخیستې او لا تر اوسه يې اخلي؟

ایا د جشن په مراسموکي د طالبانو له خوډزو څخه د جهاد د «کاغذي زمريانو» او «پومبه يي پهلوانانو» د مخامخ ځغاستي شرمناکه خاطره د زړورو او سرلوړو افغانانو له زړو وزي؟ دې شرایطو او حالاتو ته په پام سره، ایا پر وطن مین، سرتېر او باغروره افغانان د داسي بګېلانو، وطن پلورونکو او لوټمارو تر شا درېږي؟

واقعیت دا دئ، چي د خاوري، ناموس او نورو ملي - اعتقادي ارزښتو د دفاع په مورچل کي زموږ د غیرتمنو او خپلواکۍ غوښتونکو خلګو د بسیج کولو ویاړ یوازي د ملي او اولسي مشرانو رسالت دئ، نه د مزدورانو، جانیانو، غلو او فاسدو واکمنانو. که د هيواد مشرتوب د دغه راز کرکجنو او تورمخو کسانو په لاس کي يي، بيا نو هر څوک په اسانۍ سره د هيواد د مځکنۍ بشپړتیا، ملي واکمنۍ، سیاسي استقلال، امنیت، قانونیت، عدالت او ترقۍ په اړه سوچ کولای سي.

دا خبره موږ ټولو افغانانو ته څرګنده ده، چي همسايه ګانو، په تېره بیا پاکستان او ایران هیڅکله زموږ په وړاندي ښه نیت نه لاره؛ خود ظاهرخان او داوود خان په واکمنیيوکي يې د داسي برمنډو لاسوهنو جرأت نه کاوه، چي اوس يې کيي. هغه مهال زموږ عامو خلګو د خپلو دولتي واکمنانو پر ضد وسله وال پاڅون نه ؤکړی. عامو خلګو د پردو هيوادو لاسوهنو ته د کرکي او انزجار په سترګه کتل. د داوود خان د واکمنۍ پر مهال د جنرال نصیرالله بابر د رالېږل سوو مزدورانو په شړلوکي زموږ د اولسي پاڅون خاطرې، ټولو ویښو او باخبره افغانانو ته ښې مالومې دي. د دې خبرو مانا دا ده، چي موږ باید تل د پردو پوځود توپ و ټانک پر ځای د خپلو زړورو او توریالیيو خلګو پر پیاوړو متو تکیه وکو؛ او په دې توګه بد سترګو ګاونډیانو ته د تیري، لاسوهني او لمسوونې موقع ورنه کو. که د پردو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



توپ او ټانک څه کېدای سوای، نو د ببرک کارمل رژیم به هم به تر اوسه زموږ پر اوږو سپور وای. زموږ خلګ څه ښه وايي: «پردی کټ تر نیمو شپو دئ.»

دلته بې ځایه نه ده، چې یوې بلې مُهمې مسألې ته هم د درنو لوستونکو پام واړوو. د امریکايي پوځو د دایمي حضور ځیني مخکښان او منادیان ادعا کیي، چې که په افغانستان کې د روسانو تر وحشیانه یرغل مخکې، د امریکایانو همېشنۍ چونۍ جوړې سوې وای، نو د کریملین لېونو واکدارانو به هیڅکله پر افغانستان د تېري سوچ نه وای کړی؛ او په دې توګه به او سنی د برش کلن ناورین هم نه پېښېدای؛ اما دې هویت بایللو داځلانده حقیقت هېر کړی دئ، چې که د داوود خان رژیم په افغانستان کې امریکايي چونۍیو یا نورو پردو عسکرو ته د دېره کېدو اجازه ورکړې وای، هغه مهال به د داوود خان او شاه شجاع تر منځ هم هیڅ توپیر نه وای؛ او په درست افغانستان کې به یې پر ضد داسې ملي او اولسي پاڅونونه پیل سوي وای، لکه پرون چې د روسي استعمار د نوکرانو او نن چې د امریکايي استعمار د مزدورانو پر ضد په دونه درزي او دربې روان دي.

له بله پلوه، لکه څنګه چې تاریخي پېښو هم وښوول، امریکايي سیاستوال او عسکري طراحان نه یوازې د شوروي یرغل په وړاندې د افغانستان د خوندیتوب له غمه نه وه مړه، بلکې په لوی لاس یې هڅه او کوښښ وکړ، چې په افغاني شخړه کې د شوروي دولت او سره پوځ مستقیمي لاس وهني ته لار هواره کړي. په بشپړ یقین سره، د افغانستان په قضیه کې د شوروي دولت او سره پوځ بې شرمانه لاسوهنو، امریکایانو ته ښه موقع په لاس ورکړه، چې د جیمي کارټر د جمهوري ریاست په دوره کې د سپیني ماڼۍ د سلاکار او د امریکا د استعماري سیاستو د لوی طراح - ډاکټر ز. برژینسکي له نظریو سره سم، د څه د پاسه دوو میلیونو افغانانو د وینو او سرونو په بیه، له شوروي دولت څخه د ویتنام د جګړې کسات واخلي. د دې موضوع نور تفصیل د ویکیپیدیا په دې پاڼه کې ولولئ:
[http://en.wikipedia.org/wiki/Zbigniew_Brzezinski#Afghanistan](http://en.wikipedia.org/wiki/Zbigniew_Brzezinski#Afghanistan)

البته، د دې مسألې د یادوني مقصد یوازې د دې واقعیت بیان دئ، چې د امریکا د متحدو ایالاتو سیاسي او پوځي واکمنانو هیڅکله د شوروي دولت د لاسوهنو او تېریبو په وړاندې د افغانانو د امنیت او خوندیتوب پروا نه لرله؛ او تل یې له عمومي فارمول سره سم تر هغه مهاله د افغانستان په چارو کې برخي اخیستني ته زړه نه دئ ښه کړئ، چې سیاسي، اقتصادي او ستراتیژیکو ګټو یې غوښتنه نه ده کړې.

د امریکايي عسکرو یا امریکايي چونۍیو منترو وهلي پلویان او خواخوږي باید په دې روښانه حقیقت ځانونه پوه کړي، چې پردي پوځونه او پردۍ چونۍ زموږ د خلګو له خپلواکۍ بخښونکو مبارزو، ملي غرور او نه هېرېدونکو حماسو سره کلک تضاد لري. تاریخ شاهد دئ، چې زموږ پلرو او نېکو حتا د نورو د سر، مال او ناموس د ساتني

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاره وینې توی کړي دي، نو دا به څنګه ممکنه یې چې د خپلې سپېڅلې خاورې واک او اختیار پردو لښکرو ته وسپاري؛ خپل ملي نوامیس په پردو عسکرو وساتي؟ ! ماته خو دا خبري خیال، محال او جنون ایسي.

دا حقیقت ټول جهان ته روښانه دئ، چې آزادي، استقلال، وطن ساتنه او ملي غرور د افغانانو په وینو کې اخښل سوي دي. هیڅ یرغلګر لښکر په خپلو ښېرونکو وسلو یا وحشتناکو وژنو سره زموږ د خپلواکۍ، ملي غرور او افغانیت لوړه روحیه نسي وژلای. له دې امله ناشاپې نه ده، چې د « میوند » د نه هېرېدونکې حماسې قهرمانه ( ملالۍ ) افغاني شازلمو ته په خپل خطاب کې داسې وایي:

که په میوند کې شهید نه سوې !
خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه !
توري وهه برې به مومې !
که برې نه وي ځوانان تل په تورو مرینه
په تور توپک ویشتلئ راسې !
د بې ننګۍ احوال دې مه راځه مینه !

وګورئ، علامه اقبال لاهوری (۱۸۷۷-۱۹۳۸ع) د افغانانو هېبتناکه ټاټوبی په څه شأن او پرتم تعریفوي:

سر زمینی کبک او شاهین مزاج
آهوی او ګیرد از شیران خراج
در فضایش جُرهٔ بازان تیز چنګ
لرزه بر تن از نهیب شان پلنګ
(لاهوری، کلیات: مثنوی مسافر **۵۷**).

دا او دې ته ورته زرونه لنډۍ، شعرونه او روایتونه زموږ د مېړني اولس د هیواد پالني، خپلواکۍ غوښتني او لوړ ملي غرور، روښانه مثالونه دي.

په افغانستان کې د امریکا د عسکري مرکزو پلویان او مدافعان نسي کولای، له یوې خوا د پردو عسکرو د همېشني حضور سیله وکړي؛ او له بلې خوا د میرویس نیکه، شاه محمود، شاه اشرف، احمد شاه بابا، وزیر اکبر خان، میرمسجدي خان، میر بچه خان کوهدامني، غازی ایوب خان، غازی امان الله خان او د دې غیرتمني خاروي د سلګونو نورو اتلانو د سربښندني، خپلواکۍ غوښتني او افغانیت پاټې وولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خاورې، خپلواکۍ او ملي نواميسو د دفاع په اړه د شاه شجاع، ببرک کارمل، حامد کرزي او د اسې نورو لاس پر نامه نوکرانو پوچې ادعاوې، زموږ د خپلواکو پلرو او نيکو وياړلو شملو ته لوی سپکاوی دئ؛ ځکه آزادي او غلامي، سرلوړي او سرکوزي، افغاني غرور او بيګانه پالنه دوه کاملاً بېل شيان دي. کله چې يو خوښوو، آبل په خپله نفې کيږي. زموږ د خلګو له دود او دستور سره سم، « خدای او خُرما » دواړه، بې ځايه غوښتنه ده. له همدې کبله بايد يا د خپلو سرلوړو پلرو او نيکو په شان د خپلواکۍ او استقلال لار؛ او يا د مزدورانو او ګوډاګيانو په دود، د پردو لار غوره کړي! بې شکه، د خپلواکۍ او استقلال لار ګرانه؛ خو مېوه يې خوږه او په زړه پورې ده. بالعکس د پردو د مريبتوب او انقياد لار آسانه؛ خو مخ ته يې لوی لوی خطرونه پراته دي. دغوی يې خپله خوښه، چې کومه لار اخلي؛ خو زموږ اتل او مړني خلګ به هيڅکله له خپلواکۍ، استقلال او سرلوړۍ پرته، بله لار وانخلي.

## امريکايي ځواکونه او په هيواد کې د سياسي - اقتصادي ثبات مسأله

ځيني امريکا پلوه افغان ليکوال او سياسي مبصرين استدلال کيي، چې د امريکايي پوځيانو دايمي ځواکونه به په هيواد کې د کودتاوو او غيرقانوني بلواوو مخه ونيسي؛ او رامنځ ته سوئ سياسي ثبات به په خپل وار سره، په جګړو وران کړي افغانستان کې، اقتصادي ترقۍ او پرمختګ ته لار هواره کړي.

دا خبره تر ډېره ځايه سمه بريښي، چې امريکايي ځواکونه به د وسلو په زور د تپل سوي نظام د نسکوريدو مخنيوی وکړي؛ خو په هيڅ وجه نسي کولای د خپلواکۍ، عدالت او بشري حقوقو د پاره زموږ د دردمنو او کړېدلو خلګو د اولسي پاڅونو مخه ونيسي. سربېره پر دې، د بهرنيو پوځي اډو په مرسته د واکمن مزدور نظام د ساتني تجويز، په خپله هم چندان علمي او معقول اساس نه لري؛ ځکه د يوه هيواد د سياسي، اجتماعي او اقتصادي نظام غوراوی يا انتخاب يوازې د هغه هيواد خلګو حق دئ، نه د پرغلګرو لښکرو. دا حق د معاصرو بين المللي حقوقو په اساسي اصولو کې هم په پوره وضاحت او صراحت سره بيان سوی دئ (د نورو مالوماتو د پاره و ګورئ: ټونکين ۹۷، ۱۰۵؛ فيلډمن او نور ۱۳۷، ۱۴۳).

د معاصرو بين المللي حقوقو د دې اساسي او بې بديل حق د يادوني مقصد دا دئ، چې يوازې او يوازې د يوه هيواد اصلي او بومي وګړي حق لري، د خپلې خوښې سياسي، اجتماعي او اقتصادي نظام په اړه، پرېکړه وکي. کله چې دا ستر او ارزښتناک حقوقي اصل ته غاړه کښېږدو، بيا نو د دې ځای نه پاتيږي، چې د امريکا او نورو ايتلافي هيوادو سياسي او عسکري واکمنان وارد واره د خپلې خوښې سياسي، اجتماعي او اقتصادي نظام د

(c) ketabton.com: The Digital Library



توپک او برچې یا پیسو او د سیسو په زور زمونږ پر بېوزلو او بې آوازه خلگو وتپي؛ او بیا یې په خپلو چوڼییو کې د ځای پر ځای سوو عسکرو په زور دفاع وکي.

ټولو پوهو او وینبو افغانانو ته دا پوښتنه بېخي حل ده، چي د امریکا دایمي پوځیان به په افغانستان کې د څه ډول سیاسي، اجتماعي او اقتصادي نظام دفاع او ملاتړ کیي! هغه نظام، به څه ډول نظام یې، چي امریکایي سیاست وال او پوځیان یې د خپلو زرو عسکرو په قرباني کولو او میلیارډو ډالرو په خاوري کولو سره، ساتنه او ژغورنه غواړي؟ آیا داسي نظام ته له یوه مزدور، ملي ضد او اولسي ضد نظام پرته، بل څه ویلای سو؟

په همدې وجه، هیڅ خپلواک او باغروره افغان دا خبره نسي منلای، چي امریکا او نور ایتلافي دولتونه یو ځل د توپ او ټانک په زور پر مظلومو افغانانو خپل سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او فرهنگي نظام وتپي؛ او بیا یې د خپلو پوځي اډو په زور تل ترتله ساتنه او دفاع وکي. افغانان پوهېږي، خپل سیاسي، اجتماعي او اقتصادي نظام یې .که دولتي نظام ملي او اولسي ختېه ولري، بېله شکه به یې خلگ د زړه له کومي سیله او ملاتړ کیي؛ بالعکس که نظام د خلگو دروا غوښتنو پر خلاف ولاړ یې، بیا به یې خلگ هرومرو د تونس، مصر، لیبیا، یمن، بحرین، مراکش، اردن او داسي نورو هیوادو په څېر،گوښه کولو یا نسکورولو ته اړباسي.

دا خبره دقیقه او پرځای ده، چي تل باید د یوه رینښتني ملي او اولسي دولت پر ضد د کودتاوو او نورو غیر قانوني زور زیاتییو مخه ونیول سي؛ خو د مزدورو، مستبدو، لوټمارو او اولسي ضد حکومتو پر خلاف سوله ییزه یا وسله واله مبارزه، دواړه د هر هیواد د اولسو، نه بېلېدونکی حق دئ.

که امریکایانو او د هغو غربي متحدینو په ریشتیا سره د یوه خوندي، اولسواک او سوکاله افغانستان د جوړولو غم لرلای، نود نجیب الله د حکومت تر ړنگېدو وروسته به یې د یوه پیاوړي ملي او اولسي حکومت په را منځ ته کولو کې له جنگ ځپلو افغانانو سره هر اړخیزه انساني مرسته کړې وای. په خواشینۍ سره، چي هغه مهال یې د خپلو ستراتیژیکو هدفو تر پوره کېدو وروسته افغانانو ته شا ور واړوله؛ افغانستان یې تنظیمي ډلو او د هغو پاکستاني، ایراني او عربي ولي نعمتانو ته پرېښود. له پخوانییو تېروتنو او بې غَوْرییو څخه یې بیا هم پانیات وانخیست؛ او د ۲۰۰۱ع کال په ډیسمبر کې یې د بون کنفرانس له لاري، یو وار بیا د یوه پراخ بنسته ملي حکومت د جوړولو په لار کې د مظلوموافغانانو روا او انساني حق تر پښو لاند ي کړ؛ او په دې توگه یې یو ځل بیا د دې ستم ځپلو خلگو د ژوندانه گرده واگي د دې د هیواد تر ټولو نوم بدو قاتلانو، ورانکارو او خاینانو ته وسپارلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې ټولو جفاوو او بې پروایي ګانو سره سره، که امریکا ریښتیا هم په افغانستان کي له ډیموکراسۍ، بشري حقوقو او پر قانون ولاړ نظام سره څه نا څه علاقه لرلای، نو باید د تېر لس کلن اشغال له پیل څخه تر اوسه یې د دغو نوم بدو جنګي او مافیایي ډلو، لوټمارو او فاسدو واکمنانو له ملاتړه لاس اخیستی وای؛ او زموږ د کړېدلو او بېوزلو خلګو په ګټه یې څه اغېزمن او ګټورکار کړئ وای؛ سوله او امنیت یې ټینګ کړئ وای؛ د زور واکو او فسادو واکمنانو مخه یې نیولې وای؛ خلګو ته یې کار او روزګار برابر کړئ وای... مګر نن زموږ ټول هیوادوال ګوري، چي امریکایي لښکرو په افغانستان کي، د څه ډول سیاسي او اقتصادي نظام ساتني ته ملا تړلې ده؟ ایا دا د مظلومو او کړېدلو افغانانو غوښتنه ده، چي د جنایتکارانو، خاینانو او غلو حکومت د امریکایي توپ او ټانک په زور له کودتاوو یا اولسي پاڅونو څخه و ژغورل سي؟ ایا د امریکایي عسکرو د دایمي حضور په وحشتناکه فضا کي به د افغانستان د بې وسه او بې کسه اکثریت سیاسي حقوق، تل تر تله تر پښو لاندي نه يي؟ ایا د کرزي په ګوښه کېدو سره به، عبدالله عبدالله یا کوم بل امریکایي ایجنټ، د کابل د تاج او تخت واګي نه تر لاسه کيي؟

که د امریکایي چوڼیو د دوام پلویانو، په افغانستان کي د یوه منلي ملي او اولسي نظام د دفاع دپاره د امریکا د پوځي اډو د دوام پر اړتیا ټینګار کولای، هغه مهال به دې خبري له منطق او تعقل سره یو څه اړخ لګولای؛ خو اوس ګورو چي زموږ غرب مآبه افغان لیکوال او تحلیل ګران په هیواد کي د جنګي مجرمینو، پېژندل سوو جاسوسانو، غلو او زورواکو د کرغېړن نظام د ژغورني دپاره، د امریکایي چوڼیو د ضرورت بابولالي وايي. د شرم ځای دئ، چي د امریکایي پوځو د دایمي استوګني پلویان، په هیواد کي د پردو د داسي ارتجاعي او انساني ضد مأموریت سیله کيي.

امریکا او نورو غربي متحدینو ته دا خبره هیڅ ارزښت نه لري، چي په یوه هیواد کي واکمن نظام د چا ګټي ساتي. ددوی له نظره مهمه خبره دا ده، چي واکمن رژیم تر کومي ګچې د دوی سیاسي، اقتصادي او ستراتیژیکو ګټو ته وفادار دئ. له همدې امله یې په ایران کي د محمد رضا پهلوي، په اندونیزیا کي د سوهارتو، په چیلي کي د پینوشه، په پاکستان کي د جنرال ضیاء الحق، په مصر کي د حسني مبارک، په تونس کي د زین العابدین بن علي او ځینو نورو هیوادو کي د دغه راز بشري ضد رژیمو ملاتړ کاوه ؛ او دادئ ټوله نړۍ ګوري، چي تر اوسه لا په بحرین کي د خلیفه د کورنۍ او په یمن کي د علي عبدالله صالح په شان مستبدو او فاسدو واکمنانو د ژغورني په خاطر، له هیڅ ډول هلو ځلو لاس نه اخلي.

راسئ د یوه هیوادپال، باوجدانه او منور افغان په توګه دا پوښتنه واړندي کو، چي په افغانستان کي د پردو اوسني مزدور، جنایتکار، فاسد او بې کفایته نظام زموږ عام اولس ته څه ګټه رسولې ده، که څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایا هغه فاسد او مافیایي نظام، په هیواد کي اقتصادي ترقي او پرمختګ را وستلای سي، چي زور واکو ملګرو او پلویانو یې، په خپله د کابل حکومت د کرني وزرات له رسمي رپوټ سره سم، د بې وسه او بې کسه افغانانو پر ملکیتو سربېره، د بیت المال څلور میلیونه (۴،۰۰۰،۰۰۰) جریبه مځکه لاندي کړې یې؟
ایا هغه مزدور او مافیایي نظام هم د اقتصادي او فرهنګي پرمختګ لار پرانیستلای سي، چي خلګ یې له فساد او بې عدالتییو څخه ویني ژاړي.

د ملګرو ملتو د سازمان د رپوټ له مخي زموږ ښوزلو هیوادوالو یوازي په ۲۰۰۹ ع کال کي، د کرزي د فاسد او بې کفایته رژیم خپلسرو واکمنانو ته دوه نیم (۲،۵) میلیارده ډالر موک (رشوت) ورکړی دئ، چي دا پیسې په حقیقت کي زموږ د کورني ناخالص محصول، څلرمه برخه ده. په افغانستان کي د دولتي فساد په اړه نور تفصیل دلته وګورئ:

http://www.spiegel.de/international/world/0,1518,672828,00.html

ایا له خرچ سوي کرزي څخه بیا د دولتي ادارو تر چیړاسیانو پوري ټول د فساد، خیانت او بې کفایتۍ په طاعون نه دي لړلي؟

دا ټولي خبري او دلایل به یوې خوا ته کښېږدو، راسئ په هیواد کي د اقتصادي پرمختګ پر اساسي او مهم شرط یو څه غوَر وکو. موږ او تاسي ټول په دې روښانه واقعیت ښه پوهېږو، چي د هري ټولني د اقتصادي او کولتوري پرمختګ تر ټولو مهم او اساسي شرط، په هغه هیواد کي د سولي او امنیت ټینګښت؛ او له واکمن دولتي نظام سره د خلګو هر اړخیزه همکاري ده. تر هغه وخته چي سوله او امنیت نه یې ټینګ سوئ، اقتصادي پرمختګ او فرهنګي ترقي څنګه را تلای سي؟ ایا اقتصادي او فرهنګي ترقي، د پردو ټانکو او الوتکو په زور ممکنه ده؟

بې شکه چي اقتصادي او تخنیکي پرمختګونه، د خلګو د سوچو او دودو په بدلولو کي، ډېره ارزښتناکه ونډه لري؛ خو دا ګرده بې سولي او کرارۍ ممکن نه دي. وار دواره باید د خلګو پر ملګرتیا او همکارۍ غوَر وسي؛ او بیاد اقتصادي ټیکاو پر خیال پلونو بحث وسي. دا خبره هم له هیچا پټه نه ده، چي د امریکا په مشرۍ پردو ایتلافي پوځو د خپل یرغل له همغي لومړۍ ورځي څخه زموږ په هیواد کي جګړو، ناارامییو او کړکېچونو ته لمن وهلې ده؛ او د دایمي چوڼییو په جوړولو سره به ښېله شکه د استونزي او مصیبتونه نور هم زیات کړي.

دغو عیني واقعیتو ته په پام سره، زموږ ویښ او هوښیار لوستونکي په خپله قضاوت کولای سي، چي په افغانستان کي د امریکايي پوځیانو همېشنۍ استوګه به دې ناکراره او کړکېچن هیواد ته، لکه څنګه چي ځیني

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان ليکوال او شنونکي ادعا لري، نه سياسي ثبات راولي؛ اونه به د هيواد نا باوره سياسي- امنيتي حالات په خپل وار سره، اوسنيو يا راتلونکو اقتصادي - فرهنګي پرمختګو ته لار هواره کړي. په دې خپلواکه او سرلوړې خاوره کي به د پردو عسکرو ستهوالی تل د ناخوالو، نښتو او جنګو مهم او اساسي علت يي. جګړې، نا ارامۍ او ډول ډول دوښمنۍ به هم ښېله شکه د ناوړو استفادو او فساد له پراختيا، د سوداګرۍ او پانګې اچوني په برخه کي د بې باورۍ، د پانګې او پانګهوالو له تښتي او په پای کي د هيواد د اقتصادي کنګل کېدو او پر شا تګ پرته، بله هيڅ نتيجه ونه لري.

## د امريکايي چوڼيو د اقتصادي ګټو افسانه

ځيني افغان ليکوال او شننونکي استدلال کيي، چي په افغانستان کي د امريکايي لښکرکوټو ستهوالی او تداوم نه يوازي زموږ سياسي استقلال او ملي حاکميت ته تاوان نه لري، بلکي له اقتصادي پلوه هم ډېري ګټې لري. د دوی له نظره يې لو اقتصادي ګټه دا ده، چي د امريکا دولت به زموږ په خاوره کي د خپلو چوڼيو له بابته، افغان دولت ته زياتي پيسې ورکيي.

دا خبره سهي (صحيح) ده، چي امريکايي مقامات به د کابل مزدور رژيم ته د محصول يا تاجايي په نامه څه پيسې ورکړي؛ خو مهمه پوښتنه دا ده، چي امريکايي عسکر ولي، د د ې ښاغلود استدلال له مخي، له يوې خوا زموږ د خاوري، خپلواکۍ او ملي واکمنۍ دفاع کيي؛ او له بلي خوا افغان دولت ته د محصول په نامه پيسې هم ورکيي؟! مګر امريکايان خره دي که لېوني، چي هم به زموږ د «ساتني» دپاره خپل پوځيان قرباني کيي؛ د عسکري چوڼيو د تمويل په مقصد به ميلياردونه ډالر خاوري کيي؛ او د محصول يا تاجايي په نامه به هم، په کابل کي ناست ګوډاګي حکومت ته، اضافي پيسې ورکيي؟!

دا خو د عقل او منطق خبره نه ده. د مکتب زده کوونکي هم نسي قانع کولای. نه پوهېږم، چي د امريکايي عسکرو او چوڼيو د تداوم منتر وهلي پلويان په دې خندني استدلال کي، څه نبوغ او تبحر ويني؟! راسئ پر دې خبره يو څه رڼا واچوو، چي امريکايان ولي زموږ د «ژغورني» د غمه له يوې خوا ځانونه مرګ ته ورکيي؛ او له بلي خوا د خپلي دايمي استوګني له کبله، کوربه هيوادو ته د محصول په نامه پيسې هم ورکيي؟

واقعيت دا دئ، چي امريکايان ظاهراً ځينو، نه ټولو، کوربه هيوادو ته د خپلو عسکري اډو له بابته څه پيسې ورکيي؛ خو په بدل کي يې داسي څه اخلي، چي له ورکړل سوي محصول سره په هيڅ ډول د پرتلې وړ نسي بلل کېدای. د دغه راز استعماري اډو تر شا په عمومي ډول دا هدفونه اوناورينونه پراته دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف) د ملتونو د ملي شتمنییو لوټول: په تېرو بحثو کې یادونه وسوه، چې د افغانستان ستري طبیعي زېرمې او نړۍ وال بازار ته د مرکزي آسیا د سون موادو لکه تیلو او طبیعي غاز او پرېمانه مځکلاندو زېرمو په لېږدونه کې د دې هیواد حساس جغرافیایي موقعیت، امریکایي اشغالگرانو ته لوی او اساسي ارزښت لري.

ب) د هیوادو په کورنیو چاروکې ډول ډول لاسوهني: زموږ امریکا مآبه لیکوال او تحلیلگران، قرآنونه او قسمونه اخلي، چې امریکایي چوڼۍ به د افغانستان د دولت په کورنیو چاروکې هیڅ راز لاسوهنه نه کیي؛ ځکه یې نو سته والی، د دوی په عقیده، د بهرنیو لاسوهنو او تېریو ، په تېره بیا پاکستاني پوځیانو او ایراني اخوندانو ، په وړاندې ډېر ضروري ګڼل کیږي؛ خو سلیم عقل، ژور منطق او تاریخي تجربې دا مفتي او هوایي خبري کله منلای سي.

د هیوادو په کورنیو چارو کې د نه لاسوهني اصل، د معاصرو بین المللي حقوقو له اساسي اصولو څخه ګڼل کیږي . د دې زرین اصل سم او دقیق تطبیق کولای سي د ټولو هیوادو ، په تېره بیا زموږ د شاوخوا ګاونډیانو په خپلمنځي اړیکو کې د جګړو ، تصادماتو او کړکېچنو په مخنیوي کې لویه مرسته وکي. د همدې اصل له مخې، لکه څنګه چې د خپل هیواد په کورنیو چاروکې د پردو هیوادو لاسوهني په کلکه کرو ، په همدې ډول باید د نورو هیوادو په کورنیو چارو کې هم د امریکایي پوځونو د لاسوهنو ، ګواښونو او تېریو په کلکه غندنه وکو.

زموږ اسکېرلي خلګ له تېرو لسو کالوراهیسې په افغاني خاوره کې د امریکایي او نورو ایتلافي لښکرو د سته والي په وجه، د همسایه او سیمه ییزو هیوادو د رنګارنګ لاسوهنو اوتېریو ، سزاوي ګالي. که له حقیقته سترګې پټې نه کو ، په افغانستان کې د امریکایي قوتو دایمي استوګنه او رنګارنګ خپلسرۍ زموږ، زموږ د همسایه ګانو او نورو سیمه ییزو هیوادو په کورنیو چاروکې له لاسوهني پرته بله څه توجیه لرلای سي؟

دلته بې ګټې نه ګڼو ، چې په تېرو لسو کالو کې د ګرانو لوستونکو پام د یرغلګرو پوځو د لاسوهنو یو څو بولګو او مثالو ته را واړوو ، تر څو په خپله قضاوت وکي، چې د پردو عسکرو د توپ او ټانک تر کرغېړن سیوري لاندې د سیاسي خپلواکۍ او ملي واکمنۍ ادعاوي څونه واقعیت لري.

- ایا دا د افغانستان د خلګو غوښتنه وه، چې په بون کنفرانس کې د ټرلو دروازو تر شا د هیواد د مشرتابه مسوولیت، و پېژندل سوو جنایتکارانو ، قاتلانو ، جاسوسانو او غلو ته وسپارل سي؟! که افغانستان د امریکایي اشغالګرو په لاس کې نه وای، ایا چا د داسې برمنډې لاسوهني جرأت کولای سو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په بون کنفرانس کې د مزدور رژيم داساسي قانون پروژه طرحه سوه، ايا څوک کولای سي په هغې کې د امريکايي سلاکارانو له مهندسۍ څخه نټه وکړي؟

- ايا دا زمونږ د هيواد دود او دستور ؤ، چې د دفاع وزير، مرستيالان او نور سرغنه د عسکري جامو (uniform) پر ځای ملکي جامې واغوندي؟ البته، د دفاع يا کورنيو چارو وزرات د مسوولينو له خوا د عسکري يا ملکي کالو اغوستل څه لوخبره نه ده؛ خو سره له هغه هم زمونږ په ملي دودو او رواجو کې د پردو ښکاره لاسوهنه ښيي.

- د دفاع يا کورنيوچارو وزارتو د مشرتابه هيأتو د غړو له خوا د ملکي کالو اغوستل ښايي هيچا ته ډېره مهمه او جدي خبره و نه ايسي؛ خو د اشغالگرو له خوا زمونږ د هيواد په کورنيو چارو کې لاسوهني ته هيڅوک په ټيټه سترگه نسي کتلای. ټولو افغانانو ته څرگنده ده، چې زمونږ په هيواد کې د مختلط يا گډ اقتصادي سيستم پر ځای د بازار يا په اصطلاح «آزاد بازار» اقتصادي سيستم چا ودراوه؟

شک نسته، چې د بازار اقتصاد په پرمختللو او ځينو پرمختيايي هيوادو کې ښه نتيجه ورکړې ده؛ ځکه هغوی په دغه راز اقتصادي سيستم کې د عامو خلگو د حقوقو د ساتني او د شرکتو د ډول ډول سرغړونو د مخنيوي د پاره هم ځانگړي ميکانيزمونه او اداري جوړې کړې دي؛ خو په افغانستان غوندي وروسته پاته هيواد کې د چور او چپاو، لاقانونيت او څارونکو ادارو د نسته والي له امله د بازار اقتصاد يوازې د سراښو کورنيو او باندنيو مافيايي ډلو او ځينو بين المللي مالي مؤسسو لکه د پيسود بين المللي صندوق (آی. ايم. ايف)، نړۍ وال بانک او داسي نورو د واکمنو کړيو گټو ته خدمت کيي.

دا زمونږ د خلگو غوښتنه نه وه او نه ده، چې د دولت فابريکې، کارخانې او نوري تصدۍ د خاورو په بيه پر کورنيو او باندنيو مافيايي ډلو وپلورل سي. تر دې چې تېر سو، ايا له تېرو لسو کالو راهيسي زمونږ گومرکي (گمرکي) تعارفې او نور مالي- اقتصادي سياستونه د افغانانو له خوا ټاکل کيږي، که د باندنيو دولتو او بين المللي سازمانو له خوا؟

- ايا په هيواد کې واکمن مصرفي اقتصاد د افغاني اقتصاد پوهانو او سياستوالو د ذهنو محصول دئ، که د پردو دولتو او باندنيو سازمانو (آی. ايم. ايف.، نړۍ وال بانک او داسي نورو) ديکتې سوي لارښووني؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پردو دولتو او بین المللي سازمانو د دې ناروا او ناسمو لاسوهنو له امله اوس افغانستان د برېښنا د صادرولو پر ځای، له اوزبکستان او تاجیکستان څخه برېښنا رانیسي. د دې نامعقول او بې منطقه اقتصادي سیاست له کبله به زموږ له پرېمانه غرنیيو اوبو څخه نه یوازې د برېښنا په تولید، بلکې کرنه او خړوبولو کې هم کار نه اخیستل کیږي. د داسي تپل سوي اقتصادي سیاست حتمي نتیجه دا ده، چې افغانستان به تل د خپل اقتصاد د ډېرې اساسي او حیاتي مادې په برابرولو کې پردو هیوادو ته اړ یي. البته، دا حقیقت هم هر چا ته ښه څرګند دئ، چې اقتصادي تړښت یا وابستګي، په خپله سیاسي تړښت ته هم لار هواریي.

د داسي لاسوهنو لیست خورا اوږد دئ، چې د ټولو یادونه یې د دې لنډې رسالې تر حوصلې وتلې خبره ده. البته پر امریکا او ایتلافي دولتو سربېره، ګاونډي او سیمه ییز دولتونه هم د افغانستان په کورنیيو چاروکې پراخې لاسوهني کیي، چې د ټولو علت او منشأ بیا هم په هیواد کې پردي پوځونه، بېلابېلي تروریستي ډلي ټپلي او له هغو څخه را پیدا سوي کړکېچن سیاسي او امنیتي حالات دي.

هیله من یم، چې د امریکایي چوڼیيو د تداوم پلویان د دې څو مثالو په لوستلو سره په دې واقعیت پوه سوي یي، چې د پردو عسکرو او چوڼیيو په سته والي کې، د پردو هیوادو له راز راز لاسوهنو څخه خوندیتوب، له لویه سره نا ممکنه خبره ده. بې شکه، زموږ په کورنیيو چارو کې لاسوهني د امریکایي چوڼیيو یوازنۍ هدف نه دئ. راسئ په لاندي کرښو کې د داسي استعماري لښکرکوټو ځینو نورو هدفو ته هم لنډه اشاره وکو:

ج) په سیمه کې د استخباراتي شبکو پیاوړي کول او پراخول: دا مسأله دونه روښانه او برمنډه ده، چې ان تفسیر او تشریح ته هیڅ اړتیا نه لري. زموږ سترګه ور او هوښیار هیوادوال، له ورایه ګوري، چې تر امریکایي یرغل وروسته، پر افغانستان سربېره، زموږ زیاتره ګاونډي هیوادونه هم د امریکا د متحدو ایالاتو او ایتلافی دولتو د استخباراتو په لویو او پراخو ځالو اوښتي دي. د پردو لښکرو دغه راز جاسوسي شبکو، بېله شکه د ګاونډییو او سیمه ییزو هیوادو د استخباراتي فعالیتو پراخوالي او سختوالي ته هم لار هواره کړه. نتیجه دا سوه، چې زموږ وران او ویرجن هیواد د دوښمنو هیوادو د استخباراتي جنګو په یوه خطرناک ډګر واوښت؛ او دا جنګونه به د هري ورځي په تېرېدو سره لا پسي پراخیږي او سختیږي.

د) د سیاسي مخالفینو رټل، زینډی کول، ځورول او تعذیبول: پوهېږو چې د امریکا دولت د بشري سازمانو او ډیموکراتیکو غورځنګو د پیاوړو مخالفتو په وجه نسي کولای، خپلو سیاسي مخالفینو ته د هغه هیواد په قلمرو کې غیرقانوني جزاوي ورکړي؛ ځکه نو د انسان تښتوونکو په څېر د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه خپل بېلابېل مخالفین برمته کیي؛ او بیا یې د راز راز پوښتنو، پلټنو، ځورونو او عذابونو د پاره په مختلفو هیوادو کې خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړو سوو لښکرکوټو ته بيايي. د بېلابېلو انساني ضد شکنجو او ځورونو دپاره د بې ګونا انسانانو دې تښتونو ته په سياسي او حقوقي اصطلاح رنډيشن (rendition) وايي. د جنګړه جورج. ډبليو. بوش د ظالمانه واکمنۍ پر مهال ډېر بې ګونا انسانان د سي. آی. اې. د پټو عملياتو په ترڅ کې له بېلابېلو هېوادو څخه حمله و توبره سوه، چې تر ځينو مقدماتي پلټنو او ځورونو وروسته يې سرونه د بګرام او ګوانتانامو له محبسو څخه را ووته.

تر دې شواهدو او مدارکو وروسته، ايا د امريکايي ځواکونو جادو سوي پلويان او خواخوږي دا خبره مني که يا چې زموږ ګران هېواد، په تېره بيا تاريخي بګرام له تېرو لسو کالو راهيسې، د غيرقانوني پلټنو، زيندی کولو او ځورونو، په يوه خطرناک او بدنام بين المللي مرکز اوښتی دئ. په دې تور او انساني ضد محبس کې نه يوازې زموږ بې ګونا هيوادوالو، بلکې د نړۍ له بېلابېلو هيوادو څخه ډېرو نورو مظلومو او بېوزلو کسانو ته هم، په دې يا هغه نامه، رنګارنګ جزاوي او ځوروني ورکول کيږي.

ايا موږ د بشر پالوونکو او روښانفکرانو په نامه دې حقيقت ته غاړه ايښوولای سو، چې له هيواد څخه مو د خپلو او نورو اولسو د زندان يا شکنجه ځای په توګه استفاده وسي؟! ايا کېدای سي په داسي شرمناکو شرايطو کې د افغانستان د ملي واکمنۍ خبره وکړو؟ که کرزی، فهيم، خليلي، عبدالله عبدالله، قانوني، سياف، ګيلاني، مجددي، سپنتا، احدی، ارسلا، غني احمدزی او د استعمار نور نوکران د سپکاوي او شرم دې ځورونکي حالت ته د ملي واکمنۍ په سترګه ګوري، نو خدای دي افغانان له هغه حالته وساتي، چې واکمني ګرسره نه يي. بشپړ باور لرم، چې هيڅ با وجدانه، وطندوست او باغروره افغان دا تور او شرموونکی نوم نسي منلای.

- د کوربه هيواد او شاوخوا سيمې د ملي او خپلواکۍ بخښوونکو غورځنګو ځپل او شا ته وهل: زموږ وينښ او هوښيار لوستونکي دا استعماري موخه هم په افغانستان او ګاونډيو هيوادو کې، په ډېري اسانۍ سره کتلائ سي. موږ او تاسي ټول شاهديو، چې له تېرو دو دېرش کالو، په تېره بيا وروستيو لسو کالو راهيسې، د ملي او خپلواکۍ غوښتونکو غورځنګو، سازمانو او شخصيتو او ازونه د استخباراتي شبکو او تروريستي ډلو ټپلو له خوا په بې رحمۍ سره ځپل سوي او ځپل کيږي. په افغانستان کې به د امريکا د دايمي ځونيو له شامته، دا ملي ضد کړنلاره نوره هم سخته او خطرناکه بڼه واخلي.

- فرهنګي او مذهبي يرغل: په تېرو دو دېرشو کالو، په تېره بيا وروستيو لسو کالو کې د استعمارګرانو د دغه راز فرهنګي يرغل بولګې او مثالونه، هره خوا په پېخر دي؛ خو په خواشينۍ سره د هغو ناورين زېږونکي نتيجې لا څو کاله نور هم وخت اخلي؛ ځکه په يوه ټولنه کې د فکري او فرهنګي فساد اغېزې سمدلاسه اثر نه ښندي؛ نسبتاً اوږدو کلو ته اړتيا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د اخلاقي فساد او بېلابېلو جرايمو خپرول: که څه هم له تېرو لسو کالو راهيسې د هيواد په بېلابېلو برخو، په تېره بيا بګرام هوايي اډه کې د پردو عسکرو د اخلاقي فساد، جرم او جنايت، قانون ماتولو او بې پروايۍ ځينې مثالونه تر سترګو سوي دي؛ خو سره له هغه هم په دغو برخو کې د رسوا سوو پېښو ګڅه لا تر اوسه، د پردو پوځيانو د اخلاقي فساد او بېلابېلو جرمو، رېښتينی انځور نه ښيي؛ ځکه د داسې فساد او جرايمو ډېروالی او پراخوالی هم وخت ته اړتيا لري. ګران لوستونکي کولای سي د امريکايي پوځيانو د فساد او جنايت خپرولو په اړه ځو لنډې خبرې، په فليپين او جاپان کې د امريکايي چوڼيو د اخلاقي فساد او جرمو په برخه کې ولولي.

- د پوځي ازمايښتو او تمرينو له لارې د کوربه هيواد او حتا شاوخوا سيمو محيطي ککړتيا: د پردو عسکرو له خوا د ژوندانه د محيط (چاپېر) د ککړتيا خطر ته بايد هيڅکله په سپکه سترګه و نه کتل سي. د ژوندانه پر چاپېر د داسې ککړتياوو د ناوړو اغېزو د تشريح او روښانو د پاره بې ګڼتي نه ده، چې درنو لوستونکو ته په فليپين او جاپان کې، د امريکايي چوڼيو په اړه ځيني شمېرې او واقعيتونه وړاندې کو:
د خپرو سوو څېړنو او شمېرو له مخې، په فليپين کې د کلارک د هوايي اډې د پخوانۍ ساحې اړوند څاهانو د څښلو اوبه، په تېلو او شحمي موادو ککړې سوي دي. له هغو څلېرويشتو (۲۴) ځايو څخه چې د اوبو نمونې يې کتلې سوي دي، په دوه ويشتو (۲۲) ځايو کې د سيمابو، نايټرېټو، کاليفورم بکټرېا، سرپو، دايلډرينو او محللونو په ګډون د ککړوونکو عناصرو او مرکباتو ګڼه، د څښلو په اوبو کې د هغو تر ټاکل سوي ګڼې ډېره زياته وه. دا ککړوونکي توکي تر ډېره وخته په شاوخوا چاپېر کې پاتېږي؛ او د خوړو ځنځيرته په لار موندلو سره، له بيالوژيکي پلوه نور هم ډېر ښت مومي.

د هغو نوزوکړو کوچنيانو د روغتيا په اړه، چې مندو يې د اوکيناوا د کدينای هوايي اډې په ګاونډ کې ژوند کاوه، د ۱۹۹۲ع کال يو رپوټ ښيي، چې د جاپان د نورو نوزوکړو کوچنيانو په پرتله د دغو نوزوکړو کوچنيانو وزن ډېر لږ ؤ؛ او دا نيمګړتيا، په هغه هوايي اډه کې له الوتکو او نورو زړه لړزوونکو ږغو څخه انګېرل کيږي. د سپين ساحل ( وايټ بيچ) د اټومي اوبتلو د درېدو په ساحه کې د جاپان د حوزوي روغتيا شمېرني، په ماشومانو کې د لوکيميا او په لويانو کې د سرطانو لوړه ګڼه ښيي؛ د مثال په توګه په ۱۹۹۸ع کال کې، هغه دوې ښځې د اينې د سرطان له کبله مړې سوې، چې په سپين ساحل کې د صدف لرونکو حلزونو او ناوړو بحري بوټو په را ټولولو لګيا وې. په فليپين او جاپاني اوکيناوا کې د امريکايي لښکرکوټو د زيان اړونکو محيطي عواقبو په اړه زيات تفصيل، په دې تحليلي او معلوماتي مقاله کې وګورئ:

http://www.yonip.com/main/articles/womenmilitary.html

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د افغانانو د سپېڅلي او سرلوړي خاورې د کرایه کولو هویت بایللو «مبتکرینو» ته بلنه ورکوم، چې یو پلا د خپل معاصر تاریخ په لوستلو سره وګوري، چې انګرېزانو د ډیورنډ د تپل سوې تړون پر بنسټ، د اتلسو (۱۸) لکو روپو کلنۍ مرستې په بدل کې، د افغانستان له مزدور واکمن - امیر عبدالرحمان خان څخه څه واخیسته؟! ایا تاسې ته د هیواد د سوهیلي او ختیځو سیمو له لاسه وتل؛ او د یوه غښتلي واحد قوم، واحدې خاورې، واحد کولتور او واحدې ژبې ټوټه ټوټه کېدل، کوچنۍ خبره ښکاري ؟!

د امریکایي چوڼیو ځیني منتر وهلي پلویان له واقعیتو څخه په بې خبرۍ یا سترګو پټولو سره دا درواغجنه ادعا هم کیږي، چې ګوندې امریکایي چوڼیو د نړۍ په هیڅ هیواد کې ځایي خلګو ته هیڅ ډول ستونزې او پېچومې نه دي پیښې کړي. زه نه پوهېږم، چې دا ښاغلي د پیل په غوږ کې بیده دي، که له کالو سره د خلګو په سترګو ننوزي؛ او لمر په دوو ګوتو پټیږي؟

د لیکنې په دې برخه کې د ګرانو او درنو لوستونکو پام هغو شخړو، ناخوالو او ناوړو عواقبو ته را اړوم، چې امریکایي چوڼیو د نړۍ په بېلابېلو هیوادو کې، مېشتو خلګو او سیاسي واکمنانو ته په میراث پرېښې دي.

ټول جهان خبر دئ، چې د جاپان خلګ هره ورځ د هغه هیواد په اوکیناوا کې د امریکایي اډو د تړلو دپاره مظاهرې کیږي؛ ځکه د دې ښار خلګ د امریکایي پوځیانو له اخلاقي فساد او راز راز جرایمو څخه پزې ته رسېدلي دي. په اوکیناوا کې د امریکایي اډو پر مسأله بېلابېلو شخړو او مخالفتو، د جاپان پخوانی صدراعظم (یوکیو هاتویاما) د انتخاباتو تر را رسېدو مخکې استعفاء ته اړ کړ. په دې چې دی د خپل ګوند له غړو سره، د هغې ژمنې په پوره کولو کې پاته راغئ، چې ویلي یې وه، د سیاسي واک تر اخیستو وروسته به د اوکیناوا له ټاپوګانو څخه امریکایي چوڼۍ وباسي. د دې کړکېچني مسألې د نورو تفصیلاتو دپاره د دغه اینټرنیټي پاڼې وګورئ:

http://www.closethebase.org/
http://people.sabanciuniv.edu/ficici/docs/20070710-Okinawa.pdf
http://www.telegraph.co.uk/news/worldnews/asia/japan/7795734/Japanese-PM-Yukio-Hatoyama-resigns-over-broken-Okinawa-base-promise.h
http://www.worldpublicopinion.org/pipa/articles/international_security_bt/579.php

اوس راسئ په جاپاني اوکیناوا کې د ځای پر ځای سوو امریکایي پوځیانو د جرمو او جنایتو په اړه هم څو ټکي وړاندې کو، تر څو د دغه راز چوڼیو سرسپارلو مدافعانو ته ښه څرګنده سي، چې په افغانستان کې د امریکایانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



همېشنیيو پوځي مرکزو له سته والي سره هوکړه به د هغو پر خطرناکو سیاسي نتیجو سربېره، په جنايي برخه کي هم، زموږ بدمرغه هیواد له ډېرو لویو ستونزو او پېچومو سره مخامخ کړي.

د خپرو سوو شمېرو له مخي، جاپان ته د بیرته سپارلو په دېرشو کالو کي، په دغو ټاپوګانو کي مېشتو امریکايي پوځیانو پینځه زره (۵،۰۰۰) جُرمونه کړي دي، چي د هغو په سلو کي لس (۱۰) مشدده جرمونه یا هغه جرمونه دي، چي د افغانستان د جزا د قانون د ډلبندۍ له مخي د جنحې او جنایت په توګه پېژندل سوي دي. په دغه ډله جنایتو کي وژنه، جنسي تېری، د خلګو پر جسمي تمامیت ډول ډول بریدونه، وسله والي غلاوي او داسي نور شامل دي. د دغو جنایتو د څرنګوالي، بېلابېلو ډولو او پر ځايي اوسېدونکو د هغو د ناوړو اغېزو په اړه نور مالومات، په دغو ویبپاڼو کي ولولئ:

http://www.davidappleyard.com/japan/jp22.htm
http://nihon.awardspace.com/okinawa_sofa_crime.html
http://okinawa-island.blogspot.com/2010/01/list-of-main-crimes-committed-and.html

په یوه بل ځای کي راغلي دي، د اوکیناو خلګ انګېري (که څه هم په دې انګېرنه کي کېدای سي تر څه اندازې د بهرنیانو ضد احساسات هم نغښتي وي) چي د امریکايي چونیيو د «مجرمانه څپو» له خوا کلابند سوي دي. په اوکیناوا کي د دې جرم زېږوونکو مرکزوځیني نوري ستونزي او کړاونه، چي جاپاني سیاستوالو او له هغې ډلي څخه د جاپان مستعفي صدراعظم - هاتویاما - یې هم د لغوه کولو یا تعدیل کولو وس و نه موند، دا دي، چي د دغو امریکايي چونیيو پوځي کارکوونکي، په ډېري اسانۍ د قانون له منګولو څخه تښتي؛ او تر جرم یا جنایت کولو وروسته، د محاکمې او استرداد په پلمه، متحدو ایالاتو ته استول کېږي. د دې مسألې د نورو جزییاتو دپاره، د اینټرنیټ دغه پاڼه وګورئ:

http://thesop.org/story/world/2010/02/03/crime-and-the-us-military-in-okinawa.php

د ځینو کوربه هیوادو پر خلاف، چي د امریکايي چونیيو له درکه د محصول یا تاجايي په نامه څه پیسې تر لاسه کیږي، جرمني دولت په خپله خاوره کي د امریکايي چونیيود سته والي له بابته، د دغه هیواد دولتي مقاماتو ته په کال کي تقریباً یو میلیارډ (۱،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰) ډالر محصول ورکیږي. د دې خبر نور تفصیل د اینټرنیټ په دې لینک کي وګورئ:

http://www.fluglaerm-kl.de/dl/American_bases_in_Germany_fs.pdf

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم په جرمني کې د سوسيال ډيموکراټيک گوند او زرغون (گرين ) گوند ايتلافي حکومت، د عراق پر خلاف د امريکا او بريتانيا له جنايتکارانه يرغل سره ژور مخالفت لاره؛ خو سره له هغه هم په ناټو کې د غړيتوب او په خپله خاوره کې د امريکايي پوځي اډې د سته والي له امله، مجبور ؤ چې له يرغلگرو هيوادو سره لوژيستيکي او عسکري مرسته وکي. دا مرسته د جرمني له اساسي قانون څخه څرگنده سرغړونه گڼله کيږي؛ او د عراقي اولس پر ضد وحشيانه تېري کې د دې هيواد د سوشل ډيموکراټيک گوند او زرغون گوند د ايتلافي حکومت روښانه پړتيا زباديي. د دې موضوع نور جزييات، په دې مضمون کې وگورئ:

http://www.wsws.org/articles/2003/apr2003/germ-a07.shtml

زموږ هوښيار او حقپال لوستونکي په خپله قضاوت کولای سي، که جرمني غوندې ستر، پرمختللئ او غښتلی هيواد د امريکايي چوڼييو د فشارو له امله خپل اساسي قانون تر پښو لاندې کيي، نو د نوري نړۍ، په تېره بيا زموږ غوندې مزدورو او بېوزلو حکومتو به څه حال يي؟! په همدې دليل دا خبره له هر راز شک او شبهې وتلې ده، چې د امريکايي چوڼييو په موجوديت کې به زموږ ملي واکمني او سياسي خپلواکي، هيڅکله له تېرييو او لاسوهنو خوندي نه يي.

د نړۍ والو چارو شنونکو ته مالومه ده، چې د امريکايي چوڼييو فعاليتونه، په فليپين کې هم زياتره له سياسي شخړو او لانجو سره لاس او گرېوان يي. د نيويارک ټايمز په لاندني لينک کې د فليپيني حکومت او امريکايي مقاماتو ترمنځ د غه راز شخړو ته يوه لنډه کتنه سوې ده:

http://www.nytimes.com/1991/12/28/world/philippines-orders-us-to-leave-strategic-navy-base-at-subic-bay.html

کشکي په افغانستان کې د امريکايي لښکرکوټو پلويانو د پردو يرغلگرو د دايمي حضور په ستاينه کې ترستوني څېرلو او ړندو ليکنو د مخه، يو پلا په فليپين کې د امريکايي پوځيانو د استوگني ترخه او شرمناک درسونه لوستي واى؛ او بيا د دغه راز بدمرغو استعماري تأسيساتو د دفاع په سنگر کې دربدلي واى.

د نړۍ په ځينو هيوادو کې د امريکايي پوځيانو حضور اوس داسي شرموونکي حالت ته رسېدلئ دئ، چې هيڅوک يې له منلو نتېه نسي کولای. د مقالې په دې برخه کې، په ځينو هيوادو کې د امريکايي لښکرکوټو د ناوړين زېږونکي حالت په اړه څو لنډې خبرې کو؛ او خپلو مُدبر لوستونکو ته بلنه ورکوو، چې په خپله د افغانستان غوندې دوديزې ټولنې په ځانگړو فکري او فرهنگي شرايطو کې د هغو د خطرناکو عواقبو په باب اټکل وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نړۍ والو چارو شنونکو ته ښه ښکاره ده، چې د « سوبيک » خليج په سمندري اډه او کلارک هوايي اډه کې د امریکايي پوځيانو د استوګنې پر مهال د «اولنګاپو» او « انجيليس» ښارو فحشا ، په ټوله نړۍ کې نوم لاره. دا ناوړه حالت تر(۱۹۹۱ع) کال پورې دقيقاً هغه مهاله پورې روان ؤ، چې د « مونټ پينټوبو» اورغورځوونکې د کلارک هوايي اډې ډېره برخه ورانه کړه. په دې برخه کې زيات مالومات، له دغو اينټرنيټ پاڼو څخه تر لاسه کولای سئ:

http://en.wikipedia.org/wiki/Prostitution_in_the_Philippines
http://www.filipinawives.com/memorial.html
http://www.google.co.uk/#hl=en&q=crimes+in+philippines&aq=1&aqi=g3g-v4g-j3&aql=&oq=crimes+in+phi&pbx=1&bav=on.2,or.r_gc.r_pw.&fp=ecb04e88bcddfc48&biw=1366&bih=620

په (۱۹۴۷ - ۱۹۸۰ع ) کلو کې اته څلوېښت ( ۴۸ ) فليپينيان، چې درې پر څلورمه برخه يې ښځې او کوچنيان وه، د امريکايي چوڼيو په شاوخوا کې، په وحشيانه ډول وژل سوه. د بشري حقوقو د ساتنې ډېر سازمانونه په دې باور دي، چې د امريکايي چوڼيو د منسوبانو د جرمو او جنايتو ډېره برخه يا اصلاً نده را برسېره سوې يا په لوی لاس پټه ساتل سوې ده؛ ځکه په دغه راز جرمو او جنايتو کې ښکېل امريکايي پوځيان ،يو هم په فليپينۍ محکمه کې، نه دئ محاکمه سوئ.

يوازې په « اولنګاپو» ښار کې څلور زره، درې سوه شپږ پينځوس ( ۴،۳۵۲ ) ښځو جوازونه تر لاسه کړي دي، چې د مېلمه پالو( د بدلمنو يا فاحشو ښځو فېشني نوم ) دنده وکي. په « انجيليس» ښار کې، چې پينځه سوه ( ۵۰۰ ) ميخانې کاروبار لري، د دغو ښځو شمېر درو زرو څلور سوو دېرشو (۳،۴۳۰ ) ته رسيږي. په « سوبيک » کې د دغه راز ښځو شمېر درې سوه اته څلوېښتو ( ۳۴۸ ) او په « مبلکت» کې درو سوو ( ۳۰۰ ) ته رسيږي. البته، داارقام په جنسي سوداګرۍ کې د ښکېلو ښځو بشپړ او دقيق شمېر نه ښيي؛ ځکه که د بې جوازه کوڅه يي ښځو شمېر هم ور سره ملګری سي، بيا يې نو شمېر په « اولنګاپو» ښار کې د نهو زرو (۹،۰۰۰ ) شاوخوا او په « انجيليس» ښار کې تقريباً اوو زرو (۷،۰۰۰) ته رسيږي.

په ( ۱۹۸۵ - ۱۹۹۱ع)کلو کې د « انجيليس» ښار د ايدز له کاري ډلې سره د ايچ.آی. وی. يو څلوېښت ( ۴۱ ) مالومې پېښې ثبت سوي، چې له هغو څخه نهه ( ۹ ) ناروغان مړه سوي دي.

په جنوبي کوريا ، جاپان او فليپين کې هغو کوچنيانو ته په سپکه او بده سترګه کتل کيږي، چې له امريکايي پوځيانو څخه زېږېدلي يي. داسي کوچنيان، چې زياتره د پلرو له خوا پرېښوول سوي؛ او له خپلو مندو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوييږي، له پلرنييو ځېرو سره د ورته والي له کبله، د ژوندانه په ټولو برخو، په تېره بيا ښوونه او روزنه کې د خلګو له تعصب او سپکاوي سره مخامخ کيږي. د نور تفصيل د پاره، دا هراړخيزه مالوماتي مقاله ولولئ:
http://www.yonip.com/main/articles/womenmilitary.html

که د امريکايي چوڼييو سرسپارلي او جادو سوي مدافعان دغو تکان ورکوونکو واقعيتو او شمېرو ته هم هيڅ ارزښت نه ورکيي، بيا نو په کار ده، چي په کابل کي د امريکايانو مزدورو واکمنانو ته سلا او مشوره ورکړي، چي د فاحشه خانو، شرابخانو، حراميانو او په پای کي ابېزا او له هغو څخه نورو را پيدا کېدونکو ناورينو د مخنيوي د پاره هم مخکي له مخکي تياری ولري؛ ځکه هر ځای چي د دې فرعونانو پښې ايښوول سوي دي، د شرابخانو، نايټ کلبو او فاحشه خانو جوړېدل او د ډول ډول جرمو او جنايتو خپرېدل حتمي او ضروري خبره ده.

که څه هم د امريکايي او ايتلافي ځواکو له خوا زمونږ د سپېڅلي او وياړلي هيواد له اشغال سره جوخت، د دغه راز بې ناموسيو او بد اخلاقيو زړي هم د هيواد په ګوټ ګوټ کي کرل سوي دي، چي د بګرام هوايي اډه په هغو کي ځانګړی نوم لري؛ خو سره له دې هم د دغه راز فساد ورانوونکي عواقب لا تر اوسه به سم ډول نه دي را منځ ته سوي؛ اما په دې خبره کي شک نسته، که امريکايي چوڼۍ څو کاله نور هم پاته سي، هغه مهال به دا فساد هم ديوه لوی ملي ناورين وګچي ته ورسيږي. له دې امله بايد پر ټولو هغو ناموس پلورونکو د زړه له کومي لعنت او نفرت وايو، چي زمونږ په سرلوړي هيواد کي، دې توري او شرمناکي لکې ته، د هر ډول شرايطو او امکاناتو په برابرولو کي برخه اخلي.

په سعودي عربستان کي هم له امريکايي اډو سره د عامو خلګو مخالفت څه پټه خبره نه ده. درنو لوستونکو ته څرګنده ده، چي له سعودي حکومت سره د القاعدې او نورو مخالفينو د وسله وال مقاومت يوازنی دليل هم په پيل کي همدغه امريکايي چوڼۍ وې؛ ځکه امريکايي پوځونه په حقيقت کي د خليج د جګړې په پلمه په سعودي عربستان کي ځای پر ځای سوي وه. معقوله او پرځای خو دا وه، چي تر خپل رسمي مأموريت وروسته يې سمدستي د سعودي عربستان خاوره پريښې وای؛ مګر په خواشينۍ سره چي د فارس خليج په حساسه ستراتيژيکه سيمه کي يې خپلو استعماري هدفو ته په پام سره، پښې اوږدې و غزولې. که چا د وسله وال مقاومت په زور نه وای ايستلي، بېله شکه به تر اوسه پوري د راجاګانو او نوابانو په شان هورې ناست وای. د دې موضوع نور تفصيل په دغو ويبپاڼو کي وګورئ:

http://en.wikipedia.org/wiki/United_States_withdrawal_from_Saudi_Arabia
http://news.bbc.co.uk/1/hi/world/middle_east/2984547.stm

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ او تاسي ټولو افغانانو ته مالومه ده، چي په ۲۰۰۱ ع کال کي ځینو امریکایي الوتکو له پاکستاني هوایـــي ډګرو څخه پر افغانستان بریـدونـه وکـــړه. همدا اوس هم ویل کـــیږي، چـــي د سي. آی. اې. بـــې پیلـــوټه الوتکي (drone predators) له ځینو پاکستاني هوایي اډو څخه پر افغانستان او قبایلي سیمو بمباری کیږي. دا واقعیت د پاکستان په ایبټ آباد کي د اسامه بن لادن پرکور د امریکایي قواوو د وژونکي ګوزار او له امریکایي چارواکو سره د پاکستاني واکدارانو تر ظاهري شخړو او لانجو وروسته لا نورهم ثرګند سو. په حقیقت کي د بن لادن تر وژني وروسته ؤ، چي دوو مخو پاکستاني پوځیانو د بن لادن د پلویانو د خواخوږۍ په خاطر د امریکاد بې پیلوټه الوتکو پر مخ د خپلي «شمسي» نومي هوایي اډې، د بندولو خبري وکړې.

ښایي دا ظاهري جار و جنجال د پاکستاني عامه افکارو دغولولو دپاره د پاکستاني او امریکایي پوځیانو د زرګري جنګو یوه برخه یي؛ خو د پاکستاني او امریکایي واکمنانو له خوا د پاکستان له «شمسي» هوایي اډې څخه د کار اخیستني په اړه د حقایقو له پټولو سره سره، له دې روښانه واقعیت څخه هیڅوک نټه نسی کولای، چي د پاکستان درست خلګ، په تېره بیا مظلوم او بېوزلي پښتانه، په قبایلي سیمو کي د امریکایي ډرون له رنډو او بې رحمانه بریدو سره سخت مخالفت لري. د نړۍ خبري وسایل هره ورځ د امریکاد دغه راز وحشیانه بریدو پرخلاف د پاکستاني اولس، په تېره بیا جګړو ځپلو پښتنود مظاهرو او لاریونو شاهد دي.

پاکستانۍ خاوره، اوبه او فضا تر اوسه په پټه یا ښکاره د امریکایي ځانګړو قواوو او سي. آی. اې. لو یه او پراخه ځاله ده؛ ځکه نو هیڅوک له دې خبري مخ نسي اړولای، چي له امریکایي پوځ او استخباراتي کړیو سره د پاکستاني دولت ښکاره یا پټو همکاریو په هغه هیواد کي د جګړې، نا امنیو او سیاسي شخړو خورا لوی اورونه بل کړي دي. د دې سرکښو اورونو له کبله پاکستاني اقتصاد او پاکستاني اولس ته دونه ستر او پراخ تاوانونه اوښتي دي، چي د جنرال پرویز مشرف او زرداري له حکومتو سره بې د امریکایي مقاماتو په اقتصادي او عسکري مرستو، هیڅکله سر نه سره ورځي. که په پاکستاني قلمرو کي د امریکایي پوځو او استخباراتي شبکو پټي او ښکاره لاسوهني نه وای، پوره باور دئ، چي نن به د دې هیواد پر خپلواکۍ غوښتونکو خلګو، په تېره بیا مظلومو پښتنو، د قیامت شپې او ورځي نه تېرېدای. د پاکستان او امریکا د روانو عسکري همکاریو د ځینو اړخو په اړه نور مالومات دلته کتلای سي:

http://www.foxnews.com/politics/2009/02/19/official-confirms-using-pakistan-base-launch-attacks/
http://www.timesonline.co.uk/tol/news/world/asia/article5762371.ece

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تورکیه ( ترکیه ) کې د اینجرلیک امریکایي چوڼۍ هم له ورایه د تورکیې په سیاسي نظام کې د هغه هیواد د پوځیانو د ښکاره برلاسي، د اسراییلو د صهیونیستي دولت د ټینګښت او په سیمه کې د امریکا د ځینو نورو استعماري هدفو د تحقق د پاره کار کیږي. بې ځایه نه ده، چې د لیکنې په دې برخه کې د امریکایي پوځیانو د همېشني حضور له افغاني پلویانو څخه پوښتنه وکو، چې که بې هویته تورکي پوځیان او سیاستوال د نړۍ والو بشري حقوقو او ملي - اسلامي دودو پر خلاف خپلو ښځو ته په دولتي ادارو او تحصیلي مؤسسو کې د پوړني اغوستلو اجازه نه ورکیږي، موږ افغانان هم باید د هغو د دې جاهلانه او انساني ضد عمل پیښې وکو؟ !
که غرب مآبه تورکي پوځیانو او سیاستوالو د خپل سیاسي ژوند د بقاء د پاره هر بدو بلا ته لاسونه اچول، موږ افغانان به یې هم په پټو سترګو تقلید کوو؟ مګر موږ د مولانا جلال الدین بلخي غوندي عارف او سید جمال الدین افغاني غوندي متفکر او مبارز په لرلو سره دې اړ یو چې د هویت بایللو تورکانو پر ناسمه لار ګام کښېږدو؟ ! زموږ عارفانو او مفکرانو تورکانو ته د پوهې، پرمختګ او بشپړتیا لار ښوولې ده، ځکه نو تقلید او پیښې کول د هغوی کار دئ نه زموږ.

په داسي حال کې، چې په ټولو لویدیځو هیوادو ( فرانسه یوازنی هیواد ؤ ، چې په دې وروستییو وختو کې یې د هغه هیواد په عامه ځایو کې د بوغرې یا چادري پر اغوستو بندیز ولګاوه ) کې مسلماني ښځې حق لري، په خپله خوښه کالي واغوندي؛ مګر د تورکیې متعصبو پوځیانو او سیاستوالو د خپل هیواد د ښځو له دې منل سوي انساني او اسلامي حق څخه سترګې پټولې، تر څو چې د دغه هیواد پارلمان د( ۲۰۰۸ع )کال د فبرورۍ پر اوومه نېټه د تورکیې په رسمیاتو کې د پوړني اغوستلو بندیز ایسته کړ. په تورکیه کې د پوړني اغوستلو د ناروا او بې ځایه بندیز د ایسته کولو تفصیل، د ویکیپیډیا په دې پاڼه کې وګورئ:

http://en.wikipedia.org/wiki/Headscarf_controversy_in_Turkey

که څه هم تورکیه خاص جیو - ستراتیژیک موقعیت او له کُردانو ، قبرص او ارمنیانو سره تاریخي ستونزې لري، مګر سره له هغه هم که یې عام خلګو ته په ریشتیا سره اختیار ورکړل سي، ښایي نه په ناټو کې غړیتوب او نه هم په خپل هیواد کې د امریکا همېشني حضور ته غاړه کښېږدي.

د تورکیې د سیاسي تاریخ پوهانو او شننونکو ته په بشپړه توګه مالومه ده، چې د امریکا متحدو ایالاتو تل په تورکیه کې د خپلي پوځي اډې او وفادارو تورکي پوځیانو له لاري د هغه هیواد د ډیموکراټیکو رژیمو په ړنګولو کې لویه برخه اخیستې ده. د تورکیې په سیاسي نظام کې د غرب مآبه پوځیانو برلاسی تر لمر روښانه خبره ده . تورکیه، پاکستان او اسراییل د نړۍ له هغو درو مشهورو هیوادو څخه دي، چې درست سیاسي نظام یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



واقعیت کې د پوځي واکمنانو په لاس کې دئ. په ترکیه کې د عسکري کودتاوو او له قبرص او ارمنیانو سره د ترکانو د تاریخي مسألو په باب، دغه ویبپاڼې وګورئ:

http://en.wikipedia.org/wiki/Category:Military_coups_in_Turkey
http://www.historyplace.com/worldhistory/genocide/armenians.htm
http://en.wikipedia.org/wiki/Cyprus_dispute

سربېره پردې، ایا هر هغه څه چې د ترکیې یا کوم بل هیواد په ګټه یې، باید هرومرو زموږ د هیواد په خیر او ګټه هم یې؟ مګر ترا وسه مو په دې روښانه خبره سد نه رسیږي، چې مختلف هیوادونه، بېلابېل عیني او ذهني شرایط لري؛ او له یوه هیواد څخه بل هیواد ته د سیاسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي سیستمو یا د هغو د ځینو برخو او عناصرو میخانیکي او مقلدانه لېږدول، له ولسي پاڅونو، مخالفتوا و ستونزو پرته بله څه نتیجه نه لري. ایا زموږ د جنګ ځپلي اوکړکېچن هیواد وروستی څو دېرش کلن تاریخ، د دې مدعا روښانه ثبوت نه دئ؟

دې ټولو دلایلو او شواهدو ته په پام سره باید د دې روښانه حقیقت له منلو مخ وانړوو، چې د امریکا چوڼۍ په هیڅ ځای کې د ځایي خلګو غوښتنه نه ده.

ولې؟

ځکه چې دا ډول استعماري چوڼۍ نه یوازې په کوربه هیواد، بلکې په چارچاپېره سیمه کې د انسان ځپلو، زیندی کولو، چور او چپاو، فساد خپرولو، ګوابنلو، ورانولو او ککړولو خورا خطرناک مرکزونه دي. ښکاره او څرګنده خبره ده، چې خلګ په خپلو سیمو او هیوادو کې د پردو لاسوهنې، جنایتونه، فحشاوې، لوټمارۍ، بې عزتۍ او نورې ناروا وې نسې منلای.

په دې خبره خو د کوچنیانو هم سر خلاصیږي، چې استعماري قدرتونه هیڅ کار بې ګټې او بې مطلبه نه کیږي، نو امریکا څنګه له دې کلي او اساسي اصله مستثناء کېدای سي، چې زموږ افغانانو له غمه به تر خپلو وینو او پیسو تېریږي؟ په لاندې لینک کې د امریکا له پوځي اډو سره، د بېلابېلو سیمو د ځایي اوسېدونکو د مخالفتو ګڼه وګورئ. له وړاندې سوو نظر پوښتنو څخه په ډاګه ښکاري، چې خلګ په خپلو ملي او وطني مسألو کې د استعمار په ناولو او خطرناکو نخښو ډېر ښه پوهېږي:

http://www.worldpublicopinion.org/pipa/articles/international_security_bt/579.php

اما د استعمارګرانو د پیسو یا نورو اقتصادي مرستو تشه باید څنګه ډکه کو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ وياړلئ ملي تاريخ ښيي، چي افغانان کولای سي د خپلو پلرو او نيکو په شان په لوړه، ښوزلۍ او راز راز اقتصادي کړاونو کي ګوزاره وکړي؛ خو دا هيڅکله نه مني، چي د پردو مغرضانه پيسو ته په سترګو نينګلو سره، د غلامۍ طوق غاړي ته واچيي؛ او سوکه سوکه د خپلي سپېڅلي او سرلوړي خاوري، واک له لاسه وباسي.

موږ افغانان بايد هيڅکله د پردو پيسو ماهيت، د ترلاسه کولو لار او په ټولنه کي د هغو اغېزي او نتيجې له پامه و نه غورځوو. بايد تل دې پوښتنو ته جوابونه و موو، چي پردي هيوادونه د څه مقصد د پاره پيسې راکيي؟ د راکولو لار يې څه ده؟ او په پای کي د دغه راز پيسو تر لاسه کول زموږ مځکنۍ بشپړتيا، سياسي خپلواکۍ، ملي واکمنۍ او ملي يووالي ته څه زيان رسولای سي؟ هغه خولۍ دي خدای هيڅکله زموږ پر سر نه کړي، چي د سر او وجود خطر را منځ ته کيي.

که د پردو پيسو په تر لاسه کولو کي دغو زرينو اصولو او معيارو ته پام و نکړو، بيا نو د هيواد د مځکنۍ بشپړتيا، سياسي استقلال، ملي حاکميت او ملي وياړونو د زيانمن کېدو او ان نابودۍ خطرونه هم بايد د زړه له کومي و منو.

بايد ويښ او هوښيار اوسو، چي استعمارګران د لرغونو توکو د سراښو او غولوونکو سوداګرو په څېر په دې ناروا معامله کي د څو تنګو په ور کولو سره، زموږ لرغوني او تاريخي خزانې تر ګوتو کيي. بايد د خپلو پلرو او نېکو ارزښتناک تاريخي ميراثونه په هيڅ بيه له لاسه و رنکړو. په دغه راز بايلونکي قمار کي د ګټي تر لاسه کول، فقط افسانه ده او بس.

له دې سَوَبه بايد وياړلي او سرلوړي افغانان د هيواد د اقتصادي پرمختګ د پاره د استعمارګرانو د پوځي اډو د تباه کوونکي محصول يا ماليې پر ځای پر خپلو پربمانه طبيعي زېرمو، پياړو متو، نه ستړي کېدونکي کار، نوښتګرو مغزو، علمي تجربو، ښې ادارې، عادلانه نظام، يووالي او پيوستون تکيه وکړي، چي هم مو اقتصادي سوکالۍ ته لار هواروي؛ او هم مو وطن، خپلواکي او ملي ارزښتونه له هر ډول لاسوهنو او يرغلو څخه خوندي ساتي.

## امریکایي چوڼۍ او نمايشي لويه جرګه

لکه څنګه چي په تېرو مباحثو کي هم يادونه وسوه، زموږ د ځينو غرب مآبه ليکوالو او شننونکو د ناسمو ادعاوو پر خلاف، په افغانستان کي د امريکايي چوڼيو جوړول، په هيڅ وجه د (۲۰۱۴ع) کال خبري نه دي. زموږ سترګه ورو او باخبره هيوادوالو ته په بشپړه توګه څرګنده ده، چي د دې ډول استعماري چوڼيو د جوړولو کار له تېرو لسو کالو ياني د امريکايي يرغل له همغي اولي ورځي څخه پيل سوئ؛ او تر اوسه پوري، په پوره چټکۍ سره روان دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له شينډنډ څخه تر کونړو، له بلخ او کندوز څخه تر خوست او پکتتکا پوري ګرده افغانستان د امريکايانو او نورو ايتلافي پوځو په لويو او کوچنيو لښکرکوټو ډک دئ. له دې روښانه حقيقت څخه هيڅوک ستر ګي نسي پټولای.

البته، هغه څه چي تر اوسه نه دي سوي، دې کرغېړنو استعماري چوڼيو ته د په اصطلاح «رسميت» او «مشروعيت» ورکولو خبره ده او بس. د حامد کرزي په مشرۍ مزدور حکومت، د عبدالله عبدالله، امرالله صالح او احمد شاه مسعود د ورونيو په مشرۍ مزدور اپوزيسيون او د ډول ډول جنګي ډلو ټپلو له استازو، بېلابېلو جاسوسانو او ټپل سوو مزدورانو څخه ډک پارلمان او ولايتي جرګې هم د دغه راز تش په نامه «رسميت» او «مشروعيت» دپاره، تر ټولو ښه او مناسبه موقع ګڼله کيږي. بې شکه، امريکايانو د دې طلايي چانس د تر لاسه کولو دپاره، په تېرو لسو کالو کي خپل زرګونه پوځيان مرګ او درد ته ودرول؛ ميلياردونه ډالر يې په اور کي واچول؛ په خپل هيواد کي دننه او دباندي يې د ميليونو سوله دوسته اولسو، مخالفت او دوښمنۍ ته غاړه کښېښوله. که دا حساسه او طلايي موقع له ګوتو ووزي، مانا به يې په ساده ټکو سره دا يي، چي امريکايان افغانستان ته په ډکو لاسو راغله؛ خو په تشو لاسو بيرته ووته. بې انساني تلفاتو، مالي تاوانو، شرمناکي رسوايۍ او بدنامۍ به يې هيڅ ګټه نه يي کړې.

که څه هم د يرغلګرو پوځو د ټپل سوي رژيم د اساسي قانون د نيويمي (٩٠) مادې د پينځمي (٥) فقرې له حکمو سره سم، د بين المللي تړونو او ميثاقو منل يا له هغو سره د افغانستان د يو ځای والي فسخه کول د «ملي شورا» د واکونو په ډله کي ياد سوي دي؛ خو سره له هغه هم امريکايي اشغالګرو زموږ د هيواد او سنيبو سياسي واقعيتو ته په پام کولو سره، دا غوره ګڼلې ده چي د خپلو استعماري چوڼيو د «رسمي کولو» کړکېچنه او لانجمنه مسأله د يوې قلابي لويې جرګې د استازو له خوا تأييد او تصويب کړي.

د امريکايي سياستو طراحان د لويې جرګې په جوړولو سره دغه دوه لوی هدفونه، په پام کي لري:

- اول دا چي د ولسي جرګې د تصويب او ملاتړ په تر لاسه کولو سره غواړي په افغانستان، سيمه او ګرده نړۍ کي، خپلو دايمي چوڼيو ته د «مشروعيت» او «قانونيت» دروغجن پوښ ور واغوندي؛ او له دې لاري په خپل ګومان پر هيواد پالو، خپلواکو او سرلوړو افغانانو سربېره د ګاونډيو هيوادو اود سيمې د لويو لوبغاړو له مخالفتو او اعتراضو څخه د «تښتې» لار ومومي.

- دوهم دا چي په دې مهمه ملي او وطني مسأله کي د کرزي د مزدور حکومت او تش په نامه پارلمان او وړې سپکي کړي؛ ځکه دوی ته ښه مالومه ده، چي د کرزي د حکومت يا پارلمان له خوا به د دې ستري ملي مسألې تأييد او تصويب، په درد بدلي او خښمېدلي افغان ملت کي د مخالفت او دوښمنۍ لا نوري ځپې هم را وپاروي. له همدې سَوَبه کرزی له افغاني او بين المللي مطبوعاتو سره په خپلو مرکو او کنفرانسو کي داسي ښيي، چي ګوندي دی هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپلواکو، سرلوړو او باغروره افغانانو په څېر، د امریکا دايمي چوڼيو ته په اجازه ورکولو خوښ نه دئ. څه موده مخکې يې، له افغاني ژورنالیستانو سره، په يوه تلویزوني مرکه کې ادعا وکړه، چې د پوځي اډو په اړه يې د امریکا پېښې او لاسونه يې ورتړلي دي؛ او داسې شرایط يې پر ايښې دي، چې ټول د افغان دولت او اولس پرګټو راڅرخي. ده، په ټينګار سره ډاډ څرګند کړ، چې د دولت له خوا به هیڅکله داسې هیڅ کار ونه سي، چې د افغان اولس په ګټه نه يي؛ خو زموږ هوښیار او سترګه ور وطنداران ټول له ورایه ګوري، چې د کرزي مزدور او تپل سوی حکومت د سیاسي، عسکري، اجتماعي او اقتصادي ژوندانه په هیڅ برخه کې له امریکايي اشغالګرانو سره برابر حقوقي دريځ نه لري. د خلګو خبره: چيري نوکر، چيري بادار.

زموږګردو هيوادوالو ته مالومه ده، چې امریکايي اشغالګران او نورو ایتلافي دولتونه له تېرو لسو کالو راهیسې کرزي، د هغه د حکومت غړو، پارلمان، اوردو، پولیسو، استخباراتو او ټولو دولتي کارکوونکو ته تنخاوي ورکيي؛ او په کابل او ولایتو کې يې د کورو او دفترو ساتنه کيي. دا خبره هم هر چا ته مالومه ده، چې که د امریکايي عسکرو د ټانکو او الوتکو شوم سیوری نه يي، خدای خبر دئ، چې دا فاسد مزدوران به څو ورځې زموږ د دردمنو خلګو د قهر او خښم په وړاندې مقاومت وکړای سي؟ له دې کبله نو د کرزي د فاسد او مزدور حکومت له خوا د امریکایانو د لاسو او پښو تړلو ادعا له یوې بې خونده ټوکې پرته بل څه نه ده.

تېرو لسو کالو کرزی او د هغه فاسد حکومت، ټولو افغانانو او نړۍ والو ته په هره مانا ور وپېژندی؛ مګر همدا بې واکه او بې ارادې کرزی نه ؤ، چې د خلګو تر اوږدو شکایتو او کړاوو وروسته يې په کابل او نورو ښاروکي د سیمېټي دېوالو او خنډو د ایسته کولو امر وکړ؟ خو په کابل او نورو ښاروکي تر اوسه خلګ د دې ډول سیمېټي دېوالو او خنډو له ستونزو خلاص نه دي. تر دې چې تېر سو، ایا همدې باټک کرزي په لوړ اواز او لکه غاړه ونه ویل، چې په امریکايي او ایتلافي ځواکو پوري تړلي «امنیتي» شرکتونه باید په څو میاشتو کې و تړل سي؟ حال دا چې زموږ وښې او آګاه لوستونکي ښه پوهېږئ، چې د هغو «امنیتي» شرکتو د تړلو خبره تر کومه ځایه دقیقه ده، چې د کرزي په خپله وینا يې د ده د حکومت تر څنګ بل موازي حکومت جوړ کړئ دئ؟! په دې خبري يې هم بلا پسې، ایا همدا کرزی نه ؤ، چې په ټينګار سره به يې ادعا کوله: هیڅکله به د «ولسي جرګې» د معترضو کاندیدانو د ګیلو او شکایتو تر حلولو مخکې د «پارلمان» پرانیستلو ته غاړه کښېنږدي؟ اما نتیجه څه وه؟! موږ ټولو ولیده، چې د امریکايي چارواکو تر یوه کوچني ګواښ وروسته يې سمدلاسه، د خپل بهرنۍ سفر بار و بستر و تړاه؛ او بېله ځنډه يې د هغه نوم بدې «پارلمان» په پرانیستلو لاس پوري کړ، چې ښايي د نړۍ د پارلمانو په تاریخ کې يې ساری نه يې لیدل سوئ. د کرزي ټولي خبري یوه خوا او دا مهمه خبره بلې خوا، چې په وارو وارو يې تکرار کړې ده: موږ نور د امریکايي او ایتلافي قواوو خپلسري بمبارۍ، تلاښۍ او عملیات نسو زغملائ؟ مګر بیا هم موږ ګرده شاهدان یو، چې د خپلسرو فرعونانو وحشیانه بمبارۍ، تلاښۍ او عملیات د پخوا په شان تر اوسه جاري دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکایان او پیاوړي اوروپايي دولتونه خو آخوا پرېږدئ، ایا په تورو کڅوړوکي د ایران د اخوندي رژیم تورو او چټلو پیسو، کرزي او د هغه مزدور حکومت ته د سیاسي خپلواکۍ په نامه څه پرېښي دي؟ ! کله چي د فارسیزم او شیعیزم مکارو ټیکه دارانو د منلو بین المللي موازینو پر خلاف، زموږ مظلوم هیوادوال جو په جو په دار وځړول او لا تر اوسه له دې جنایته لاس نه اخلي، ایا کرزي او د هغه مزدور حکومت د اعتراض څه ږغ پورته کړ؟ ! کله چي همدې پراختیا غوښتونکو اخوندانو زموږ مهاجر افغانان د انسانیت او اسلامیت د ټولو اصولو او دودونو پر خلاف له خپل هیواده وشړل، ایا د کرزي مزدوري او فاسدي اداري څه احتجاج وکړ؟ ! دا خبره هم د هیچا هېره نه ده، چي کرزي او د هغه ملي ضد حکومت په ایران کي د افغاني سوداګرو د څنډول سوو ټانکرو د خوشي کېدو د پاره څه توره وکړه؟ ! که د زړورو افغانانو زوروري او پرله پسې مظاهرې نه وای، مزدورکرزي او د هغه خاینو ملګرو به د ایراني حاکمانو د اندېښني او خرخښې له بیري د یوه تشریفاتي هیأت د لېږلو جرأت هم نه وای کړی. داسي مثالونه په پېښر دي، چي د کرزي او ملګرو پر شرموونکو باټو او پوچو ادعاوو د بطلان کرښه باسي.

همدې واقعیتو ته په پام سره، افغانان اوس د کرزي په دې نمایشي او زرګري مانورو هیڅکله نه غولیږي. په تېرو لسو کالو کي یې د هغه د دغه راز زرګري جنګو او غوولونکو نندارو خورا ډېري نمونې و لیدلې. امریکايي اشغالګران د دغه راز غولوونکو تاکتیکو په کارولو سره، په واقعیت کي هلې ځلې کیي، چي مزدور او منفورکرزي ته د «ملي» رنګ په ورکولو سره، په افغاني او بین المللي ټولنه کي، څه باور او پرستیژ تر لاسه کړي؛ ځکه په تېرو لسو کالو کي د پردو فرعونانو د خپلسرو تاړاکونو او خپلو جابرانو د فساد او ظلمونو له کبله حالات د عمومي پاڅون پولي ته رسېدلي دي.

د کرزي او انډیوالانو پر خلاف، چي له امریکايي چوڼیو سره یې خپل مخالفت ظاهراً پټ ساتلئ دئ، د امریکايي یرغل د مخکښانو په توګه د عبدالله عبدالله په مشرۍ د هغه د تش په نامه اپوزیسیون پلویان او خواخوږي، نه یوازي پر دغو کرغېړنو استعماري تأسیساتو هیڅ اعتراض نه کیي، بلکي د هغو ستهوالی او تداوم خپله اساسي هیله او غوښتنه ګڼي. بېلابېلي ستمي ډلي ټپلي لکه «خراسانیان» ، «افغانستانیان» او داسي نور هم د امریکايي لښکرکوټو د دفاع په لومړۍ لیکه کي ولاړ دي. د هغو کرایه سوو ټیکنوکراټانو او بېلابېلو مافیايي ډلو داستان هم کټ مټ همداسي دئ، چي په افغانستان کي د امریکايي او ایتلافي عسکرو د توپ و ټانک تر کرغېړن سیوري لاندي، د ناز او نعمت ژوند تېروي.

د همدې حقایقو پر بنسټ د امریکایانو مخکي له مخکي جوړي سوي چوڼۍ اوس د چا خبره یوازي د «رسمیت» او «مشروعیت» په مقصد د لویې جرګې نمایشي ټاپې ته انتظار باسي. البته، د دې درواغجني او تقلبي ټاپې د تر لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو دپاره هم له پخوا څخه پراخ او هراړخیز مقدمات پیل سوي دي.  په دې توګه، دې ناوړه حالت زموږ زړور او خپلواک خلګ د خپل اوږده تاریخ له خورا خطرناک او حتا فاجعه زېږوونکي ازمایښت سره مخامخ کړي دي...

مخکي تر دې چي د لويي جرګې له خوا د امريکايي چوڼېيو د تصويب يا ترديد په اړه خپلې خبري نوري هم اوږدې کو، بې ګټې نه ګڼم چي تر يوه ببل سرليک لاندي، زموږ په ګډ تاريخي کور (ګران افغانستان) کي د جرګو او مرکو ارزښتناک دود ته يوه لنډه کتنه وکو؛ او دا خبري ځانته مالومي کړو، چي د جرګو او مرکو دود له څه وخته باب سوئ؛ په دغه راز قامي يا ملي غونډوکي څه ډول کسانو برخه اخيسته؛ او د خپلو ملي ګټو د ساتني دپاره يې څه ډول پرېکړي کړي دي؟ ببله شکه، زموږ د پلرو او نېکو دا وياړلئ دود و دستور به يو پلا بيا د هيواد په دې حساسو تاريخي شېبوکي زموږ سرلوړو، خپلواکو او مړنيو وطندارانو ته د ملي او وطني ګټو د ساتني ستر رسالت او مسوولیت ور په یاد کړي.

## په افغانستان کي د جرګو تاريخي دود ته يوه کتنه

تاريخ ښيي، چي زموږ لرغونې مېنه د آريايانو له زمانې څخه د جرګو او مرکو هيواد دئ. د آريايي آثارو په استناد، زموږ نيکه ګانو د خپلو کليوالي، قامي او ملي ستونزو د ليري کولو دپاره د «سبها» او «سميتي» په نامه دوديزي جرګې درلودې (حبيبي، تاريخ مختصر افغانستان ۱۰). د مؤرخانو او محققانو د څېړني له مخي، «سبها» د عامو خلګو جرګه وه، چي په کلو او بانډوکي به جوړېده؛ خو «سميتي» داسي جرګه وه، چي د قام مشرانو، مخوَرو او شتمنو بې غړيتوب لاره. په دې توګه «سبها» له نننۍ اولسي/ولسي جرګې او «سميتي» له «ځلــوېښتي»، «مشرانو جرګې» يا «سنا» سره ورته والی درلــود. په هندوستان کـــي تر اوسه د «سبهــا» آريايي کليمه د لوک سبها (Lok Sabha) يا ولسي جرګې (شورا) او راجيا سبها (Rajya Sabha) ياد ايالاتو
د جرګې (شورا) په ټکوکي ژوندی پاته ده؛ او د دې خبري مانا دا ده، چي موږ له هـــنديانو سره په تاريـــخي او فرهنګي ميراثو کي، ګډې ريښې لرو.

جرګه او مرکه زموږ په کورني، کليوالي، قبيله يي او ملي ژوند کي ډېر لوړ او ارزښتناک سياسي - حقوقي ځای لري. همدا اوس موږ ټول افغانان د خپلو کورنيو شخړو او لانجو د حلولو دپاره د ځينو مُصلحو او خير غوښتونکو خپلوانو، دوستانو او اشنايانو په ګډون کورنۍ جرګې جوړوو. په هرکلي کي د هغه کلي د ببلابېلو مشکلاتو او پېچومو د حلولو دپاره دکلي د ديني عالمانو، مشرانو او مخورو په ګډون، کليوالي يا محلي جرګې جوړيږي. د دوو يا څو قبيلو/قومو تر منځ ببلابېلي شخړي او ناخوالي هم تل د جرګو او مرکو له لاري حليږي، چي په هغو کي د ښکېلو اړخو پوهان، عالمان، قومي مشران، سپين ږيري او د رسوخ خاوندان برخه اخلي. لويه جرګه، لکه څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي له نامه يې ښکاري، د افغانانو د لويو ملي - وطني مسألو د خلاصون او پرېکون مهمه مرجع او د خلګو د ارادو او غوښتنو څرګندوی ده.

په اوسنيو شرايطو کي کله کله د لويو جرګو حقوقي مؤسسې ته د هغې د زړښت او د هغې له پرېکړو او مصوبو څخه د واکمنو طبقو د ناوړو استفادو پر بنسټ د انتقاد ګوته نيول کيږي؛ او پر ځای يې له ريفرنډم يا عمومي نظر پوښتني څخه د کار اخيستو غوښتنه وړاندي کيږي.

دا سمه خبره ده، چي د ملي او وطني مسألو په اړه د نظر ښوولو مستقيمه لار د هغې تر غيرمستقيمي لاري، په ځينو حالاتو کي غوره ګڼله کيږي؛ خو زموږ د جنګ ځپلي هيواد اوسنيو ځانګړو سياسي - امنيتي شرايطو، ټولپوښتنه يا ريفرنډم تر زياته بريده ګران کړئ او حتا د ناشونتيا حد ته رسولئ دئ؛ ځکه ريفرنډم يا عمومي نظر پوښتنه، په ټول هيواد کي له سراسري سولي او امنيت پرته ستونزمن کار برېښي؛ په داسي حال کي چي د لويو جرګو را بلل په هر ډول سياسي او امنيتي شرايطو کي له امکانه ليري کار نه دئ. د کلي، قبيلې، قوم او هيواد د بېلابېلو مسألو د هواری د پاره کېدای سي، هر وخت په اسانۍ سره د يوې جرګې جوړولو تياری او سرېښته وسي؛ مګر د ټولو هيوادوالو د رايو پوښتنه پر مساعدو او مناسبو سياسي- امنيتي شرايطو سربېره، پراخو لوژستيکي تياريو او لويو مالي لګښتو ته هم اړتيا لري. له بله پلوه، د واکمني طبقې ناوړه استفادې او ناروا لاسوهني يوازي په لويه جرګه پوري تړلي نه دي، د عمومي نظر پوښتني پر سيستم هم ژوره اغېزه ښندلای سي. څرګنده ده، چي د ريفرنډم په بهير کي هم بېلابېلي ټګۍ برګۍ، تېرايستني او سرغړوني د رايو ورکوونکو ارادو او غوښتنو ته په کلکه زيان اړيي؛ او دا کار بېله شکه د ريفرنډم روښانه او منصفانه نتيجه له لويو ستونزو او مشکلاتو سره مخامخ کيي.کله چي ريفرنډم او لويه جرګه دواړه د ټولني د واکمنو کړيو له ناوړه استفادو او ناروا لاسوهنو څخه خوندي نه يي، بيا نو په هيواد کي د انتخابېدو او انتخابولو د پروسې له ښه کولو او شفاف کولو پرته څه لار پاتېدای سي؟ ځکه يوازي د خلګو د آزادي برخي اخيستني، شفافيت او عادلانه معيارو پر بنسټ د انتخاباتو د سموالي يا ناسموالي په اړه قضاوت کولای سو.

دا چي انتخابات مستقيمه يا غير مستقيمه بڼه ولري، ډېره اساسي او ټاکوونکې مسأله نه ده. اساسي او ټاکوونکې مسأله دا ده، چي د خلګو نظرونه او رايي بايد يا په مستقيمه يا غير مستقيمه بڼه پراخ انعکاس ومومي؛ غوره ورته و نيول سي او عمل په وسي. د کابل د ګوډاګي دولت د اساسي قانون پينځه شپېتمه ماده (۲۵) جمهور رييس ته واک ورکيي، چي په مهمو ملي، سياسي، اجتماعي او اقتصادي موضوعاتو کي د افغانستان د خلګو عمومي رايه وپوښتي. دا خو ډېره ښه خبره ده؛ مګر دا چي جمهور رييس د څه ډول کسانو رايه پوښتي؛ او د هغو له نظريو او غوښتنو سره څه چلند کيي ډېره ارزښتناکه خبره ده. خير، د اساسي قانون د پينځه شپېتمه مادې (

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۵**) له نص څخه په څرګنده ښکاري، چي په اوسني اساسي قانون کي د مستقيمي ديموکراسۍ تمثيلي سيستم( ريفرنډم) د غيرمستقيمي ډيموکراسۍ د تمثيلي سيستم (لويه جرګه) تر څنګ يوازي د يوې کومکي او تکميلي وسيلې په توګه استعماليږي.

د دې د پاره چي د ملي جرګو په ارزښتناک رول او سترو ملي پرېکړو ښه سر خلاص کړو، بې ګټې نه ده چي دلته زموږ د هيواد په معاصر تاريخ کي د ځينو مهمو ملي او قامي جرګو، لنډه يادونه وکو. دا لنډ بحث په کندهار کي د صفوي استعمارګرانو پر ضد، زموږ د زړورو او غيرتمنو نيکونو د خپلواکۍ بخښونکي غورځنګ له لومړيو ورځو څخه پيل کوو. په کندهار کي د هوتکي دورې ښلابل مؤرخان ليکي: «کله چي حاجي ميرويس خان هوتک ( ۱۱۱۹ - ۱۱۲۷ هـ ق) د بيت الله شريفي تر زيارت او له عربي علماوو څخه د ګرګين او ملګرو د وژني تر فتوا اخيستلو وروسته کندهار ته ستون سو، نو يې د هغه ښار د لوېديځ په شپږ ميلۍ کي د ارغنداو د رود ( سيند ) پر غاړه د «کوکران» په کلي کي د مخورو يوه جرګه ور وبلله. په دې جرګه کي د اصفهان د دربار د سياسي حالاتو په اړه اوږدې او هر اړخيزي خبري وسوې؛ او د جرګې برخه والو ته په کندهار کي د صفويانو د مستبد حُکمران - ګرګين د وژلو په اړه، د عربستان د عالمانو فتوا ښکاره سوه ( حبيبي، <u>تاريخ مختصر افغانستان</u> ۷۳).

دوهمه جرګه د کندهار د ښار د ختيځ لوري په شل ميلۍ کي د « مانجې» په سيمه کي جوړه سوه؛ او د کندهار ښار د هغي زماني ځينو متنفذو او نوميالييو شخصيتو لکه سيدال خان ناصر، بابوجان بابي، بهادر خان، پير محمد مياجي هوتک، يوسف خان هوتک، عزيز خان نورزي، ګل خان بابړ، نور برېڅ، نصرو خان الکوزي، د ميرويس خان ورور (يحيا خان هوتک)، د يحيا خان زوی (محمد خان) او يونس خان کاکړ ،ګډون پکښې کړئ ؤ. په دې ستره او ارزښتناکه قامي جرګه کي د افغانستان د خپلواکۍ وثيقه لاسليک سوه؛ او په قرآن عظيم الشان لوړه وسوه ( حبيبي، <u>تاريخ مختصر افغانستان</u> ۷۳ ) . تر دې جرګې وروسته د فراه، سيستان او کندهار ټولو خلګو، چي په هغو کي تاجک، هزاره، پښتانه او بلوڅ شامل وه، ميرويس خان د خپل آزادی غوښتونکي مشر په توګه و پېژندئ ( غبار ۳۱۹ ) .

دريمه جرګه هغه وخت جوړه سوه، چي زموږ ننګياليو نيکونو د خپل مړني، پياوړي او هوښيار ملي مشر( ميرويس خان هوتک ) په لارښوونه په کندهار کي د صفوي استعمار کمبله ټوله کړې وه؛ خو د مغولي او صفوي امپراتوريو د ګډو دسيسو او لمسوونو په سَوَب لا د هيواد خپلواکي او ملي واکمني له خطرو او ګواښو څخه نه وه ژغورل سوې. ميرويس خان هوتک په دې جرګه کي، د خلګو ريښتينو استازو ته په خپله وينا کي وويل: « که زما سره ودرېږئ، د خپلواکۍ بيرغ به تل تر تله رپانده ساتلئ يي؛ او د پردو د مريیتوب طوق به مو هيڅکله غاړې ته نه لوېږي. زموږ له هغو کسانو سره هيڅ راشه درشه او دوستي نسته، چي د پردو و اسارت او غلامۍ ته غاړه ايږدي ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جرگې برخه والو، د خپل ملي مشر د وينا تر اورېدو وروسته، په ټينگار سره ژمنه وکړه، چې د ژوند تر وروستيي سلگيو پورې به د خپلواکۍ او ملي واکمنۍ د دفاع له مورچل څخه پر شا نسي.» (حبيبی، تاريخ مختصر افغانستان ۷۴- ۷۵).

د ډېرو خپلو او پردو مؤرخينو له روايت سره سم د زړور او مُدبر مشر (ميرويس خان هوتک) تر مړيني وروسته د هغه ورور (عبدالعزيز خان) د چارو واگې په لاس کې واخيستې؛ او سمدستي يې د خلگو يوه پراخه جرگه ور بلله. په خواشينۍ سره عبدالعزيز د خپل سرلوړي او باغروره ورور - ميرويس خان په څېر د لوړ همت او پياوړي هوډ څښتن نه ؤ، ځکه يې نو له جرگې څخه د صفويانو د اطاعت غوښتنه وکړه؛ خو له نېکه مرغه د جرگې گډون کوونکو د هغه دا ناوړه غوښتنه و نه منله. سره له دې هم، عبدالعزيز د اصفهان دربار ته سفير ولېږه؛ او د دغو درو شرطو په رعايت سره يې، صفوي دربار ته د اطاعت غاړه کېښېښوله:

۱- د هغو ماليات بخښل، چې په کندهار کې د گرگين د واکمنۍ پر مهال اخيستل کېده.
۲- کندهار ته د صفوي لښکرو د راتگ مخنيوی.
۳- د عبدالعزيز په زامنو او لمسيانو کې د پاچهۍ د دوام په رسميت پېژندل.

د ډېرو کورنيو او بهرنيو مؤرخينو په حواله، کله چې افغانان د عبدالعزيز په دې شوم او شرمناک دريځ خبر سوه، ځلوېښتو زرو کسانو د ميرويس خان له زوی (محمود) سره لاس يو کړ؛ او د عبدالعزيز په وژلو يې د خپلواکۍ او ملي واکمنۍ جنډه رپانده وساتله. البته، په کندهار کې د شاه حسين هوتک د دربار منشي او د پټې خزانې ليکوال (محمد هوتک) په دې اړه جلا نظر وړاندي کړئ دئ، چې لوستونکي يې په «پټه خزانه» او «تاريخ مختصر افغانستان» کې تفصيل لوستلای سي (حبيبی، تاريخ مختصر افغانستان ۷۹ - ۸۰ ؛ هوتک ۱۰۹).

د دې درو ملي جرگو د جوړېدو له بهيره په ډاگه ښکاري، چې زموږ مړني او ننگيالي خلگ تل د خپلواکۍ غوښتونکو استعماري ضد مبارزو په لومړۍ ليکه کې ولاړ وه. لکه څنگه چې يې د ډارن او بې زړه عبدالعزيز په وړاندي د هغه د ځوان او زړور وراره - محمود هوتک په ملاتړ کولو سره يو پلا بيا هم دا حقيقت زباد کړ، چې سر ورکيي، خو خپلواکي او استقلال نه ورکيي. لکه څنگه چې تاريخ شاهدي ورکيي، زموږ د سرلوړو او خپلواکۍ مينو خلگو د همدې رشادت او سرښندني له برکته ؤ، چې په پای کې د صفوي امپراتورۍ مرکز - اصفهان هم د افغانانو لاس ته ولوېدئ.

د هوتکو تر څه باندي د برش کلني وياړلي دورې وروسته، زموږ په ملي تاريخ کې بله لويه او مهمه جرگه د کندهار د «شير سُرخ» تاريخي جرگه ده، چې په (۱۱۲۰ه ق/ ۱۷۴۷ع) کال کې جوړه سوه. په دې ارزښتناکه جرگه کې، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نادر افشار تر وژني وروسته د افغانستان د ملي مشر د ټاکلو د پاره بلل سوې وه، د ځینو قبیلو مشران لکه د غلجو مشر (نور محمد میر افغان)، د پوپلزو مشر (محبت خان)، د ساګزو مشر (موسا خان)، د نورزو مشر (نصرالله خان)، د بارکزو مشر (جمال خان) او د سدوزو مشر (احمدخان ابدالي) برخه اخیستې وه.

جرګې اته غونډې وکړې؛ خو برخه وال یې د یوه ملي مشر د ټاکلو پر مسأله، روغې جوړې ته ونه رسېده؛ ځیني په یوه دلیل، ځیني په بل دلیل له پامه ولوېده. د جرګې په نهمه غونډه کې ګرده ګډون کوونکي په دې سلا سوه، چي پینځه ویشت کلن احمد خان ابدالی د هغه د زړورتیا، پوهې، زغم او نېک شخصیت له مخې، د خپل ملي مشر په توګه وټاکي. په دې وخت کې د نامتو صوفي - استاد لایخوار کابلي زوی - صابر شاه ملنګ، چې د جرګې په برخه والو کې یې د یوه تصوفي او روحاني شخصیت په توګه خاص مقام لاره؛ او هغه مهال د «شیر سُرخ» په مزار کې اوسېده، له نیژدې پټې ځخه د غنمو یو وړی پرې کړ؛ او د احمد خان په بګړۍ کې یې د پاچهي تاج په بڼه وتومبه. په دې ډول، د هیواد د ملي مشر د ټاکلو ستونزه ایسته سوه (حبیبی، تاریخ مختصر افغانستان۸۷؛ غبار **۳۵۵**). د «شیر سُرخ» د جغرافیایي موقعیت او تاریخي ارزښت په باره کې د نامتو مؤرخ - ارواښاد استاد احمد علي کهزاد(۱۲۸۲ - ۱۳۲۲ هـ ش) مقاله، دلته کتلای سئ:

http://afgazad.com/Tarixi/121808-A.A._Kohzad_Shair_Surkh_wa_Pir_Sabz[1].pdf

دکندهارد «شیر سُرخ» جرګه باید د هیوادپالو او خپلواکی غوښتونکو افغانانو د هوښیارۍ او سیاسي پوخوالي یوه بله څرګنده نخښه وګڼو؛ ځکه په همدې ارزښتناکه تاریخي جرګه کې زمونږ هوښیارو او مخلصو نیکونو د هیواد د لوړو ګټو او مصلحتو د تحقق دپاره، خپلې ټولي فکري، قبیله یي او سیاسي شخړي یوې خوا کښېښولې؛ او د یوه واحد وجود په توګه د هیواد د مځکنۍ بشپړتیا، ملي واکمنۍ او سیاسي خپلواکۍ د دفاع په مورچل کي ودرېده.

د «شیر سُرخ» تر جرګې وروسته نورو واکمنو نظامو هم تل د هیواد د سیاسي او ملي مسألو د حلولو دپاره، لویو جرګو ته مخه کړې ده. د امیر امان الله خان(۱۲۹۸ش/ ۱۹۱۹ع - ۱۳۰۸ش/ ۱۹۲۹ع) په زمانه کې هم دوې لویې جرګې جوړې سوې، چې یوه یې په ۱۹۲۴ع کال او بله یې په ۱۹۲۸ع کال کې وه.

دلته د دې دواړو لویو جرګو د یوه ګډون کوونکي (عبدالرحمان خان لودین کبریت) د هغه بیان یوه برخه راوړم، چي د امان الله خان د تلواري او بې سنجشه اصلاحاتو په وړاندي یې د اعتراض په بڼه وړاندي کړئ دئ؛ او د افغانستان ټولو سیاست والو ته د عبرت لوی درس ګڼل کیږي. د ملي مبارز او ریښتیني روښانفکر- عبدالرحمان لودین په وینا کې د عبرت لوی او ارزښتناک درس دا دئ، چې د خلګو ریښتیني استازي باید د ملت د لوړو ګټود ساتني

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاره هیڅکله له حقیقت ویلو څخه ډډه و نه کړي؛ په قامي او ملي جرگو کي همېشه هغه څه و وايي، چي د خلگو او وطن په گټه يي، نه د مزدورو واکمنانو او پردو بادارانو په گټه.

د هيواد نوميالی مؤرخ او نه ستړي کېدونکي مبارز - اروابناد مير غلام محمد غبار (۱۲۷۲- ۱۳۵۲ هـ ش) په «افغانستان در مسير تاريخ» او لوی استاد - اروابناد علامه عبدالحي حبيبي (۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰م - ۱۳۶۳ ش/ ۱۹۸۴م ) په «جنبش مشروطيت در افغانستان» کي راوړي دي، کله چي امير امان الله خان د(۱۳۰۷ هـ ش/ ۱۹۲۸ع )کال د ميزان پر پينځلسمه، په ستوري مانۍ کي، دانقلابي پاچا په نامه، خپل افراطي اصلاحات اعلان کړه، عبدالرحمان لودين يې په جواب کي و ويل: «ټولواک ځان انقلابي پاچا معرفي کړ، که ريشتيا هم داسي يې، نو د دولت په دستگاه کي هم بايد انقلاب و مني. لس کاله کيږي، چي ټولواک په خپله د صدارت دنده پر غاړه اخيستې ده؛ خو انقلاب د صدراعظم په توگه د داسي چا د ټاکلو غوښتنه کيي، چي خلگ يې د کارونو پوښتنه او گروېږنه وکړای سي (غبار ۸۱۳ ؛ حبيبی، جنبش مشروطيت در افغانستان ۱۹۱).

په همدې لويه جرگه کي له خلگو څخه د ښځو د مخ لڅي يا لڅ مخي په اړه هم پوښتنه وسوه. ملکه ثريا هم په لڅ مخ د غونډي په تالار کي ناسته وه. ټولو برخه والو د ښځو مخ لڅي ته د تأييد سرونه وښورول؛ مگر دووکسانو - د کابل د گمرک رييس - عبدالرحمان خان لودين او د سوداگرۍ وزير - عبدالهادي خان داوي، ونه منله. دې دواړو کسانو و ويل: موږ د ښځو د مخ لڅي له لومړنيو پلويانو څخه يو؛ خو نه په دې شېبو کي، چي هره خوا د انگرېزانو دسيسې او توطيې رواني دي؛ او له دې مصلحانه خوځښت څخه هم فتنه جوړيږي( حبيبی، جنبش مشروطيت در افغانستان ۱۹۱ ؛ غبار ۸۱۳). لوی استاد - علامه حبيبي په اماني دوره کي د دې کړکېچنو سياسي حالاتو د يوه عيني شاهد په توگه، د عبدالرحمان لودين پر دغه دقيق او عالمانه بيان دا لنډه جومله هم ورزياته کړې ده: «او داسي هم وسوه.» ( حبيبی، جنبش مشروطيت در افغانستان ۱۹۱).

دې ته وايي ريښتيني، خپلواک، روښانفکره، غښتلي، سرلوړي او باغروره افغانان - هغه کسان چي د هيواد د لوړو ملي گټو د ساتني او دفاع په لار کي تر عزت او مقام څه چي، حتا خپل سر هم تېر وه. عبدالرحمان لودين خو څو کاله وروسته په سرښندني سره عملاً هم ثابته کړه، چي د وطن او خلگو د خدمت په لار کي له سر بايللو څخه هم هيڅ بېره او ډار نه لري.

د افغانانو د توري او قلم قهرمان - خوشال خان ختک (۱۰۲۲ - ۱۱۰۰ هـ ق) په «دستارنامه»کي ناحقه نه دي ويلي:

چي دستار تړي هزار دي

د دستار سړي په شمار دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چي بګړۍ يا دستار تړل د هر کس او ناکس کار نه دئ، په قامي او ملي جرګو کي برخه اخيستنه هم د هر کس او ناکس کار نه دئ. دا کار د هغو مېړنو، خپلواکو، هوډمنو، هوښيارو او زړه سواندو کسانو کار دئ، چي خدای تعالی په شلو هونرو، کمالو او ښېکو خويو نازولي يي؛ او د وطن د خپلواکۍ او ملي نواميسو د ساتني په لار کي، له هيڅ راز قربانۍ او سربښندني څخه بېره ونه لري. که څه هم عبدالرحمان خان لودين په ظاهره نه رېږه لرله او نه بګړۍ؛ خو په ډېره مېړانه او زړورتوب تر سر تېر سو؛ اما تر آزاد ږغېدو او حقيقت ويلو تېر نسو. د عبدالرحمان لودين پر خلاف داسي کسان هم سته لکه رباني، خليلي، سياف، مجددي، ګيلاني، محقق او په لسګونو نور مزدوران، چي په ظاهره يې بګړۍ او دستارونه پر سر تړلي دي؛ مګر په عمل کي له هيڅ راز، وطن پلورولو، جنايتو او خيانتو څخه مخ نه ګرځيي. د همدې استدلال له مخي به د نوميالي مبارز او وتلي روښانفکر - عبدالرحمان خان لودين نوم او کارنامې تل تر تله زمونږ په ملي تاريخ کي په زرينو کرښو ليکلي يي. اروا دې ښاده يي!

د لويو جرګو دود له ځينو لنډ مهالو ځنډواو خنډو پرته، تر اوسه جاري دئ. ځينو واکمنانو په ښېکه او ځينو نورو د تېر ايستلو او غولولو د پاره له هغه څخه کار اخيستئ دئ. له دې امله بې ځايه نه ده، چي د دې هيواد ټولي لويي جرګې د ماهيت او مضمون په لحاظ پر دوو ډلو وېشوو:

- اول هغه جرګې، چي د افغان ملت د ريښتينو استازو په ګډون جوړې سوي يي؛ او برخه والو استازو يې د اولسي باوراو ملي ګټو د ساتني دروند مسووليت، په پوره ايماندارۍ سره ادا کړی يي، ياني د جرګې د هغو پرېکړو سيله او ملاتړ يې کړی يي، چي په هره مانا له ملي او ولسي ګټو سره سمون ولري. دې ډول لويو جرګو ته بايد بېله هر ډول شک او شبهې د ملي جرګو نوم ورکړل سي؛ او پرېکړو ته يې د ملي وثيقې يا ملي تړون په توګه درناوی وسي؛ لکه د کوکران، مانجې، نارنج او شير سرخ ملي جرګې، چي برخه والو کسانو يې د هغې زمانې واکمن فيوډالي او قبيله يي نظام ته په پام سره تر ډېره ځايه د خپلو اړونده قبيلو او سيمو استازيتوب کاوه؛ او خلګو هم د جرګو ولسي او ملي ماهيت ته په کتو سره د هغو پرېکړو او مصوبو ته په درنه سترګه کتل.

- دوهم هغه جرګې، چي د بېلابېلو حکومتو سياسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي کړنلارو ته د تش په نامه «مشروعيت» ورکولو په مقصد جوړي سوي، جوړېږي او لا به جوړي سي. د دغه راز دولتي جرګو غړو تل د افغان خپلواک او غيرتي ولس پر ځای د واکمن رژيم د ګټو او مصلحتو استازيتوب کړئ او کيي؛ نو ځکه يې عام خلګ هيڅکله پرېکړو او مصوبو ته د ملي ارادې، ملي وثيقې يا ملي تړون په سترګه نه ګوري. داسي جرګو له امنيتي ستونزو، بې ځايه پيسو لګولو او وخت ضايع کولو پرته، نه پخوا څه ګټه رسولې، نه يې اوس رسولای سي؛ او نه به په راتلونکو وختو کي څه ګټه ولري. له دې کبله دا ډول تبليغاتي غونډو ته د «لويو جرګو» پر ځای د «لويو دوکو» يا «لويو تېر ايستنو» اصطلاح ډېره دقيقه او مناسبه برېښي. مونږ او تاسو د افغانستان په معاصر تاريخ، په تېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا تېرو دېرشو - څلوېښتو کالو کي د دغه راز درواغجنو او غولوونکو جرګو، خورا ډېر ډولونه او مثالونه لیدلي دي.

تېرو ټکو ته په پام سره، اوس اساسي پوښتنه دا ده، چي د امریکایي پوځو د توپ او ټانک تر کرغېړن سیوري لاندي به د کرزي د مزدور حکومت له خوا را بلل سوې لویه جرګه، څه راز ماهیت ولري؟! راسئ دې پوښتني ته د هیواد د قانوني اسنادو او موجودو واقعیتو په رڼا کي، جوابونه ولټوو:

دامریکایانو د تپل سوي اساسي قانون د یوسل ولسمي (۱۱۰) مادې د حکمونو له مخې، لویه جرګه د ملي شورا د غړو او د ولایتو او ولسوالیو د جرګو له رییسانو څخه جوړېږي. البته د کابینې وزیران، د سترې محکمې رییس او غړي هم کولای سي د لویې جرګې په غونډو کي بې له دې چې د رایې ورکولو حق ولري، ګډون وکړي.

زموږ ګرانو هیوادوالو ته مالومه ده، چي د انتخاباتو په بېلابېلو پړاوو کي پر یو عالم شکایتو سربېره د ولسي جرګې لږ و ډېر سلو بر حاله غړو په تېرو انتخاباتو کي د راز راز ټګۍ برګۍ، سرغړونو او بې نظمیو له اسیته د انتخاباتي جرمو د څېړني په اختصاصي محکمه کي، لاینحل دوسیې لرلې. په وروستیيو میاشتو کي ټول شاهدان وو، چي د انتخاباتي جرمو د څېړني داختصاصي محکمې له خوا د معترضو کاندیدانو له مجموعي شمېر څخه دو شپېته (۶۲) کسه د بریالییو کاندیدانو په توګه و پېژندل سوه؛ او دا کار په دې مانا دئ، چي په همدې شمېر برحال وکیلان د انتخاباتو په بېلابېلو پړاووکي د چل ول او سرغړونو له امله څارنوالی ته ور و پېژندل سوه.

دا ګرده سیاسي- حقوقي شخړي او لګي درګي په داسي حال کي رواني دي، چي په اولسي جرګه کي په انتخاباتي تلقبو، سرغړونو او بې نظمییو تورنو وکیلانو نه یوازي د انتخاباتو د اختصاصي محکمې پرېکړه او د هغې وجود په رسمیت نه پېژني، بلکي په اولسي جرګه کي یې دیوه ډراماټیک مانور په ترڅ کي حتا د قضاء د «عالي شورا» د پینځو غړو په ګډون د ستري محکمې له رییس او لوی څارنوال څخه هم د باور رایه واخیسته. د اختصاصي محکمې له خوا اعلان سوي بریالي کاندیدان د پخوا په شان د اختصاصي محکمې، لویې څارنوالۍ او جمهوري ریاست تر منځ بې ګټې ځغاستي پاستي کیي. په دې توګه، لکه څنګه چي ټول ګورو، اولسي جرګه، حکومت، قضاء او لویه څارنوالي ګرده په یوه داسي ژور سیاسي - حقوقي بحران کي سره را ښکېل دي، چي ناوړه اغېزې یې هره شېبه په هیواد کي سولي او امنیت، مځکنۍ بشپړتیا، ملي واکمني او سیاسي خپلواکۍ ته لوی ګواښ اړولای سي.

د اساسي قانون د یوسل ولسمي (۱۱۰) مادې د حکمونو سره سم د لویې جرګې د برخه والو دوهمه ډله

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ولایتي جرګو (شوراوو) له رییسانو څخه جوړه ده. د دې ډلې غړي، لکه څنګه چې مالومیږي، د ملي شورا تر غړو هم زیات په پخوانیو جنګي ډلو ټپلو او ایتلافي پوځو پوري تړلي دي؛ ځکه د ملي شورا په غړو کې د ځینو منورو او بې پرې کسانو له موجودیت څخه انکار نسي کېدای؛ خو په ولایتي جرګو کې د سیاسي او امنیتي حالاتو د خړپړتیا له امله د دغه راز کسانو شمېر ډېر لږ یا له هیڅ سره برابر دئ.

بالاخره د اساسي قانون د همدې یوسل ولسمي (۱۱۰) مادې د حکمونو له مخې د لویې جرګې د ګډون کوونکو بله ډله د ولسوالیو د جرګو یا شوراوو رییسان دي، چې تر اوسه په هیواد کې د زیاتېدوکو ناامنیو له کبله نه د دوی څرک مالوم دئ او نه یې د اړونده جرګو.

کله چې په راتلونکې لویه جرګه کې د ولسوالیو د شوراوو د نسته والي له جهته د اټکل سوو استازو د نیمګړتیا په اړه له حامد کرزي څخه پوښتنه وسوه، هغه په تلوسې او وارخطایۍ سره و ویل: «دا خو هغه لویه جرګه نه ده، چې په اساسي قانون کې یې یادونه سوې ده؛ دا یوه عنعنوي لویه جرګه ده، چې یوازې د امریکانو د پوځي اډو په اړه نظر ورکیي.»

دا دئ د هغې «لویې جرګې» جوړښت، چې د اشغالګرانو د تپل سوي رژیم په اساسي قانون کې اټکل سوې ده؛ او د ګوډاګي حکومت له ادعا سره سم به په راتلونکو نیژدې وختو کې زموږ په ویاړلي او تاریخي هیواد کې د امریکایي عسکرو د دایمي استوګنې د ارزښتناکې ملي مسألې په اړه پرېکړه کیي.

اوس نو زموږ حقپال او دراک هیوادوال په خپله قضاوت کولای سي، چې په داسې شرایطو او حالاتو کې ایا د «ملي شورا»، «ولایتي شوراوو» او نورو په اصطلاح «انتخابي» اورګانو غړي کولای سي د حکومت په را بلل سوې «لویه جرګه» کې زموږ د خپلواکو، سرلوړو او باغروره خلګو استازیتوب وکړي؟ ایا د کرزي د مزدور او فاسد رژیم په نمایشي «لویه جرګه» کې د غوړه مالانو، تالي ځټو او هویت بایللو مزدورانو برخه اخیستنه د هغې پرېکړو ته په «مشروعیت» ورکولو کې، څه مرسته کولای سي؟!

کله چې د «لویې جرګې» جوړښت په دې ډول یې، بیا نو د دې پوښتنې ځای سته، چې زموږ خپلواک، سرلوړي او وطندوست خلګ به د هغې پرېکړو او مصوبو ته درناوی وکي که یا؟! مګر د تېرو لسو کالو جګړې، وینې، اوښکې، ورانۍ او نا امنۍ ګرده د دې روښانه واقعیت ښکارندوی نه دي، چې زموږ زړور او پیاوړي خلګ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



امريکايي يرغلګرو او د هغو د وطن پلورونکو مزدورانو ظالمانه او خاينانه پرېکړو ته د دوو توتو ارزښت نه ورکيي؟!

په تېرو لسو کالو کي د ډېرو غونډو لکه «اضطراري لويه جرګه»، «د اساسي قانون لويه جرګه»، «مشورتي جرګه» او په دې يا هغه نامه نورو جرګو د جوړولو شاهدان وو؛ خو هيڅ قلابي او دروغجني غونډې و نه کړای سوه، زموږ د جنګ ځپلي او ويجاړي ټولني د اساسي مسألو ياني د سراسري سولي او امنيت د تأمين، د قانون د برلاسي، د لوږي، وزګارتيا، بې عدالتۍ او هراړخيز فساد د ورکولو يا لږولو په ګټه څه کار وکړي. په افغانستان کي د امريکايي چوڼييو د «رسمي کولو» او «مشروع کولو» دا غونډه به د نورو تبليغاتي او نمايشي غونډو پر خلاف، نه يوازي زموږ د ملي مسألو په حلولو کي هيڅ راز مرسته ونکړي، بلکي نورو خطرناکو فتنو ته به هم لار هواره کړي، چي ژر يا وروسته به يې د پېښېدو شاهدان اوسو.

## قانوني لويه جرګه، که عنعنه يي لويه جرګه، که يوه هم نه؟

ځيني افغان ليکوال او شنونکي غوښتنه کيي، چي په افغانستان کي د امريکايي چوڼيو د تداوم په اړه دې د سلا او مشوري دپاره د اوسني مزدور رژيم په اساسي قانون کي د تسجيل سوي لويي جرګې پر ځای يوه عنعنه يي يا دوديزه جرګه را وغوښتل سي.

ښايي د دې ښاغلو په نظر دغه ډول دوديزه «لويه جرګه» د افغانستان د کړېدلو خلګو په حق کي معجزه وکي؛ او په دې وسيله زموږ جنګ ځپلئ هيواد د امريکايي عسکرو د همېشنۍ استوګني له شره وژغوري. کله چي يوه افغان خبريال د اولسواليو د شوراوو د رييسانو نسته والي ته په اشارې سره، د لويي جرګې د لازم نصاب د نه پوره کېدو په باره کي له حامد کرزي څخه پوښتنه وکړه، هغه په اندېښني او وارخطايي سره جواب ورکړ: «نه نه دا هغه لويه جرګه نه ده، چي په اساسي قانون کي ياده سوې ده؛ دا يوه عنعنوي لويه جرګه ده، چي يوازي د امريکايانو د پوځي اډو په باره کي خبري کيي.»

واقعيت دا دئ، چي په اساسي قانون کي تسجيل سوې لويه جرګه په حقيقت کي هماغه سُنتي يا دوديزه لويه جرګه ده، چي تر اوږدو پېړيو وروسته يې د يوې لوړي باوري سياسي - حقوقي مؤسسې په توګه، اساسي قانون ته لار موندلې ده. البته، د امريکايانو او جنګي ډلو ټپلو تپل سوئ اساسي قانون لومړنۍ اساسي قانون نه دئ، چي زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلګو دا زوږ دود او دستور یې په خپلو احکامو کې نغښتئ دئ، بلکې د هیواد ځینو پخوانیو اساسي قوانینو هم کلونه کلونه مخکې د دې معتبري سیاسي- حقوقي مؤسسې د څرنګوالي په اړه ځیني حُکمونه، بیان کړي وه. له دې کبله باید د دودیزې لویې جرګې او په اساسي قانون کې د تسجیل سوي لویې جرګې تر منځ، اصولاً څه فرق او توپیر نه یې.

باید سپینه او په ډانګ پېلیې و وایو، چې د پردو عسکرو او د هغو د مزدور حکومت ترکرغېړن سیوري لاندې د ملي شورا، ولایتي شوراوو او اولسوالۍ شوراوو په څېر انتخابي اورګانو یا و لویې جرګې او داسي نورو ملي- قامي جرګو ته د خلګو د ریښتینو او باوري استازو لار موندل، له لویه سره ناممکنه خبره ده. لکه څنګه چې مو په وارو وارو ویلي دي، د اشغال، زور واکۍ او نابرابرۍ په شرایطو کې د « انتخاباتو »، « ملي شورا »، « ولایتي شوراوو »، او « اولسوالۍ شوراوو » یا « لویو جرګو» او « قومي - مشورتي جرګو » په شان موضوعات ګرده هغه استعماري پروژې او پروګرامونه دي، چې د یرغلګرو پوځو د ببلابېلو جنایاتو د پټولو او د هغو ګوډاګي حکومت ته د « مشروعیت» ورکولو په مقصد وخت او ناوخت طرحه کیږي؛ خو هیڅکله زموږ د کړېدلو خلګو اساسي او حیاتي غوښتنو ته جواب نسي ویلای.

په هغه غونډه کې، چې د کرزي د مزدور او فاسد حکومت له خوا به د عنعنه یې یا دودیزې لویې جرګې په نامه را غوښتل کیږي، زموږ د خلګو ریښتیني استازي نه، بلکې د دې هیواد داسي بدنام جنایتکاران، لاس پر نامه ګوډاګیان او پېژندل سوي غوړه مالان غړیتوب ولري، چې په ورین تندي به د امریکایي استعمارګرانو او د هغو د خاینو نوکرانو استعماري اجندا ته هرکلی و وایي؛ او له څو نمایشي شرطو او تبصرو وروسته به د تأیید ټاپه به پر ولګیي.

ولې؟

په دې چې نه د کرزي مزدور حکومت د خلګو دریښتینو او رسالتمندو استازو ور بللو ته تیار دئ؛ او نه هم د خلګو واقعي استازي د کرزي د تپل سوي رژیم په « لویه جرګه » کې، برخې اخیستني ته چمتو دي.

البته، د سلګونو موافقو ړغو په منځ کې یو و دوه مخالف ړغونه باید هیڅکله د دې فرمایشي او نمایشي غونډې د برخه والو د ارادو د ازادۍ او استقلال په مانا ونه ګڼو. د افغانستان د خلګو دریښتینو استازو دریځ په دې برخه کې، تر لمر روښانه دئ: د پردو پوځیانو او ګوډاګي رژیم واکمني، په هیواد کې د وینو تویولو، ورانۍ، لوټمارۍ، قانون ماتولو، فساد خپرولو، لوږي او بدمرغۍ له اصلي عواملو څخه دي. دې ترخو او دردونکو واقعیتو ته په پام سره، د خلګو هیڅ ریښتنی او بامسوولیته استازی په دې ویجاړه او ویرجنه مېنه کې د پردو عسکرو د همېشني حضور شیطاني طرحې ته د تأیید او تصویب سر نسي ښورولای. د خلګو واقعي استازي څنګه د خپلو بې وسه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې کسه هيوادوالو قاتلانو او جلادانو ته په خپله سرلوړې خاوره کې د دايمي چوڼيو اجازه ورکولای سي؟ زموږ په هيواد کې پردو اشغالگرو ته د دايمي چوڼيو له طرحي سره يوازې هغه مزدوران سر ښورولای سي، چې په راز راز ناروا او ظالمانه معاملو کې توري گټې ولري. مگر دا ډول جنايتکاران، خاينان، غله، د مخدره موادو سوداگران او نوري دوږخي ډلې ټپلې د خپل شرمناک ژوند او تورو گټو د ساتني دپاره، په چا پوري څانونه وتړي؟!

ايا په داسي شرايطو او حالاتو کې، د کرزي د دولت د ملي شورا غړي، د ولايتي شوراوو رييسان او نور بې اعتباره کسان، په «لويه جرگه» کې د افغانستان د خپلواکو او سرلوړو خلگو استازيتوب کولای سي که څنگه؟! دا خبره هر چا ته روښانه ده، چې د کورنۍ او باندنۍ مافيا په پيسو، سياسي معاملو او لاسوهنو کښېنول سوي وکيلان او د مدني ټولني په نامه څو بې نفوذه او تش په نامه استازي هيڅکله د لويي جرگې پرېکړو ته «مشروعيت» نسي ورکولای سي.

کله چې د تش په نامه لويي جرگې پرېکړي او مصوبې په ميليونو افغانانو کې هيڅ راز منښت او مشروعيت و نه لري، بيا به نو په افغانستان او سيمه کې د سولي او ثبات په راوستلو، ترقۍ او پرمختگ کې د هغې د جوړېدو گټه په څه کې يې؟! موږ او تاسو وليده، چې د ببرک او نجيب په واکمنيو کې هم دغه راز تبليغاتي جرگې خورا ډېري جوړي سوې؛ ور بلل سوو کسانو ته به څو ورځي پرتميني مېلمستياوي جوړي؛ او په پای کې به ښه سوغاتونه هم ورکړل سوه؛ خود هيواد ونتلو او ويرژلو وگړو ته به يې د يوې اولسکيزي گټه نه رسېده؛ ځکه نه د جرگو برخه وال د خلگو رينښتيني او باوري استازي وه؛ او نه يې په جوړو سوو جرگو کې د خلگو پر اساسي غوښتنو او دردونو خبري کولای سوای. د کرزي د حکومت لويي جرگې هم د ببرک او نجيب تر غولوونکو جرگو، هيڅ ښه والی او سموالی نسي لرلای. ښايي په ډېرو برخو کې تر هغو هم ډېر زيات ملي ضد ماهيت ولري.

خبري ډېري سر يې يو دئ. د پردو د توپک او نيزې تر ظالمانه سيوري لاندي، هغه هم د يوه مزدور او ککړ حکومت له خوا، هيڅکله د يوې رينښتيني ملي او ولسي جرگې خبره نسي مطرح کېدای. د همدې استدلال له مخي به د کرزي د حکومت له خوا را غوښتل سوې نمايشي «لويه جرگه» په نهايت کې هغه څه کيي، چې امريکايي باداران يې غواړي. که څه هم په لويه جرگه کې به د ايران، پاکستان، روسيې او چين مزدوران، نه د افغانستان د خپلواکۍ، ملي واکمنۍ او ملي وياړونو د ژغورني په خاطر، بلکي د خپلو بهرنيو بادارانو د ستراتيژيکو گټو د تحقق په مقصد د امريکايي چوڼيو د تصويب په لار کې بېلابېلو خنډونو او خاشو ماتولو ته لمن و وهي، خو سره له هغه هم هيڅ گومان نه کيږي د هغه پلان مخه ونيسي، چې کلونه کلونه مخکي د زرگونو پوځي تلفاتو او ميلياردو ډالرو په بيه د همدې هدف دپاره په سي. آی. اې. او پينټاگان کې جوړ سوئ دئ؛ ځکه په تېرو مباحثو کې مو پر دې مسأله پوره خبري وکړې، چې اصلي هدفونه په واقعيت کې نور څه دي، بن لادن، القاعده، طالبان فقط پلمه او بهانه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پای کې باید دا خبره له یاده و نباسو، چې د کرزي د مزدور حکومت د را بلل سوي تش په نامه لویې جرګې له خوا د امریکایي چوڼیو تصویب او تأیید به نه یوازي زموږ د هیواد د سترو ملي او وطني مسأﻟو حل ته لار هواره نه کړي، بلکې په دې ورانه او پاشل سوې ټولنه کې به د جګړو، افغان وژنو، ورانیو او بدمرغیو اور ته لا زیات لمن و وهي. په راتلونکي برخه کې د خپلو ملي او وطني مسأﻟو د حل پر اساسي لارو او په هیواد کې د امریکایي چوڼیو په وړاندي د یوه معقول بدیل پر امکاناتو رڼا واچوو.

## له امریکایي چوڼیو او نورو استعماري فتنو څخه د ژغورني لار

زموږ په جنګ ځپلي او غملړلي کور (افغانستان) کې د تېرو لسو کالو ترخو تجربو، په ډاګه وښوول چې د سولې، امنیت، ازادۍ، ډیموکراسۍ، قانونیت، بشري حقوقو او پرمختګ په نامه راغلي پوځونه او د هغو لاس پر نامه مزدوران ټوله حتا په خپلو جبري اتوکي هم ډبل دي. دا سې ورځ نسته، چې د دې بدمرغه هیواد په ګوټ ګوټ کې د یرغلګرو فرعونانو له خوا د کوچنیانو، ښځو او سپین ږیرو په ګډون، لسګونه بې ګونا افغانان په وینو او خاورو ونه لړل سي. نن د هیلمند په نوزاد، پرون د نورستان په دوآب، آبله ورځ په کونړو او تر هغه مخکې په نورو کلو او بانډو کې (چې د ټولو یادونه یې ډېر ځای، وخت او حوصله غواړي) زموږ تنکییو ګلانو، زموږ خوندو، مندو، زموږ ورونه او پلرونه، د اختري د پسو په شان، په وینو کې لیتکي وو هلې؛ او لکه څنګه چې ګورو د یرغلګرو پوځو د هوایي بمبارییو او د وسله والو مخالفینو د ړندو انتحاري بریدو دا خونړۍ او زړه چاودونکې لړۍ ترننه په خورا درېبې او درزي روانه ده.

تېرو لسو کالو دا هم له ورایه ثابته کړه، چې د افغاني مسأﻟو یاني جګړې، زورواکۍ، وزګارتیا، چور او چپاو، فساد او نورو ناخوالو معقول او منطقي حل د پردو پوځو اود هغو د کښېښنولي حکومت تر وس ډېره لوړه خبره ده؛ څکه سوله او امنیت راوستل؛ د خلګو نسونه مړول؛ د زورواکو او خپلسرو حاکمانو د ډول ډول ناروا وو مخه نیول؛ په سیاسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي نظام کې د فساد او بې عدالتییو ختمول او خلګو ته د ارام او سوکاله ژوند په هیله د بېلابېلو اسانتیاوو برابرول، اصلاً د استعماري ځواکو او د هغو د مزدورو جنګي او مافیایي ډلو ټپلو کار نه دئ. هیڅوک په نړۍ کې دا سې هیواد نسي په ګوته کولای چې جنایتکارو، تباهکارو، چپاولګرو، زورواکو، قاچاقبرو، پلورل سوو عناصرو او په فساد ککړو واکمنانو دي خپلو ببوزلو او مظلومو خلګو ته د هوسا او سوکاله ژوند شرایط برابر کړي یي. علت دا دئ، چې جنګي او مافیایي ډلي ټپلي په جنګو، وژنو، اړودوړ، زورزیاتي، فساد او نورو انساني ضد سیاستو کې پربمانه ګټې لري؛ او د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پوري، په خپل ټول واک او ځواک سره هلي ځلي کیي، چې دا باد راوړي انساني ضد ګټې و تې له لاسه و نباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو ! دا خبره بالکل دقيقه او پر ځای ده، چې زموږ په نړېدلي او ټوک ټوک هيواد کې جنګونه، نا ارامۍ او بېلابېلې سياسي، قومي، مذهبي اولساني شخړې، جنايتکارو او خاينو ډلو ټپلو ته د لنګو غواوو حيثيت لري؛ او هيڅوک نه غواړي په هيڅ بيه دا لنګې غواوې له لاسه ورکيي. ايا هغوکسانو چې پرون خر نه لاره او نن په څو لک ډالري موټرانو کې دوري هوري چکرونه وهي ياد تورو پيسو په زور په يوه ورځ کې د ماڼيو، ښارګوټو، تجارتي مرکزو، بانکو او شرکتو څښتنان سوه، ټول په حقيقت کې د همدې جنګ، خيانت، چور، فساد او انساني ضد معاملو له برکته نه وه او نه دي؟! يو پلا د کرزيانو، رباني، سياف، دوستم، فهيم، خليلي، محقق، عبدالله، قانوني، نور، شېرزي او داسي نورو پرتمنيو ماڼيو، ډول ډول شتمنيو، ناروا معاملو، نوکرانو او چاکرانو ته وګورئ؛ او بيا په خپله قضاوت وکړئ، چې د افغانانو د وينو او اوښکو دابې رحمه سوداګران، په تېرو لسو کالو کې په څه کاروبار بوخت وه؛ او تر اوسه لا څه کيي ؟!

که همدا اوس په افغانستان کې جنګ، انسان وژنه او ډول ډول سياسي لوبې ودرېږي، بيا نو امريکا، غربي دولتونه، روسيه، ايران، پاکستان، هند، عربي هيوادونه او داسي نور مغرض دولتونه او سازمانونه هم لېوني نه دي، چې دې يا هغه جنګي ډلې، سياسي دلالانو، جاسوسانو او مافيايي سازمانو ته په چارښاخو ډالر ورکي.

له همدې سَوَبه، ويجاړ او ټوکر ټوکر افغانستان، ژور او اساسي حل غواړي - داسي حل، چې پر ټولو ربړېدلو افغانانو سربېره، زموږ ګاونډېيو هيوادو او نړۍ والي ټولني ته هم د منلو وړ يي. زموږ د هيواد د دو د پرش کلن ناورين معقول او منطقي حل، زما له نظره دوه لوی او اساسي اړخونه لري:
- اول دا چې د پردو مزدور، فاسد او بې کفايته حکومت بايد ژر تر ژره خپل ځای د ناپېيلو، خپلواکو، زړه سواندو او پوهو افغانانو يوه موقت ملي حکومت ته وسپاري. د دغه راز ملي حکومت د ښې پېژندني د پاره دې درانه لوستونکي د دې عاجز هغه پراخه او مفصله ليکنه وګوري، چې څه کم درې کاله مخکې د هيواد د ځينو ملي ويبپاڼو لکه «بېنوا»، «لر او بر» او ځينو نورو له لاري خپره سوه.

http://www.larawbar.com/detail.php?id=5710

- دوهم دا چې ټول ايتلافي پوځونه دې د يوه معقول او عملي زماني جدول په وړاندې کولو سره، د افغانانو سپېڅلې او خپلواکه خاوره پرېږدي؛ ځکه دا پردې پوځونه له تېرو لسو کالو راهيسې د أسامه بن لادن، القاعدې او طالب مشرانو د وژلو يا ورکولو په پلمه دې خاورې ته راغلي دي؛ خو موږ عملاً ګورو، چې په خپلسرو هوايي بمباريو، ورانوونکو مځکنيو عملياتو، بېرحمانه ځوروَنو او بېلابېلو ناوړوکړو سره د افغانستان له ګردو مظلومو خلګو، په تېره بيا سرلوړو او خپلواکو پښتنو سره په يوه ناروا، ظالمانه او بې مفهومه جګړه کې ښکېل دي؛ او هره ورځ زموږ بېوزلي او بې ګونا اولس ته د سر او مال ستر تاوانونه اړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زموږ د بې ګونا خلګو په وړاندې د امریکايي او ېتلافي قواوو دا ظالمانه او غیر عادلانه جګړه هیڅ انساني او حقوقي توجیه نلري؛ او د هغو د طراحانو د ډول ډول درواغجنو ادعاوو پر خلاف یې د تروریستي عملو ، سیمه ییزو کړکېچو ، قومي - مذهبي نفرتو او په افغانستان، سیمه او ټوله نړۍ کې د افراطي تمایلاتو له زیاتوالي او سختوالي سره مرسته کړې ده. زموږ وېښ او هوښیار لوستونکي ښه پوهېږي، چې پخوا زموږ په جنګ ځپلي او ناکراره هیواد کې هیڅکله د انتحاري بریدو دود او دستور چا نه پېژندئ ؛ خو اوس دا دئ په خواشینۍ سره ګورو ، چې زموږ د ټولنیز ژوندانه یو تریخ او زړه لړزوونکی واقعیت دئ. دغه راز، د عبادتځایونو او زیارتو نړول او د قومي، فکري، مذهبي او لساني توپیرو پر بنسټ د بې ګونا خلګو وحشیانه وژنه ګرده هغه پېښې دي، چې افغانستان ته د امریکايي او ایتلافي لښکرو په راتګ سره را وټوکېدې. له همدې امله باید زموږ له کړېدلو او جنګ ځپلو خلګو سره دا وحشیانه جګړه ژر تر ژره او تل تر تله ودرېږي.

د سي. آی. اې. مشر - لیون پنیتا ، چې ټاکل سوې ده ډېر ژر به د اوباما په کابینه کی د دفاع وزیر چوکۍ تر لاسه کړي، څه موده مخکې په خپله اعتراف وکړ، چې په افغانستان کې د القاعده شبکې د غړو شمېر تر سلو (۱۰۰) لږ دئ . د سي. آی. اې. د نوو رپوټو له مخې خو اوس دا شمېر حتا د پینځوسو او پینځه اویا (۵۰ - ۷۵) کسانو تر منځ اټکل کیږي، چې امریکايي واکداران یې د وژلو یا نیولو دپاره د میاشتې شاوخوا لس (۱۰) میلیارد ډالره لګیي . نور تفصیل د جیوپولیټیکل مانیټر، په دې لینک کې وګورئ:

http://www.geopoliticalmonitor.com/opinion-us-wont-leave-afghanistan-4414/

بې له شکه، د اُسامه بن لادن وژنه په خپله هم د دغه سازمان پر سیاسي، سازماني او تبلیغاتي ظرفیت بل کلک ګوزار ؤ. پاته سوه طالبان، اسلامي حزب، حقاني ډله او نوري وسله والي ډلي، چې د هغو وژل او ورکول نه عملي کار دئ، نه معقول. عملي په دې نه دئ، چې دا خلګ ټول د دې وطن اصلي اوسېدونکي دي؛ په خلګو کې ژوري ریښې لري؛ او له تېرو لسو کالو راهیسي یې د امریکايي او ایتلافي قواوو له بمبارییو او بریدو سره سره، خپل موجودیت او هویت خوندي ساتلئ دئ. معقول په دې نه دئ، چې دې خلګو د سپټمبر د یوولسمي په ګډون، په نړۍ وال تروریزم کې هیڅکله لاس نه لاره؛ او هیڅ وخت یې دا نه دي غوښتي، چې د نړۍ وال تروریزم تر شا ودرېږي . بن لادن، القاعده او داسی نوري ډلي هم په واقعیت کې د امریکا ، عربو او پاکستاني آی. ایس. آی. له خوا په غاړه کې ور واچول سوې. امریکایان نسي کولای په افغانستان کې د افراطي ډلو ټپلو د ځای پر ځای کېدو مسوولیت د افغانانو پر اوږو ور واچیي.

که د افغاني ټولني واقعیتونه داسي دي، بیا نو دا بې سر و پایه پوځونه، دا ټانکونه او جهازونه او د زرګونو انسانانو د ژوند او میلیاردو ډالرو د خاوري کولو په بیه، دا بې رحمانه وژني او ورانۍ د څه دپاره؟! دا واقعیت هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر چا ته تر لمر روښانه دئ، چې د ايتلافي قواوو ظالمانه بمبارييو او ړندو عملياتو نه يوازې د تروريزم، افراطيت او تاوتريخوالي په ورکولو کې هيڅ راز مرسته ونکړه، بلکې لا نور پېلوزي يې هم پر واچاوه؛ او د دې سرکښۍ اور لمبې يې اوس داسې گڅې ته ورسولې، چې پر غمځپلو افغانانو سربېره يې د سيمې او نړۍ خلکو ته هم لوی گواښ اړولئ دئ.

که ايتلافي فرعونانو او د پخواني شمالي اتحاد ځينو پښتون دوښمنه مزدورانو د القاعدې او طالبانو په نامه، د خپلواکو، سرلوړو او غيرتي پښتنو ونابودۍ ته ملاوې تړلې يې، دا نو کاملاً بېله خبره ده؛ خو لکه څنگه چې نورو يرغلگرو دا کرغېړن خوبونه ريشتيا نکړای سوای، دوی به هم دا وحشيانه هيلې، گور ته له ځانه سره يوسي.

په دې وجه، بېله خبرو اترو او روغې جوړې بله هيڅ لار نه ليدل کيږي؛ خو خبرې اترې، مفاهمه او مصالحه له چا سره؛ د کومو اصولو له مخې؛ او کومو هدفو ته د رسېدو د پاره؟

که امريکايان او په کابل کې د هغو منفور مزدوران تصورکيږي، چې د بهرني اشغال او گوډاگي رژيم وسله وال او نا وسله وال مخالفين به، له هغه کميسيون يا شورا سره خبرو اترو او روغې جوړې ته غاړه کښېږدي، چې برهان الدين رباني يې مشري کيږي، ډېر تېروتلي او خطاوتلي دي؛ ځکه د روغې جوړې د پاره نېکو او خيرغوښتونکو منځگړو ته اړتيا سته.

منځگړيتوب يا وساطت هم له حقوقي پلوه او هم زموږ د اولسي دودو او روايتو له مخې، يوازې د هغو کسانو کار دئ، چې پر نېک او مصلحانه شهرت سربېره، د ښکېلو اړخو تر منځ شخړه يا دعوه کې، هيڅ ډول لاس يا گټې ونه لري؛ خو موږ ټول د سر په سترگو گورو، چې د رباني د تش په نامه شورا په جوړښت کې له څو بې واکو او کلېشه يي کسانو پرته، د افغانستان د زرگونو بې گونا وگړو قاتلان، د کابل ښار د کنډواله کولو مسوولين او په پای کې د اوسني امريکايي اشغال تر ټولو بې ايمانه، بې رحمه او فاسد مزدوران، غړيتوب لري، چې رباني په خپله هم د دې جنايتکارانو، ورانکارو، غلو او وطن پلورونکو له ډلې څخه دئ.

اوس نو تاسې حقپال لوستونکې په خپله قضاوت کولای سئ، چې ايا د داسې جانيانو، ورانکارو، لوټمارو او شرف بايللو په سته والي کې کېدای سي په هيواد کې د جگړې او وينو تويېدو و بندولو ته هيله من اوسو؟!
جواب روښانه دئ. د سولې او روغې جوړې خبرې له هغو کسانو سره نسي کېدای، چې د افغانانو کور يې وران کړئ دئ؛ او زموږ د بې گونا عزيزانو په وينو يې مځکې سرې کړې دي. د افغانستان کړېدلي او ويرژلي خلگ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅکله د دې جانیانو او وطن پلورونکو ظلمونه او ناروا وي نسي بخښلای. امریکایان او نورو ایتلافي دولتونه باید په خپل ټول وجود سره، په دې تر خه حقیقت وپوهېږي.

د حل لار څه ده ؟

د حل یوازنۍ لار د یوه ریښتیني موقت ملي او ولسي حکومت جوړول دي.

ایا د یوه ریښتیني ملي او ولسي حکومت لرل؛ او دا په وینو لړلې خاوره له هر ډول پردو عسکرو او پردو جنګیالیو څخه پاکول، ناسمه یا ناوړه غوښتنه ده؟

ګومان نه کوم له جنګي ډلوټپلو، ځینو جاسوسانو او فاسدو واکمنانو پرته، څوک د افغانانو له دې انساني، اسلامي او افغاني غوښتني سره تضاد او مخالفت ولري. راسئ په لاندي کرښو کي د دې ستر انساني، اسلامي او افغاني ارمان پر ځینو عملي اړخو یو څو لنډې خبري وکو:

له نېکه مرغه، افغانستان له بېلابېلو قومو او ټېرو څخه په هیوادکي دننه او دباندي ډېر خپلواک، زړور، غښتلي، پوه او مُخلص ملي شخصیتونه لري. دا سي ناپېیلي ملي شخصیتونه، چي ټول افغانان یې په یوه دږغ پر ایمانداری، خپلواک فکر او عمل، سربښندني، هوښیارۍ او اخلاص آمنا کولای سي.

دا سي خپلواک، ناپېیلي او په هره مانا باکفایته موقت ملي او اولسي حکومت کولای سي، دوه ستر کارونه پر مخ بوزي:

- یو دا چي له وسله والو ګوندو، ډلو او شخصیتو سره د مخامخ، ښکاره او ریښتینو خبرو اترو له لاري د جنګ او ورانۍ مخه ونیسي.

- بل دا چي د ملي او اولسي کړنلارو په وړاندي کولو سره، د هغو میلیونو جنګ ځپلو او ربړېدلو هیوادوالو بالفعل ملاتړ تر لاسه کړي، چي د پردو یرغلګرو له ظالمانه اشغال او د مزدورو واکمنانو له فساد، بې عدالتیو او بې کفایتیو څخه پزي ته رسېدلي دي.

د موقت ملي حکومت دا دوې ارزښتناکي بریاوي به بېله شکه د همېشنۍ سولي او ملي روغي جوړي له بریالیتوب سره لویه مرسته وکي؛ د سولي او ترقۍ جبهه به ورځ په ورځ غښتلي او د جنګ او وینو تویولو جبهه به ورځ تر بلي، تجرید او کمزوري کړي.

د موقت ملي حکومت او وسله والو مخالفینو تر منځ ازادي خبري اتري او روغه جوړه به ډېر ژر دا امکانات برابر کړي، چي ټول نابللي پردي (ایتلافي پوځونه او د مخالفینو تر څنګ ولاړ جهادیان) زموږ ورانه او غملړلې خاوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل ترتله پرېږدي. دې لوی بریالیتوب ته باید هیڅکله په سپکه سترګه و نه کتل سي؛ ځکه تر هغه مهاله، چي افغانستان په بشپړه توګه افغانانو ته نه يي پرېښوول سوئ، په دې وران او غملړلي ټاټوبي کي د سولې، امنیت او سوکالۍ تمه هم بې ځایه ده. يوازي پر ټولو افغانانو متکي ملي او اولسي حکومت کولای سي، زموږ ګډ تاریخي کور د پردو له شره وژغوري.

موقت ملي حکومت به تر یوې ټاکلي مودې (د دې مودې اوږدوالی هم د ښکېلو اړخو په روغه جوړه اړه لري) وروسته، په هیواد کي عمومي انتخاباتو ته لار هواره کړي؛ او په دې توګه به د یوه ریښتني منتخب حکومت تر جوړېدو پوري، خپل ستر ملي او وطني رسالت بشپړ کړي.

زما په قاصر نظر خو د ځانګړو سیاسي، اجتماعي، فرهنګي، مذهبي او اقتصادي خصوصیاتو د لرلو له امله د افغانستان د سمي ادارې او پرمختګ تر ټولو ښه نُسخه هم همدا ملي حکومت دئ، چي کولای سي د دې ګډ تاریخي کور د ټولو ټبرو، ژبو، مذهبو، سیمو او خلګو پر حقوقو سربېره، دګاونډیيو هیوادو او نړۍ والي ټولني روا ګټيي هم خوندي وساتي. ما ته خو په افغانستان غوندي ټولنه کي د دولتي نظام د ادارې دپاره تر دې بریالۍ، غوره او اغېزمنه لار نه ښکاري؛ ځکه په تېرو دو دېرشو کالوکي مو په سترګو ولیده، چي کيڼ او ښي (چپ او راست) افراطیت مظلومو افغانانو ته بې تباهۍ او بدمرغۍ هیڅ ورنکړه؛ او نه يې ورکولای سوای؛ ځکه افراطیت په هره بڼه او هر شکل وارداتي ختېه لري؛ او زموږ د ټولني له عیني او ذهني واقعیتو سره هیڅ اړخ نه لګیي. همدا دلیل دئ، چي زموږ د ټولني له سیاسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي واقعیتو څخه پردي سیستمونه د خلګو له پراخ مخالفت او مقاومت سره مخامخ سوه؛ او لا به په راتلونکي کي هم مخامخ کیږي.

د دې عاجز په اند «خیر الامور اوسطها» د ښي او کيڼ څواکو له ورانوونکو افراطي سیاستو څخه د افغانستان د ژغورني تر ټولو غوره لار ده؛ خو د دې منځنۍ فکري او سیاسي لارې اخیستل هیڅکله د پرشا تګ، محافظه کارۍ او تسلیمۍ په مانا نه دئ. د خپلواکۍ، ټولنیز عدالت، بشري حقوقو او ډیموکراټیکو ارزښتو په لار کي فردي او ډله ییز کوښښونه به په کلک هوډ او لا زیات ټینګار سره پر مخ ځي؛ اما په دې اړه د پام وړ مهم او اساسي ټکی دا دئ، چي داپټمن او انساني تلاښونه باید تل زموږ د خلګو عیني او ذهني ملاتړ له ځانه سره ولري. په دې مانا، چي زموږ د ربدلي او ربړېدلي هیوادوال باید د شمالي افریقا او منځني ختیځ د ځینو هیوادو د ویښو او غښتلو اولسو په څېر په افغاني ټولنه کي هم د دغسي سیاسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي بدلونو د را منځ ته کولو دپاره په شعوري او نه ستړي کېدونکي ډول د مبارزې ډګر ته را ووزي؛ او په خپل مستقیم او فعال ګډون سره د وخت مستبد، تپل سوي او وارداتي نظامونه پر بل مخ واړوي. البته په دې کار باید احساسات، عقدې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصي ګټې هيڅکله لار ونه لري ... تر دې عمومي خبرو وروسته، بيرته را ګرځو په وران او ويرجن افغانستان کي د ملي حکومت و تاريخي رسالت او مسووليت ته:

د ګردو افغانانو د خوښې وړ ملي حکومت به د سولې، تفاهم، وروروليې، دوستۍ او نړۍ والو معيارو په چوکاټ کې له ګاونډيو هيوادو، د سيمې له دولتو، متحدو ايالاتو، لويديځو هيوادو او نورې نړۍ سره دوستانه اړيکي وساتي؛ د هغو له علمي، تخنيکي، اقتصادي او انساني مرستو به پراخه ګټه واخلي؛ او په خپله به هم د نړۍ والي ټولني د يوه فعال او ګټور غړي په توګه، خپلو ملي او بين المللي مسووليتو ته ټينګ پام وکړي. البته، نړۍ واله ټولنه په تېره بيا امريکا، د سيمې لوی دولتونه او همسايه هيوادونه هم بايد افغانانو ته د خپل سياسي، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي سيستم د غوراوي پوره حق ورکړي.

شک نسته، چې په نړۍ کې د مختلفو سياسي، اجتماعي، اقتصادي او کلتوري سيستمو سته والی د نړۍ والي سولې او امنيت د ټينګښت او بشري پرمختګ له خورا مهمو اړتياوو څخه ګڼل کيږي. د بېلابېلو سياسي، اجتماعي او اقتصادي سيستمو لرونکو دولتو تر منځ د سوله ييز ژوندانه زرين اصل نه يوازې د معاصرو بين المللي حقوقو درې مهم اصول لکه: د زور يا زور د ګواښ مخنيوی؛ د دولتو د ملي واکمنۍ درناوی؛ او د دولتو په کورنيو چارو کې نه لاسوهنه، په ښه ښه بيانوي، بلکې د بېلابېلو دولتو تر منځ د دوستۍ او همکارۍ نوري برخي او اړخونه هم را نغاړي. د سوله ييز ګډ ژوند نړۍ وال اصل پر هغو سياستو د بطلان کرښه باسي، چې په مختلفو ټولنيزو سيستمو پوري تړلي دولتونه، د دوښمنۍ او تقابل لوري ته بيايي. بالعکس دا اصل له بېلابېلو دولتو څخه د ژوندانه په ټولو برخو کې د زياتېدونکو همکاريو غوښتنه کيي (ټونکين ۸۰).

البته، د سوله ييز ګډ ژوندانه ارزښتناک حقوقي اصل ته د پخواني شوروي دولت يا نورو سوسياليستي دولتو په رنګېدو سره، هيڅ زيان نه دئ رسېدلئ. دا اصل د بشري ټولنی د ګډ ژوندانه په ټولو پړاووکي د نړۍ والي سولي، امنيت، پرمختګ او همکارۍ ډاډمن او اغېزمن ضامن ګڼل کيږي؛ ځکه د نړۍ بېلابېل هيوادونه د سياسي، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي پرمختګ له پلوه، لوی توپيرونه لري. له دې کبله په نړۍ کې د بېلابېلو سياسي، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي سيستمو د اجباري رنګولو او پيکه کولو په خاطر هلې ځلې، بېله شکه نړۍ واله سوله، امنيت، بشري پرمختګونه او همکارۍ له سترو کړاوو او لانجو سره مخامخ کيي. له همدې سَوَبه بايد د هر هيواد مېشتو اولسو ته په پوره ازادۍ حق ورکړل سي، چې له خپلو ملي ځانګړتياوو او اړتياوو سره سم، د خپلو زړو نظامو او زړو سياسي، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي مؤسسو د اليشولو په اړه پرېکړه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چي پخوانی شوروي دولت پر نورو ملتو له هغې ډلي څخه زموږ پر هیواد د خپل سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي سیستم په تپلو سره، له خطرناکو عواقبو سره مخامخ سو، د امریکا متحده ایالات او غربي متحدين، زموږ ګاونډي هیوادونه، په تېره بیا پاکستان، ایران او د چین، روسیې او سعودي عربستان په څېر لوی سیمه ییزو دولتونه باید افغانستان ته د خپلي خوښي نظامو له صادرولو، په ټینګه ډډه وکړي. د افغانستان په چارو کي ټول ښکېل دولتونه یوازي د دې هیواد د یوه پیاوړي او غښتلي ملي حکومت په ملاتړلو سره کولای سي د خپلو روا ګټو د تحقق د پاره هڅه او کوښښ وکي.

په افغانستان کي یو منلئ ملي او ولسي حکومت کولای سي د هیواد د مځکنۍ بشپړتیا، سیاسي خپلواکۍ او ملي واکمنۍ د ډاډمني دفاع د پاره د ملي ګټو او بین المللي موازینو په چوکاټ کي، د اړتیا پر مهال، د امریکا د متحدو ایالاتو په ګډون له هر بهرني هیواد سره د دفاعي او ستراتېژیکي همکارۍ بېلابېل تړونونه لاسلیک کړي. د عیني اړتیاوو پر بنسټ لاسلیک سوي دا ډول ستراتیژیکو تړونونه به هیڅکله په هیواد او سیمه کي جګړو، نا ارامیو او کړکېچونو ته لمن و نه وهي؛ خو دا کار په بشپړ باور سره د اوسني مزدور حکومت تر صلاحیت ډېر پورته دئ، چي د پردو د توپ او ټانک په زور، پر خلګو حکومت کیي. د داسي بې واکه او مزدور حکومت له خوا د ستراتیژیکو تړونو لاسلیک، په هیواد کي د ننه او د باندي د جګړو، وینو تویولو او بحرانو لمن نوره هم پسي پراخیي.

درنو لوستونکوته څرګنده ده، چي ګاونډي هیوادونه، د سیمي دولتونه او نړۍ وال قدرتونه د بېلابېلو طرحو او نخشو په پرمخ بیولو سره، زموږ په ګران هیواد کي متضادي ګټي لري. مزدور رژیمونه په سیاسي، اجتماعي، فرهنګي، مذهبي، اقتصادي او ستراتیژیکو چارو کي د خپلواک فکر او عمل نه لرلو په وجه دا متضادي او متناقضي ګټي نسي پوخلا کولای؛ ځکه نو په دولتي دستګاه کي ټولي شاملي مزدوري ډلي ټپلي تر وسه وسه کوښښ کیي د خپلو بهرنیيو بادارانو ګټي خوندي کړي، چي دا کار هرومرو زموږ په کورنیيو چارو کي د نورو لاسوهنکو لوبغاړو د سختو غبرګونو سبب ګرزي؛ د مثال په توګه له هند سره دوستي د پاکستاني پوځیانو دوښمني را پاریي یا په هیواد کي د چین، روسیې او ایران اقتصادي تشبثات د امریکا د متحدو ایالاتو او د هغه د لوېدیځو متحدينو و پټو او ښکاره مخالفتو ته لمن وهي یا د سعودي عربستان او نورو عربي هیوادو سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او مذهبي هڅي سمدلاسه د ایران د شیعه اخوندانو پر سر اور بلیي؛ او داسي نوري چپه او راسته لوبي، چي د یوه په رضایت کي د بل د دوښمنۍ او خپګان موجبات برابرېږي.



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د همدې استدلال له مخې، یوازې یو پیاوړی ملي او اولسي حکومت کولای سي د یوه فعال او مثبت ناپېیلي ملي دریځ په غوره کولو سره کولای سي د ګاونډیانو، سیمه ییزو لوبغاړو او د نړۍ والي ټولنې د ټولو غړو د مشروع ګټو ساتنه وکي؛ او د نامشروع ګټو او ناروا لاسوهنو یې په کلکه مخه ونیسي.

یو ځل بیا باید تکرار کړو، چې په افغانستان کې بهرنۍ لاسوهنې، جګړې او نا ارامۍ ټول له بهرنییو لښکرو او ګوډاګي رژیم سره نه شلېدونکې اړېکې لري. که امریکایان او ایتلافي دولتونه ریشتیا هم له ترووریزم او افراطیت سره د مبارزې په خاطر افغانستان ته تللي دي، باید د افغاني شخړو او لانجو د اساسي حل دپاره د هغو په اصلي علت او سَوَب پسې وګرځي. کله چې د بهرنییو لاسوهنو، جګړو، وینو تویولو او ورانکارییو اصلي علت له منځه ولاړ سي، بیا نو د هغو معلولونه یانې ترووریزم، نا ارامۍ، زور زیاتۍ، افراطیت، لوږه، بېکارۍ، وروسته پاته والی او نوري ناخوالې په خپله له منځه ځي.

که امریکا په افغانستان او شاوخوا سیمه کې د خپلو سیاسي، اقتصادي او ستراتیژیکو ګټو د تحقق دپاره نه، بلکې په ریشتیا سره د سوله ییز، سوکاله او متمدن افغانستان د جوړولو دپاره تللې یې، بیا نو تر هر څه وړاندې باید د اوسني مزدور رژیم له سیاسي، عسکري او مالي ملاتړ څخه، چې په هیواد کې د سولې او امنیت تر ټولو لوی او اساسي خنډ دئ، ژر تر ژره لاس واخلي؛ او د یوې بین الافغاني جرګې له لارې د هیواد د مشرتابه چارې د افغانانو یوه ریښتیني موقت ملي حکومت ته وسپاري؛ او د هغه له لارښوونو سره سم د وتلو پر ستراتیژۍ غوَر وکي.

که امریکایان د جنایتکارو، ورانکارو، جاسوسانو او غلو د اوسني بې کفایته حکومت ملاتړ ته دوام ورکیي، د دې خبرې مانا دا ده، چې په لوی لاس غواړي یو ځل بیا د مظلومو او بې اوازه افغانانو د چارو واګې د پخوانییو دورو په څېر وسله والو ډلو ټپلو ته په لاس ورکړي؛ او په دې توګه نورو جګړو، وینو تویولو او افراطي جریانو ته لار هواره کړي؛ ځکه ټولو افغانانو ته مالومه ده، چې د کرزي فاسد او بې کفایته حکومت هیڅکله په یوازې سر د وسله والو مخالفینو په وړاندې د مقابلې او مقاومت وس نه لري.

که د مزدور رژیم ځیني عناصر د خدای، وجدان او افغانیت په نامه څه پېژني، نو باید له دې شرمناک، خونړي او خاینانه واک څخه لاس واخلي؛ او یوه موقت ملي حکومت ته د واک په سپارلو کې مرسته وکړي، چې په دې توګه هیواد د تنظیمي جګړو او ډول ډول استعماري فتنو له شامته وژغورل سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خبره هیڅ بحث او مشاجرې ته اړتیا نه لري، چې په افغانستان کې د امریکایي عسکرو دایمي حضور زموږ د هیواد د سیاسي خپلواکۍ او ملي واکمنۍ د محدودولو او زیانمن کولو په لار کې، ډېر خطرناک گام دئ. له دې امله یې هیڅ خپلواک، سرلوړی او باغروره افغان ومنلو ته غاړه نه ایږدي. امریکایي ستراتیژیستان باید د تاریخ په اوږدو کې د افغانانو له خپلواکۍ غوښتونکو مبارزو او حماسو څخه د عبرت درس واخلي؛ او پرېنږدي ي د زرگونو پوځیانو په قرباني کولو او میلیارډو ډالرو په ضایع کولو سره، کټ مټ هغه نتیجه تر لاسه کړي، چې تر دوی مخکې نوري یرغلگري امپراتورۍ ور سره مخامخ سوي وې. تاریخونه شاهدي ورکیي، چې د دې خپلواک او سرلوړي هیواد په غرو او رغوکې د ډېرو فاتحانو پزې په خاورو لړل سوي دي؛ ځینو یې پښې او لاسونه، ځینو یې سرونه او ځینو یې ان درست لښکرونه بایللي دي. امریکایان باید په دې حقیتقت هم سر خلاص کړي، چې د نړۍ مؤرخانو او محققانو په ناحقه افغانستان ته د امپراتوریيو د هدیرې لقب نه دئ ورکړئ!

که امریکا د تعقل او منطق پر ځای د زور او گواښ لار ټینګه کړي، بیا نو په دې حقیقت هم باید ښه سر خلاص کړي، چې افغانانو ته په خپل پلرني هیواد کې د پردو دایمي لښکرکوټونه، د دایمي اشغال په مانا دي؛ او د دایمي اشغال په عواقبو یاني دایمي جګړو او دایمي تراژیدییو هم هر څوک ډېر ښه پوهېږي؛ ځکه نو ټوله په یوه وجود او یوه اواز له هغو سره د مبارزې او مقابلې په مورچل کې درېږي. له بله پلوه، زموږ په هیواد کې د امریکایي عسکرو دایمي استوګه، چې په هیڅ بڼه او هیڅ ډول د افغانستان د مسألې د منطقي او اصولي حل لار نه ده، ټولي نړۍ ته په ډاګه ښیي، چې امریکایي واکمنان په افغانستان او سیمه کې د هغو استعماری نخشو د عملي کولو په لټه کې دي، چې پر جنګ ځپلو افغانانو سربېره د سیمې د نورو ملتو له روا او انساني ګټو سره هم څرګند تضاد لري. دغه راز نامعقولي او مستکبرانه ماجراغوښتوني، زموږ کړېدلي ملت او د سیمې نورو ملتو ته له تراژیدیو او بدمرغییو پرته، هیڅ ګټه او نتیجه نسي لرلای.

د امریکا سیاسي او پوځي ستراتیژیستان باید خپل تېر لس کلن ریکارډ یو پلا بیا له سره وګوري. دا خونړۍ ریکارډ له ورایه ښیي، چې له پردو لښکرو څخه د افغانانو کرکه او نفرت د هري ورځي په تېرېدو سره ډېر سوئ او لا ډېرېږي. د امریکایي عسکرو دایمي استوګه به ښېله شکه دا کرکه او انزجار د عمومي پاڅون ګچي ته لوړ کړي.

که یو نیم لک منظم پوځ او لسګونو زرو په اصطلاح استخباراتي، امنیتي او اکملاتي قواوو په تېرو لسو کالو کې د خلګو خپلواکۍ غوښتونکي ارادې ماتي نکړای سوې، تر دې وروسته هم هیڅ دلیل او ثبوت نسته، چې په عسکري چوڼییو کې ځای پر ځای سوي د برش - څلوېښت زره عسکر به د خپلواکۍ مینو او سرسپارو افغانانو د پر شانه تلونکي ملي پاڅون مخه ونیسي؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پای کې د دې مهمې خبرې یادونه ضروري ګڼو ، چې د جنګ او تباهۍ لېونۍ لمبې به هرومرو زموږ د اسکېرلو هیوادوالو ویرجنه او ویجاړه کوډغاله نوره هم ورانه او لوټپه کړي ؛ خو له هغو سره جوخت به امریکایي لښکرکوټونه او د هغو مزدور رژیم هم هیڅکله پر ارامه پرې نږدي ؛ دا اورونه او لوګي، دا ویني او اوښکي، دا ساندي او کړیږي به هرومرو د فرعونانو تر جګو ماڼیو اوارګو هم رسیږي.

## انګرېزي « بېس» ته په پښتو او دري کي څه و وایو؟

### اډه، پوځي اډه، لشکرګاه/ لښکرګاه، لښکرکوټ، پایګاه، چونی/ چوڼۍ؟

### د لغتپوهني او ایتیمولوژۍ په رڼا کي څو لنډي خبري

څو ورځي مخکي د هیواد خوږ ژبي، مبتکر او متفکر لیکوال - ښاغلي ډیپلوم انجنیر خلیل الله معروفي، په « افغانستان آزاد - آزاد افغانستان» ویبپاڼه کي، د امریکایي چوڼییو په اړه، د یوې په زړه پوري مقالې په ترڅ کي، د معقولو دلایلو په وړاندي کولو سره، د هیواد د لیکوالو او ژورنالیستانو پام د ایراني« پایګاه» پر ځای د خپلي ژبي د یوې خوږې تاریخي کلیمې ( لشکرګاه ) کارولو او رواجولو ته اړولئ ؤ، چي ماته یې هم په ریشتیا سره ډېرخوند را کړ. د « لشکرګاه» او « پایګاه» د کلیمو پر څېړنه او شننه سربېره د امریکایي چوڼییو په ردولو او کړلو کي، د ښاغلي معروفي علمي مقاله، دلته کتلای سئ:

http://afgazad.com/Siasi/042511-KM-Ejaaza-ye-Lashkargaah-e-Begaana-Botlaan-e-Afghaniyat%5B2%5D.pdf

غوارم په دې لنډ بیان کي، درنو لوستونکو ته د ایتیمولوژۍ او لیکسیکالوژۍ په رڼا کي، د ښاغلي معروفي پر علمي استدلال، څو نور ټکي هم ور زیات کړم.

« اډه» یا « اډا» د ایتیمولوژۍ یا ریښه پېژندني له نظره د هندي ژبي ټکی دئ، چي له اوږدو زمانو څخه په زیاترو هندي الاصله ژبو او پښتو کي، په پراخه توګه استعمالیږي ( پلاټس ۳۷ ) . په پښتو کي د موټروانـــو اډه، د ټـــکیسیانو اډه، د ګاډییو اډه او داسي نور عبارتونه له پخوا څخه باب دي، چي په عمومي ډول د تم ځای/ تمځی، درېد ځـــای/ دریدځی، ایستګاه، توقفګاه او داسي نورو په مانا دي. دا ټکی پخوا په افغاني پښتو کي د عسکري قشلې، عسکري قطعې، عسکري قرارګـــاه ،ګارنـــېزیون او داسي نورو په مانا نه کارېدئ؛ خو په کښته پښتنو کي د اوردو ژبي د پراخي اغېـــزې له کبله « فوجي اډه» ، « هوایي اډه» ، « د پولیسو اډه» او داسي نور عبارتونه، له پخوا څخه استعمالیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



« پوځ » کلیمه د عربي « فوج » مفغنه یا پښتو سوې بڼه ده، چي نن سبا په افغاني پښتو کي خورا ډېره کارېږي؛ او د پخوانیو مروجو کلیمو لکه لښکر، اوردو یا عسکري قوې ځای یې نیولئ دئ؛ خو لښکر، سپاه، عسکر، اوردو هغه کلیمې دي، چي له پېړییو پېړییو راهیسي زموږ په ژبه او ادب کي پراخ مقبولیت او تابعیت لري؛ او له همدې کبله یې باید ځای په بشپړه توگه د « پوځ » مفغني کلیمې ته ورنکړل سي؛ ځکه دا کار هیڅ منطق نه لري، چي خپلې زړې او اشنا عربي، پارسي، هندي، تورکي او داسي نوري کلیمې د پردیتوب په گونا تر خاورو لاندي کو؛ او پر ځای یې نوري بې خونده او زموخته پردۍ، خو نا اشنا کلیمې ودروو؛ د مثال په ډول « سبب » داسي عربي ټکی دئ، چي د پښتو تر څنگ په عربي، پارسي، اوردو او زموږ د فرهنگي حوزې په نورو ژبو کي هم پراخ استعمال لري. دا اسانه، ساده او مروج ټکي د کندهار په پښتني چاپېر کي افغاني رنگ اخیستی دئ؛ او له پېړییو پېړییو راهیسي د « سَوَب » په بڼه په عامو او خاصو کي دود دئ؛ په ډېري خواشینۍ سره، نن سبا د ژبې د سوچه کولو متعصب او بې خبره محتسبین د عربي توب په گونا د دې اشنا او اسانه مفغني کلیمې له کارولو مخ اړیي؛ او پر ځای یې د پښتو او عربي ژبې د یوه لغوړن ترکیب ( لامل ) و بېدرېغه استعمال ته ملا تړلې ده، چي په حقیقت کي له دوو برخو یاني « له » او « عمل » څخه ترکیب سوی دئ. ځیني کسان یې د جمعي په بڼه ( لاملان ) هم کاریي، چي تر مفرد حالت لا ډېر بې خونده او خندنی ایسي.

پر « سَوَب » سربېره ډېري نوري کلیمې هم سته، چي په پښتون مېشتو سیمو کي یې د پېړییو پېړییو په تېرېدو سره پښتني جولهَ اخیستې ده؛ او نن د دې لرغوني ژبې د لغوي زېرمي نه بېلېدونکې برخه گڼله کیږي، چي په هیڅ بیه او هیڅ ډول یې باید له لاسه و نه باسو؛ خو له بده مرغه زموږ د ژبې بې خبره او تنگ نظره واکداران یې د پردیتوب په گونا تر خاورو لاندي کیي؛ او پر ځای یې د خپلي خوښې بې خونده او نا اشنا ټکي را باسي.

ځینو مغغن سوو ټکو خو حتا په پښتني سیمو کي تر پېړییو پېړییو مقبولیت او تابعیت وروسته زامن، لمسي او کړوسي هم پیدا کړي دي، چي گرده یې زموږ د ملي ژبې ارزښتناکه لغوي زېرمه بلله کیږي؛ د مثال په ډول د « خرج » عربي ټکی، چي په پښتني چاپېر کي په « خرڅ » اوښتئ دئ؛ او د اوږدو تاریخي پړاوو تر تېرولو وروسته یې له نېکه مرغه دا دئ بچي، لمسي او کړوسي هم پیدا کړي دي: « خرڅول = فروختن »، « خرڅوونکی = فروشنده »، « خرڅیلاو / خرڅلاو = فروختن »، « خرڅه = خرچه، مصرف، هزینه »، « خرڅاوو = خراج، ولخرج، اسراف کننده »، خرڅښت، خرڅېدنگ، خرڅوَنگ، خرڅېدل، خرڅېده، خرڅگیر، خرڅون، خرڅونی یا خرڅېدونکی او داسي نور، چي هر یو یې بېله مانا او بېل مفهوم لري؛ او گرده له همدې مفغن سوي مادې ( خرڅ ) څخه را ټوکېدلي دي.

اوس نو که د « سوچه کولو » تنگ نظره او متعصب پېښه گران په خپلو جاهلانه کوښښو سره د دې مفغن یا پښتو سوي ټکي ځای د « لگښت » په اصیل یا سوچه پښتو ټکي ډک کړي، بیاخو له « خرڅ » کلیمې څخه ټول را وتلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشتقات هم د خلګو له شک او تردید سره مخامخ کيږي؛ کرار کرار له استعماله لويږي؛ او په دې توګه زموږ د خوږې ژبې لغوي زېرمې ته لوی او نه جبران کېدونکی تاوان رسيږي. عجبه خو دا ده، چې د نړۍ پرمختللي قومونه ترګرده کوښښ کيي، چې د پردو ژبو د بېلابېلو ټکو، ترکيبو او عبارتو په اخيستلو سره د خپلو ژبو لغوي ذخيره پراخه کړي؛ مګر موږ ناپوه او بې خبره پښښه ګران په لوی لاس د خپلې ژبې د ښکلي او سمسور بڼ ښايسته ګلونه او له ميوو ډکې څانګې، په تېشه غوڅوو.

هو! د «لګښت» د اصيلي او سپېڅلي پښتو کليمې کاروَنه او ترويج بايد بېله شکه ډېر نېک او ګټور کار وګڼو؛ خو نه د «خرڅ» او د هغه د مشتقاتو د نست کولو او بې رنګه کولو په بيه. د داسي مفغناتو لمن خورا پراخه ده. ګرده بايد د پښتو د اصيلو يا سوچه ټکو تر څنګ، په پراخه توګه استعمال کو؛ او تل يې د خپلې ژبې د اصلي او نه بېلېدونکي برخي په توګه وګڼو.

اما د نوو ټکو د جوړولو په اړه مهمه او اساسي پوښتنه دا ده: که پېړۍ پېړۍ مخکې په خپله ژبه کې د يوه مفهوم او مدلول د افادې د پاره ساده، اسانه او مروجه کليمه لرو، د بلې نا اشنا، زموختې او بې خونده کليمې د جوړولو اړتيا په څه کې ده؟! ماته خو په دې کار کې له بې خبرۍ او خپلسرۍ پرته بل څه نه ښکاري. دا بحث دلته پرېږدو؛ ځکه زموږ په نيولوجيزم کې د شکلي او مانوي (معنوي) کمزوريو څېړنه او سپړنه د لوی کتاب د ليکلو غوښتنه کيي، چې دا لنډه مقاله يې ځای نه دئ.

عربي«فوج» يا د هغه مفغنه بڼه (پوځ) د برش کاله د مخه په افغاني پښتو کي رواج نه وه. يوازي يې په کښته پښتنو کې د اوردو ژبې د فرهنګی نفوذ په وجه له ډېرو وختو راهيسي، په اصلي عربي بڼه (فوج) يا نيمه عربي، نيمه مفغنه بڼه (فوځ) پراخ استعمال لاره (وبر ۷۳۱).

د پاړسي ژبې په زړو متنو کې د عسکري يا پوځي اډې د پاره د «لشکرګاه» ترکيبي ټکی کار سوی دئ، چې يوه بولګه يې د هيلمند د اوسني اداري مرکز (لشکرګاه/ لښکرګاه) په تاريخي نامه کې تر اوسه هم ژوندۍ ده. لشکری بازار/ لښکري بازار، اوردو بازار او اوردوګاه (اردوګاه) د همدې مفهوم د پاره ځيني نوري مروجي کليمې دي.

له تاريخي پلوه، بوست (بُست) د غزنويانو په لويه امپراتورۍ کې دوهم لوی ښار ؤ. غزنوي پاچهانو د مجللو او شاندارو سلطنتي ماڼيو په جوړولو سره له بوست څخه د خپل ژمني تفريحي مرکز په توګه کار اخيست. د غزنوي دورې ځينو شاعرانو لکه فرخي سيستاني او عنصري بلخي ددې ښار د پرتمنيو او با صلابته وادنيو په ستاينه کې، خورا ښايسته شعرونه ويلي دي (و.ګ. د عنصري بلخي او فرخي سيتاني ديوانونه).

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوست ښار د اسلام د لومړيو فتوحاتو په زمانه کې د لښکرو استوګنځی (معسکر / لښکرکوټ) یا زموږ په اوسنۍ اصطلاح قرارګاه ؤ، ځکه يې نو د لشکرګاه یا لښکرګاه په نامه بللئ دئ. د لوی استاد - اروانباد علامه حبيبي (۱۲۸۹ش/۱۹۱۰ع - ۱۳۶۳ش/۱۹۸۴ع) په عقيده د عربانو تر راتګ او د عربي ژبې تر رواجېدو دمخه، په دري ژبه کې د عسکرو د راغونډېدو او استوګنې ځای ته «لشکرګاه» ويل کېده. لوی استاد په خپل ستر شهکار «تاریخ افغانستان بعد از اسلام» کې کښلي دي، چې د عربي ژبې «عسکر» کليمه هم د دري ژبې له «لشکر» کليمې څخه معرب سوې ده؛ او په دې توګه تر «عسکر» زړه او لرغونې ده (حبيبی، تاريخ افغانستان بعد از اسلام ۵۷۴؛ وېر ۷۱۳). «لشکرګاه» د هيواد د نامتو مؤرخ - اروانباد استاد علي احمد کهزاد (۱۲۸۲–۱۳۶۲هش) د هغه ارزښتناک علمي- تحقيقي اثر نوم دئ، چې د همدې ښار تاريخي او ادبي پېښې پکښې څېړلي سوي دي.

له بده مرغه د لشکرګاه/ لښکرګاه کليمه اوس، د پارسي او پښتو ژبو په ورځنيو محاورو او مکالمو کې، له يوه جغرافيايي نامه پرته، په خپله اصلي مانا نه استعمالېږي. د افغاني پارسۍ (دري) په رسمي او مطبوعاتي ژبه کې هم اوس د «لشکرګاه» ځای د ايرانيانو بې خونده او نا رسا ترکيبي کليمې (پايګاه) نيولــئ دئ.

د پايـګــاه (پای + ګاه) ترکيبي کلمه، لکه څنګه چې زموږ پوه او سترګه ور ليکوال - ښاغلي معروفي هم په دقت سره اشاره کړې ده، د بنسټ، بيخ، بنياد، اساس، قاعدې، کښته برخې او داسې نورو په مانا د انګرېزي ژبې د «بېس» يا نورو اوروپايي ژبود ورته کليمو هو به هو ژباړه ده، چې په پيل کې له يوناني ژبې څخه لاتيني ژبې ته ننوتې ده؛ په دولسمه مېلادي پېړۍ کې له لاتيني څخه زړې فرانسوۍ ؛ او بيا په څورلسمه ميلادي پېړۍ کې له فرانسوي ژبې څخه انګرېزي ژبې ته ننوتلې ده؛ خو د هغې عسکري يا پوځي مانا په انګرېزي ژبه کې تر(۱۸۶۰ع )کلو وروسته دود سوې ده. د زيات تفصيل دپاره، د ريښه پېژندنې د آن لاين فرهنګ، دغه لينک وګورئ:

http://www.etymonline.com/index.php?search=base&searchmode=or

د «لښکرګاه» قسماً مفغن سوې کليمه له پخوانو زمانو څخه په پښتو کې باب وه؛ او پښتانه يې په کارولو کې هيڅ ستونزه او پېچومه نه لري. د دې ترکيبي ټکي اوله برخه (لښکر) په پښتو ژبه، په تېره بيا د هغې په لوېديځه لهجه کې پراخ استعمال لري؛ او اوس د دې ژبې نه بېلېدونکې برخه بلله کيږي؛ خو د هغې دوهمه برخه ياني د «ګاه» ظرفي وروستاړی يا شاوندی د ځينو ځايو له نومو لکه «لښکر ګاه»، «قرارګاه» او نورو پرته، ډېر زيات استعمال نه لري. که په پښتو کې د «ګاه» د ظرفي وروستاړي د نه لرلو له کبله د بلې کليمې جوړولو ته اړتيا و مومو، بيا نو کولای سو د «لښکرګاه» د مفهوم او مانا بيانولو دپاره د «لښکرکوټ» له ترکيبي ټکي څخه هم کار واخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ایتیمولوژۍ له پلوه «لښکرکوټ» له دوو بېلو ټکو «لښکر» او «کوټ» څخه جوړ سوی دئ. «لښکر» د پارسي «لشکر» مفغنه بڼه او «کوټ» د کلا (قلعه)، جنګي کلا، لوړه کلا، لو (لویه) کلا یا بالاحصار، ټینګ او مزبوت مورچل په مانا په هندي، پاړسي او پښتو کي مشترک ټکی دئ، چي ریښه یې له هندي ژبي سره پیوند لري (پلاټس ۸۵۹). د «کوټ/ کوت» ټکی د پاړسي په زړو متنو کي د «کوتوال» په ترکیبي کلیمه کي ډېر لیدل کیږي، خو اوس یې ځای د عربي ژبي «قلعه»، «حصار»، «بالاحصار» او د پهلوي/ پاړسي ژبي «دژ» کلیمې نیولئ دئ. په پښتو کي د «کوټ» ټکی په ډېرو ترکیبي کلیمو او عبارتو لکه «برېښناکوټ»، «سلاح کوټ»، «شاولي کوټ»، «نادرشاه کوټ» او داسي نورو کي تر اوسه ژوندی دئ.

په لشکرګاه (لشکر + ګاه) کي لکه څنګه چي ګورو د کلیمې مانا او مفهوم له ورایه ښکاره دئ؛ کوچنی او لوی، لوستی او نالوستی ګرده په پوهېږي؛ هیڅ اضافي تشریح او توضیح ته اړتیا نه لري؛ خو «پایګاه» له بلي تکمیلي یا وصفي کلیمې پرته قطعاً د لښکرګاه یا لښکرکوټ مانا نه رسیبي. په پښتو او انګرېزي کي هم د عسکري قشلې یا لښکرکوټ په مانا د «اډې» یا «بېس» کلیمه همدا ستونزه پېښوي. هرومرو یې باید د مانا د وضاحت او تفسیر دپاره یوه بله تکمیلي یا وصفي کلیمه هم راوړل سي. که څوک په پښتو کي بې وصفي کلیمې یوازي «اډه» و وایي، نو د اروېدونکي په ذهن کي سمدلاسه د موټرانو اډه، د بګییو اډه او داسي نور مفاهیم ورګرزي. په پاړسي کي هم د بلي تکمیلي یا وصفي کلیمې له یو ځای کولو پرته د «پایګاه» په کاروَلو سره د اروېدونکي یا لوستونکي په ذهن کي د «پایګاه سیاسی»، «پایګاه مردمی» «پایګاه اجتماعی»، «پایګاه اقتصادی» او داسي نورو ماناوي او مفهومونه تېریږي.

سربېره پردې نیمګړتیا او نا رسايي، هرصفت هم د اډې عسکري یا نظامي ځانګړتیا نسي په ګوته کولای. په دې مانا چي «نوې اډه»، «زړه اډه»، «لویه اډه»، «کوچنۍ اډه»، «شمالي اډه»، «جنوبي اډه» او داسي نور عبارتونه هیڅ یو د اډې د عسکریت خصوصیت نه جوتوي. د همدې دلیل له مخي باید له اډې سره ملګری صفت خامخا د اډې لښکري یا عسکري خصوصیت ته اشاره وکي لکه: «عسکري اډه»، «پوځي اډه»، «هوايي اډه»، «استخباراتي اډه»، «پولیسي اډه» او داسي نور، که نه نو د اډې کلیمه به په یوازیتوب سره اروېدونکو یا لوستونکو ته د هغې د دقیقي مانا په موندلو کي، لوی سرخوږی پیدا کړي؛ او د فصاحت او بلاغت د اصولو پر خلاف کار دئ، چي په لغتپوهنه کي یې ښه نه ګڼي.

که څه هم په انګلیسي ژبه کي تر (۱۸۲۰ ع) کال وروسته د «بېس» کلیمې پر پخوانیو ماناوو د هغه پوځي یا عسکري مفهوم هم ور زیات سو؛ خو سره له دې هم دا کلیمه د بل وصفي یا تکمیلي ټکي له زیاتولو پرته، د مانا په پوهېدو کي ستونزه او مشکل پېښیي. د همدې التباس او سرخوږي د لیري کولو په خاطر زیاتره د یوه صفت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



زياتولو سره کارېږي لکه: «میلیټري بېس»، «آرمي بېس»، «نېوي بېس» او داسي نور او يا يې د مفهوم د ښه وضاحت او روښانولو د پاره نور مترادف او متقارب ټکي استعمالیږي، چي ځيني يې دا دي:

army base, camp, army camp, military instillation, post, barracks, headquarters, garrison, cantonment, station.

که د ايتيمولوژۍ له اړخه وګورو «پايګاه نظامی» له د دوو کاملاً بېلو کليمو څخه جوړ سوی عبارت دئ، چي اوله کليمه یاني «پايګاه» یې په خپله هم له «پای» او «ګاه» څخه جوړه سوې مرکبه کليمه ده. دا دواړي کليمې په ګډه يوازي د يوه واحد مفهوم او مانا یاني لښکرګاه يا لښکر کوټ د افادې د پاره استعماليږي. د «پايګاه نظامی» پر خلاف، «لشکرګاه/ لښکرګاه» داسي ترکيبي کليمه ده، چي له دوو برخو یاني «لشکر/ لښکر» او «ګاه» څخه جوړه سوې ده. د «لشکرګاه/ لښکرګاه» ټکی پر لنډوالي، سادګۍ او اسانۍ سربېره د مانا په لحاظ هم تر «پايګاه نظامی» يا پوځي اډې ښکلی، اسانه او پُر مانا دئ. البته «لشکرګاه» پر دې شکلي او مانوي (معنوي) فضيلت سربېره زموږ د هيواد له تاريخ او ادب سره هم نه شلېدونکی اړيکی لري؛ نو په دې وجه يې بايد د زړښت يا لرغونتوب ښېګڼه هم له پامه و نه غورځول سي. دا ټول دلايل د دې ښکارندوی دي، چي د «لشکرګاه/ لښکرګاه» د کليمو را ژوندی کول ډېر ګټور او پرځای کار دئ، چي وياړ يې بايد زموږ د محقق او مدقق همکار - ښاغلي معروفي مُسلم حق و بولو.

اما په پښتو او دري کي د عسکري قشلې، عسکري قطعې، قرارګاه، لښکرګاه، لښکر کوټ يا پوځي اډې پر ځای يو بله کليمه هم تر اوسه د خلګو په محاورو او مکالمو کي ژوندۍ ده، چي د نورو پخوانيو ټکو په شان يې بايد له ورکېدو او بې رنګه کېدو څخه وژغورو. دا د «چونۍ/ چونی/ چهاونی / چهاونۍ» کليمه ده، چي له خورا پخوا زمانو څخه پر هندي ژبه سربېره، په ډېرو نورو هندي الاصله ژبو، پښتو او دري کي هم استعماليږي. که څه هم نن سبا د افغانستان په رسمياتو کي د عسکري قشلې، عسکري قرارګاه، عسکري قطعې او ګارنيزيون اصطلاحات ډېر کارېږي؛ او زموږ د ملي ټرمينالوژۍ بڼه يې اخيستې ده؛ خو سره له هغه هم په کندهار کي له عمـــرونو راهيسي د «چونۍ» کليمه د خلګو په ورځنيو محاورو او مکالمو کي ژوندۍ ده.

زما په قاصر نظر د «چونۍ/ چونی» کليمه زموږ په پراخه سيمه او پراخو اولسو کي د عموميت، لنډوالي، سادګۍ، روانۍ او روښانه مانايا هغه څه پر بنسټ، چي ژبپوهان او لغتپوهان يې د فصاحت او بلاغت د اصولو په نامه يادوي، تر لښکرګاه، لښکر کوټ او پوځي اډې هم په زړه پوري برېښي؛ ځکه دا کليمه هم له يوې خوا زموږ په ژبه کي تاريخي ريښې لري؛ او له بلي خوا تر اوسه د عام اولس په ورځنيو خبرو کي کارېږي. د لغتپوهني اصول او قواعد هم دا حُکم کيي، که يو ټکی د دووجلا ټکو مفهوم افاده کړای سي، بيا نو دوو ټکو ترکيب ته هيڅ حاجت

(c) ketabton.com: The Digital Library



نسته. دغه راز، که له يوې ريښې څخه راوتلې ساده يا بسيطه کليمه په دوو يا درو ټکو کې بيان سوئ مفهوم، په واضح او روښانه ډېره بيان کړای سي، بيا نو له دوو ډېرو ريښو يا دوو ډېرو ټکو څخه جوړې سوې ترکيبې کليمې ته هيڅ اړتيا نسته. لنډ والی، سادګي، اساني او د مانا بشپړتيا (جامعيت او مانعيت) د نيولوجيزم تر ټولو مهم او اساسي اصول دي. ما د هرې بلې ليکنې په څېر په دې ليکنه کې هم د پښتو د لغوي زېرمې د پراخېدو او ډېراينې په هيله ټولې کليمې او ترکيبونه کارکړې دي.

## ماخذونه او سرچينې


حبيبی، عبدالحی. تاريخ افغانستان بعد از اسلام. چاپ سوم. تهران: دنيای کتاب، ۱۳۲۷.

---. تاريخ مختصر افغانستان. کابل: نشر کردهٔ د کتاب چاپولو مؤسسه به همکاری انجمن تاريخ. ۱۳۴۶.

---. جنبش مشروطيت در افغانستان. چاپ جديد. قم: کميسيون فرهنگی حزب وحدت اسلامی افغانستان، ۱۳۷۲
.

ختک، خوشحال خان. د خوشحال خان ختک کُليات. د څېړنوال محمد مؤمن پتوال، څېړنمل محمد عارف غروال او څېړنيار عبدالواجد واجد په اهتمام. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو انسټيټوټ، د ادب او فولکور څانګه، ۱۳۵۸. لومړی ټوک.

شادروان، حسن. اقبال شناسی. تهران: مرکز چاپ و نشر سازمان تبليغات اسلامی، ۱۳۷۱.

عنصری بلخی. ديوان. به کوشش دبير سياقی. چاپ دوم. ايران: ب ن. ۱۳۲۳.

غبار، مير غلام محمد. افغانستان در مسير تاريخ. چاپ چهارم. ايران: مرکز نشر انقلاب با همکاری جمهوری، ۱۳۲۸.

فرخی سيستانی، ديوان. به کوشش دبير سياقی. ايران: ب.ت.

لاهوری، علامه محمد اقبال. کليات اقبال. به اهتمام داکتر جاويد اقبال. اشاعت ششم. کراچی: شيخ غلام علی اينډ سنز پبليشرز، ۱۹۹۰.

(قانون اساسی افغانستان، ۱۳۸۲).

هوتک، محمد. پټه خزانه. به تصحيح و تحشيه و تعليق عبدالحی حبيبی. کابل: پښتو ټولنه، ۱۳۲۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Brzezinski, Zbigniew. The Grand Chessboard : American primacy and its geostrategic imperatives. New York: BasicBooks, 1997.

Cooley, J. K. Unholy Wars, 2nd edition (London: Pluto Press, 2001).

D. I. Feldman et. al. International Law. Ed. Prof. G.I. Tunkin. English translation from the Russian edited by Muran Saifulin, Cand. Sc.(Law). Moscow: Progress Publishers, 1986.

Platts, J. T. A dictionary of Urdu, classical Hindi, and English. London: W. H. Allen & Co., 1884.

Tunkin, G.I. Law and Force in the International System. Trans. from the Russian. Moscow: Progress Publishers, 1985.

Wehr, Hans. A Dictionary of Modern Written Arabic. Ed. by J. Milton Cowman, 3rd. ed. Beirut: Librairi du Liban, 1980.

Websites:
http://www.wsws.org/articles/2011/apr2011/afgh-a19.shtml
http://www.benawa.com/details.php?id=41909
http://www.surgar.net/-news-pg-Hot-News-1651.html
http://www.globalresearch.ca/index.php?context=va&aid=24444
www.reuters.com/article/idUSTRE70A3B620110111
http://www.independent.co.uk/news/world/americas/us-begins-lockerbie-compensation-transfer-
http://en.wikipedia.org/wiki/Pan_Am_Flight_103
http://www.closethebase.org/
http://people.sabanciuniv.edu/ficici/docs/20070710-Okinawa.pdf
http://www.telegraph.co.uk/news/worldnews/asia/japan/7795734/Japanese-PM-Yukio-Hatoyama-resigns-over-broken-Okinawa-base-promise.h
http://www.worldpublicopinion.org/pipa/articles/international_security_bt/579.php
http://www.fluglaerm-kl.de/dl/American_bases_in_Germany_fs.pdf

(c) ketabton.com: The Digital Library



http://www.wsws.org/articles/2003/apr2003/germ-a07.shtml
http://www.nytimes.com/1991/12/28/world/philippines-orders-us-to-leave-strategic-navy-base-at-subic-bay.html
http://en.wikipedia.org/wiki/United_States_withdrawal_from_Saudi_Arabia
http://news.bbc.co.uk/1/hi/world/middle_east/2984547.stm
http://www.foxnews.com/politics/2009/02/19/official-confirms-using-pakistan-base-launch-attacks/
http://www.timesonline.co.uk/tol/news/world/asia/article5762371.ece
http://en.wikipedia.org/wiki/Category:Military_coups_in_Turkey
http://www.historyplace.com/worldhistory/genocide/armenians.htm
http://en.wikipedia.org/wiki/Cyprus_dispute
http://www.worldpublicopinion.org/pipa/articles/international_security_bt/579.php
http://icasualties.org/oef/
http://costofwar.com/en/
http://www.fas.org/sgp/crs/natsec/RL33110.pdf
http://www.usatoday.com/news/military/2010-05-12-afghan_N.htm
http://thehill.com/blogs/blog-briefing-room/news/63121-crs-calculates-cost-of-us-troop-presen
http://www.digitaljournal.com/article/282238
http://en.wikipedia.org/wiki/Economy_of_the_People's_Republic_of_China
http://www.tradingeconomics.com/united-states/gdp-growth
http://www.foreignaffairs.com/articles/67026/robert-d-blackwill/plan-b-in-afghanistan
http://www.blogfrommiddleeast.com/?new=69848
http://afgazad.com/Siasi/081810-Dr-Aziz-Formal-Support-and-Infomral-Subversion[1].pdf
http://afgazad.com/Siasi/042511-KM-Ejaaza-ye-Lashkargaah-e-Begaana-Botlaan-e-Afghaniyat%5B2%5D.pdf
http://news.bbc.co.uk/1/hi/6965115.stm

http://articles.latimes.com/2010/oct/01/world/la-fg-1001-afghan-opium-20101001

(c) ketabton.com: The Digital Library



http://www.globalresearch.ca/index.php?context=va&aid=24697
http://www.bloomberg.com/news/2011-05-12/bin-laden-s-death-won-t-end-toll-on-taxpayers.html
http://en.wikipedia.org/wiki/Indo-Pakistani_wars_and_conflicts
http://en.wikipedia.org/wiki/Indo-Pakistani_War_of_1965
http://en.wikipedia.org/wiki/Indo-Pakistani_War_of_1971
http://en.wikipedia.org/wiki/Kargil_War
http://www.spiegel.de/international/world/0,1518,672828,00.html
http://afgazad.com/Tarixi/121808-A.A._Kohzad_Shair_Surkh_wa_Pir_Sabz[1].pdf
http://www.globalresearch.ca/index.php?context=va&aid=25089
http://en.wikipedia.org/wiki/Zbigniew_Brzezinski#Afghanistan
http://www.davidappleyard.com/japan/jp22.htm
http://nihon.awardspace.com/okinawa_sofa_crime.html
http://okinawa-island.blogspot.com/2010/01/list-of-main-crimes-committed-and.html
http://thesop.org/story/world/2010/02/03/crime-and-the-us-military-in-okinawa.php
http://en.wikipedia.org/wiki/Headscarf_controversy_in_Turkey
http://www.geopoliticalmonitor.com/opinion-us-wont-leave-afghanistan-4414/

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پای

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library